


# افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون:

## موضوعي څېړنه

وری ۱۳۹۹

شکریه آزادمنش او احسان الله غفوري

UN WOMEN

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
څېړنپاڼه

# په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي څېړنه

شکریه ازادمنش او احسان الله غفوري
وږی ۱۳۹۹

لیکوالان: شکریه ازادمنش او احسان الله غفوري

ژباړه: احسان الله ځیرک

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۵۲۳

انخور: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د خپرونې کوډ: ۲۰۱۲ پ



©۱۳۹۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوازې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری، د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو چارو دفتر او په هغوی پوری تړلی سازمانونو نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایي بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنی او ارزونی اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کی ثبت شوی ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنې ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې اداري جایزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سویدن نړیواله پراختیایي اداره (SIDA) او لاندې نور نړیوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), The Foundation to Promote Open Society (FPOS), The French Medical Institute for mother and children (FMIC), The Royal United Services Institute (RUSI), Institute for Integrated Transitions (IFIT), and UN Women.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

Prospect Think Tank Awards
WINNER
International - Social

# د لیکوال په اړه

شکریه ازادمنش د افغانستان څېړنې او ارزونې اداري سره د څېړنې آمرې په توګه دنده تر سره کوي. نوموړې د انګلیسي ژبې په ادبیاتو کې د لیسانس سند لري او وسمهال په نړیوالو اړیکو حقوقو کې د ماسټري تر کچې زده کړې پرمخ وړي. اغلې شکریه د څېړنې په برخه کښله ۲۰۰۹ زیږدیز کال را په دېخوا کار کوي. د دې ترڅنګ یې د ښځو مشرۍ ودې په پروګرام کې د همغږې کوونکې په توګه هم دنده تر سره کړې ده. شکریه د جنسیت اړوند پروژو په پرخه کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري ارتباطي شخص دی او د انتقالي عدالت، نجونو زده کړو، ماشومانو کډوالي، د زده کړو سیاسي اقتصاد او روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو اړوند موضوعاتو په برخه کې یې کار کړی دی. په دې وروستیو کې نوموړې د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو چارو دفتر په مالي ملاتړ "د سولې په پروسه کې د افغان ښځو ګډون" تر سرلیک لاندې یوه څېړنیزه مقاله لیکلې ده.

احسان الله غفوري د افغانستان له څېړنې او ارزونې اداري سره د څېړنې آمر په توګه دنده تر سره کوي. نوموړي په اسلامي شریعت کې له پېښنور څخه د لیسانس سند ترلاسه کړی او د افغانستان له څېړنې او ارزونې اداري سره له ۲۰۰۹ زیږدیز کال را په دېخوا کار کوي. نوموړی د کیفي او کمیتي څېړنو په دواړو برخو کې پراخه تجربه لري. نوموړي د څېړنې په برخه کې خپل مسلکي کار د (ActionAid Afghanistan) سره د چلند – مېتودلوژۍ په برخه کې د څېړنیز مرستیال په توګه پیل کړی او د ایډز په برخه کې یې عملي څېړنې ترسره کړې دي. نوموړي د ایډز لپاره د لوړې کچې ګوانښ ډلې ترسیم دغه راز د کابل، بلخ او تخار په ګډون په بېلا بېلو ولایتونو کې د ایډز په تړاو د دیني علماوو د پوهې لوړولو لپاره د علماوو رزونې، د ایډز په تړاو د عمومي معلوماتو وړاندې کولو، STI او نورو نړیوالو او ملي ادارو ته د وخیمو او ساري ناروغیو په ګډون بېلا بېلې څېړنې ترسره کړې دي. ښاغلي غفوري د ژوندانه تړاجیکټري په تړاو د څېړنو په برخه کې فعاله ونډه تر سره کړې ده، چې د ځایي حکومت او بیا کلیوالي حکومتونو له لوري څارل شوي دي. نوموړي د طبعي زېرمو مدیریت سکالو اړوند د اوبو مدیریت په برخه کې هم څېړنیزې همکارۍ ترسره کړي دي. د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ زیږدیز کلونو ترمنځ غفوري د خوندي ژوندانه څېړنې له کنسرسیوم ډلې سره یو ځای شو، چېرته چې نوموړي په ګڼ شمېر څېړنو کې د همکار لیکوال دنده پرمخ وړې ده. غفوري د انساني قاچاق، جنسیت، ژوندانه ارزونې او د افغانستان په کلیو او بانډو کې د نارسمي امتیاز د ونډې په ګډون له بېلا بېلو څېړنیزو پروګرامونو سره همکاري کړې ده.

# سریزه:

ډېر د خوښۍ ځای دی، چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره(AREU) خپلو درنو مخاطبینو ته یوه نوې په زړه پورې او معلوماتي څېړنه چې په افغان سوله کې د ښځو ګډون دی، وړاندې کوي: دا یوه موضوعي څېړنه ده، چې د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو چارو دفتر له لوري تمویل شوې ده. له دې څېړنې موخه دا ده څو د سولې په تړاو د افغان ښځو درک څرګند او په یاده پروسه کې د دوی ونډه راوسپړي. د دې څېړنې لپاره د سولې په پروسه کې د ښځو ونډې راسپړلو په موخه په څلورو ولایتونو کې موضوعي مطالعات ترسره شوي دي، ترڅنګ یې خنډونو، محدودیتونو او په دې برخه کې د دوی دفاع او ائتلاف رامنځ ته کولو ته هم اشاره شوې ده.

دا موضوعي څېړنه په ډاګه کوي، چې تل پاتې سوله یوازې هغه مهال شونې ده چې د سولې په پروسه کې د ښځو غږونه واورېدل شي او نظریات یې په کې شامل شي. له دې کبله د سولې په ملاتړ او د سولې په پروسه کې د ښځو ګډون له حیاتي ارزښت برخمن دی. په دې موضوعي څېړنه کې تاریخي شواهدو ته لنډه کتنه په ډاګه کوي، چې د ۱۹۹۰ او ۲۰۱۴ زیږدیز کلونو ترمنځ د ۱۳۰ په شاوخوا کې د سولې هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي، چې له دې ډلې یوازې ۱۳ هوکړه لیکونه یې داسې وو، چې ښځو یې د لاسلیک واکونه درلودل. ټول هغه هوکړه لیکونه چې ښځو په کې د لاسلیک کوونکو ونډې درلودې د هغو هوکړه لیکونو په پرتلې ډېر اوږدمهاله او تل پاتې وو، چې یوازې د سړیو له لوري لاسلیک شوي دي. پردې سربېره، د سولې په پروسو کې د ښځو ګډون د دې لامل ګرځېدلای څو د بشري حقونو، انتقالي عدالت، ملي پخلاینې د لا زیات ټینګښت او ورپسې په ځایي او ملي دواړو کچو کې د پرېکړو په ترسره کولو کې د ښځو پیاوړې ونډې لامل شي.

د دې څېړنې موندنې په ډاګه کوي، چې ښځې دې ته چمتو دي او لېوالتیا لري، چې د سولې په روانو هڅو کې ګډون وکړي. ښځې دا هیله لري، چې دوی ته یوازې په هغو ورکشاپونو او سیمینارونو کې له ګډون زیات څخه زیاته ونډه ورکړل شي، چې د ځایي او نړیوالو ادارو له لوري په لاره اچول کېږي. که څه هم یاد ورکشاپونه او روزنیز پروګرامونه د دې لپاره اړین دي، چې عامه پوهاوی او ظرفیت په کې لوړېږي، خو د مشرتابه په کچه د سولې په پروسه کې د مساوي ګډونوالو په توګه د ښځو ونډه رامحدودوي. بالاخره، تېر وخت ته په کتو د شخړو په هواري او د سولې په مذاکراتو کې د ښځو ګډون ګڼ شمېر ببلګو ته په دې څېړنه کې د ځواب ورکوونکو له لوري اشاره شوې ده.

دا څېړنه د دولتي او غیر دولتي ادارو له اړخه د سولې راوستو په هڅو کې د ښځو ګډون ته کتنه کوي. له دولتي یا حکومتي کچې دلته موخه د حکومت د سیاستونو رسمي اجزاء دي، چې د سولې عالي شورا په نوم یادیږي. نادولتي ادارې هغه شبکې او د اړیکو جالونه دي چې په ولایتي او ملي دواړو کچو د شخړو هوارې او سولې خبرو اترو لپاره جوړې شوي دي لکه جرګې او نورې هغه شوراګانې چې له حکومت سره رسمیت نه لري او د حکومت تر سیورې لاندې هم نه دي.

زیاتره ځواب ورکوونکي په دې باور دي، چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه اړینه ده، له دې کبله له حکومت او نړیوالو متحدینو غواړي چې په دې پروسه کې د ښځو له پیاوړې ونډې ډاډ ترلاسه کړي.

د سولې په نادولتي هڅو کې د ښځو ښکېلتیا ډېره اړینه ده. د سولې په اړه د ابتدایي عامه پوهاوي، د دولت له وسله والو مخالفو ډلو سره د مستقیمو خبرو اترو، د سولې لپاره د نادولتي ځایي شوراګانو جوړولو او د سولې او شخړو هوارې په هڅو کې د ښځو ګډون په شمول یو شمېر ګامونه په دې برخه کې اخېستل شوي دي. په دې څېړنه کې ځواب ویونکو هغو ببلګو او قضیو ته اشاره کړې ده، چې د شخړو په هوارې په تېره بیا د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي او کورنیو شخړو کې دښځو برخه اخېستنه په ډاګه کوي. پردې سربېره، د مدني ټولنو بسنتونو، ښځو حقونو او سولې فعالانو د سولې عالي شورا ښځینه غړو کمېټې په څېر د دولتي چارواکو ترڅنګ یو لړ ورکشاپونه، کنفرانسونه او تدافعي پروګرامونه د سولې په هڅو کې د ښځو ګډون په تړاو په لاره اچولي دي.

زه غواړم د دې راپور له لیکوالانو د لیکلو، تصحیح کوونکو د دې څېړنې لا غني کولو او له څېړونکو د ننګونو په شتون کې د څېړنو ترسره کولو په پار مننه وکړم. د دې ترڅنګ غواړم له ټولو هغو ښځینه او نارینه ځواب ورکوونکو څخه مننه وکړم، چې د خپلو خبرو او مرکو په ترڅ کې یې زموږ له څېړونکو سره دا مرسته کړې څو د دوی د ژوند او کار په تړاو دغه راز په دې اړه یو لیدلوری ترلاسه کړي، چې دوی په هېواد کې د مثبت بدلون رامنځ ته کولو په تړاو څه ډول انګېري. زه هیله لرم چې دا څېړنه به د معلوماتو او شننو یوه کره او د تکیې وړ منبع واوسي، چې له پالیسي جوړونکو سره به مرسته وکړي څو پر واقعیتونو ولاړې او داسې پالیسۍ جوړې کړي، چې په دې څېړنه کې په ګوته شوې ستونزې هوارې کړي او په ترڅ کې به یې ښځې وکولای شي څو د ملي پخلاینې په روانو هڅو کې مساوي او معنا لرونکې ونډه ترلاسه کړي.



**ډاکټره اورځلا نعمت**

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئیسه**

# د موضوعاتو لیکلړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري په اړه ..... أ
د لیکوال په اړه ..... ب
سریزه: ..... ج
تعریفونه ..... و
لنډیز ..... ز
سریزه ..... ۱
۱. میتودلوژي (د څېړنې تګلاره) ..... ۳
۱.۱ د ولایتونو او ولسوالیو غوراوی ..... ۳
۲.۱ د ځواب ورکوونکو پروفایل ..... ۳
۳.۱ محدودیتونه او ننګونې ..... ۴
۲. شالید ..... ۵
۳. له ولایتونو ترلاسه شوي موندنې ..... ۹
۱.۳ ننګرهار ..... ۹
۲.۳ بلخ ..... ۱۸
۳.۳ بامیان ..... ۲۷
۴.۳ کابل ..... ۳۳
۴. د موندنو پرتلنه ..... ۳۹
۵. پایله ..... ۴۴
۶. وړاندیزونه ..... ۴۶

# تعریفونه

| | |
|---|---|
| جرګه | جرګه یو نارسمي دودیز جوړښت دی، چې د ټولنې له سپین ږیرو او مشرانو، متنفذینو او باسواده وګړو جوړه شوې ده، او د منځګړیتوب له لارې شخړې او جګړې هواروي. |
| ننواتي | د پښېمانۍ څرګندولو او بښنې غوښتلو یوه بڼه ده یا هم د عذر او پښېمانتیا ترکیب چې په تېر کې د ترسره شویو ناقانونه یا دښمنۍ عملونو له کبله غوښتل کېږي. |
| ملک | سنتي کلیوالي مشر |
| علماء | دیني عالمان |
| مدني ټولنې | د مدني ټولنو بنسټونه، غیردولتي سازمانونه، خیریه سازمانونه، ټولنیزې ډلې، عقیدوي او مذهبي ډلې، بنسټونه، د کارګرانو اتحادیې |

# لنډيز

د افغانستان سولې پروسې په روانو هڅو کې د ښځو د ګډون موضوع له طالبانو سره په مذاکراتو کې د ښځو شتون ته د پاملرنې په تړاو د ښځو مبارزې له کبله د خبرونو په سرټکي بدله شوې ده. د دې ترڅنګ که څه هم ښځو ته د بېلګې په توګه په ۲۰۱۱ زیږدیز کال کې د سولې په عالي شورا کې د شتون له لارې د ملي پخلاینې په هڅو کې ونډه ورکړل شوې ده، خو د دوی ونډه تر ډېره سمبولیک او کمزوری ساتل شوی ده.

دا څېړنه د سولې عالي شورا له تأسیس نه تر نن پورې د ملي پخلاینو په هڅو کې د ښځو د ګډون په تړاو د خلکو لیدلوري ته کتنه کوي، دغه راز دا هم په ګوته کوي، چې یاد ګډون تر کومه بریده اړین دی. د دې ترڅنګ هغه ګامونه په ډاګه کوي، چې ښځو په دې برخه کې اخیستي دي او هغه ننګونې هم په ګوته کوي چې په دې برخه کې ښځې ورسره مخ دي.

دا موضوعي څېړنه په کابل، بامیانو، بلخ او ننګرهار ولایتونو کې له ښځو او سړیو سره د ۷۷ کیفي مرکو څخه ترلاسه شوې موندنې په ډاګه کوي. یاد ولایتونه د دې لپاره غوره شوي، څو د افغانستان قومي تنوع ته په کتو د ټولو نفوسو استازیتوب وکړای شي او ترڅنګ یې د څېړنیز ټیم په وړاندې امنیتي ملحظاتو هم په دې غوراوي کې ونډه درلوده. د هر ولایت موندنې مخکې له دې چې یوه لنډه پرتلنه وشي او په پایله کې سپارښتنې وړاندې شي، په جدا جدا ډول بیان شوي دي. پر موضوع د ژورې پوهېدنې لپاره پورته یاد شوي کیفي معلومات په دولتي او نادولتي ادارو کې د ښځو او سړیو دواړو په ګډون له کلیدي معلومات ورکوونکي سره د نیمه جوړښتیزو مرکو او ډله ییزو مباحثو له لارې راټول شوي دي. هغه ښځې چې سیاسي شالید لري او د سولې اړوند موضوعاتو په برخه کې تجربه لري، د دې څېړنه لپاره ورسره د مرکو کول اصلي موخه وه.

د دې څېړنې په ترڅ کې دا په ډاګه شوه، چې په افغانستان کې د تل پاتې سولې لپاره د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون له حیاتي ارزښت برخمن دی، او دا ارزښت له دولت او نړیوالې ټولنې په دې برخه کې ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري څو د مذاکراتو پر مېز د ښځو له ګډون د ملاتړ په برخه کې فعاله ونډه ولوبوي او د دوی پرمفهومه ګډون ته لار هواره کړي. له بېلا بېلو خلکو سره مرکو دا په ډاګه کړه، چې د سولې په برخه کې تر دې مهاله د ښځو رول تر ډېره سمبولیک دی. که څه هم ښځو د خپل فعالیت په ډګر کې د محدودیتونو لرې کولو لپاره مبتکرانه لارې چارې پیدا کړې دي. دا مبتکرانه لارې چارې د سولې په اړه د عامه پوهاوي لوړول، د حکومت له وسله والو مخالفینو سره په مستقیمو خبرو اترو کې برخه اخیستنه، د سولې لپاره د نادولتي ځایي شوراګانو رامنځ ته کول دغه راز د سولې او شخړو هواري په موضوعاتو په تېره بیا د کورنې تاوتریخوالي او ښځو په وړاندې تاوتریخوالي دغه راز نورو کورنیو ستونزو په هواري کې د ښځو ګډون په ځان کې رانغاړي. د ښځو حقونو فعالانو او د مدني ټولنې بنسټونو د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو مشارکت د پیاوړتیا په موخه ګڼ شمېر ورکشاپونه، کنفرانسونه او د دفاعیې پروګرامونه په لاره اچول شوي دي، چې د ځواب ورکوونکو له لوري د مثبتو ګامونو په توګه ترې یادونه شوې ده.

په دې څېړنه کې دغه راز دا هم په ډاګه شوې ده، چې د ښځو سیاسي ګډون په وړاندې تر ټولو عمده خنډونه د ښځو په وړاندې ټولنیز تاوتریخوالی، عقیدوي خنډونه او کلتوري ارزښتونه دي، چې ښځې یې له فعال سیاسي ګډون او ټولنیزو فعالیتونو محرومې کړې دي، سیاسي او ټولنیز جوړښتونه د سړیو له لوري رامنځ ته شوي او واکمني یې هم د دوی په لاس کې ده، چې دغه کار د ښځو ونډه تر سمبولیکې کچې راټیټه کړې ده، پردې سربېره ناامني چې ښځې له ازادانه تګ راتګ منع کوي او کلتوري خنډونه لکه د سواد ټیټه کچه اوبېوزلي هغه نور لاملونه دي، چې د ښځو فعال سیاسي ګډون په وړاندې شته دي. هغه دلایل چې د ښځو سیاسي ګډون په وړاندې کارول شوی دی، تر ډېره دیني اړخ لري، خو له دیني علماوو سره د مرکو موندنو په ډاګه کړه، چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو پر ګډون له دیني اړخه هېڅ ممنوعیت نشته.

زياتره ځواب ويونکو د ښځو حقونو او د سولې په پروسه کې د ښځو ګډون په تړاو پر طالبانو بې باوري ښودلې او وېره يې څرګنده کړې ده، دغه راز يې د نړيوالې ټولنې د ژمنتيا کمښت په تړاو هم خپلې اندېښنې په ډاګه کړي دي. د سولې لپاره ملي مشورتي جرګې په څېر د سولې په زياترو جوړښتونو کې د ښځو ګډون ته له پام پرته، ښځې لا تراوسه هم د پام وړ او معنا لرونکی ګډون نه لري، د پرېکړو واک يې کم دی او له هغه ډول حقوقو نه دي برخمنې لکه څه ډول چې سړي ترې برخمن دي.

د خلکو په منځ کې عامه باور دا دی، چې د دغه وضعيت د ښه والي لپاره مثبت ګامونه به دا وي، چې حکومت او نړيوالو ټولنه دې ته وهڅول شي څو د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو له مساوي ګډون او پرېکړې ترسره کولو له واک څخه ملاتړ وکړي. ښځې د ټولنې نيمايي نفوس جوړوي، ملي او نړيوال لوبغاړي اړتيا لري څو دا په رسميت وپېژني، چې ښځې د ټولنې لږکۍ ډله نه ده.

دا څېړنه د سولې پروسې لپاره د پاليسۍ جوړونکو او نورو ونډه والو لپاره د څېړنې د موندنو له مخې عملي او پر شواهدو ولاړ وړانديزونه او سپارښتنې وړاندې کوي.

**افغان حکومت**

- د ښځو سياسي ګډون لپاره بايد د ملي لومړيتوب پروګرام ته پام وشي، چې روښانه منابع او مالي سرچينې ولري څو هغو ننګونو ته د پای ټکی کېږدي، چې ښځې د هېواد په ټولو ولايتونو کې ورسره مخ دي؛ په ځايي او ملي کچه د ښځو سياسي ګډون پياوړی کړي او د ټولو ملي پروګرامونو په طرحه او پلي کيدو کې د ښځو معنا لرونکی ګډون له ځان سره ولري.
- حکومت بايد د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو له فعال ګډون ملاتړ وکړي، د سولې په مذاکراتي ټيم کې د ښځو ګډون له **۳۳** سلنه کم نه وي؛ دغه راز هغه مېرمنې په ياد ټيم کې وګماري، چې يوازې د ښځو حقونو په څېر د يو اړخ لپاره نه بلکې د ټولو افغانانو د حقونو لپاره ژمنتيا ولري. د ښځو حقوق هغه موضوع ده، چې په دې برخه کې بايد د ښځو او سړيو دواړو له لوري غږ پورته شي، نه دا چې يوازې د ښځو له لوري دفاع ته پرېښودل شي.
- حکومت بايد د ملي روغې جوړې په عالي شورا کې د مشرتابه تر کچې د ښځو ګډون ته زمينه مساعده کړي، چېرته چې دوی وکولای شي د پرېکړو کولو واک ولري. لږ تر لږه د يادې شورا دوه مرستيالانې بايد ښځې وي.
- حکومت بايد د سولې په پروسه کې روڼتيا ته پام وکړي او د يادې پروسې د بحث ټول اړين ټکي او اجزاء دغه راز پرمختګونه له خلکو سره شريک کړي، څو د خلکو باور پر ځان پياوړی کړي څو وکولای شي د ملي پخلاينې پروسې په وړاندې عامه افکار په خپله ګټه راوڅرخوي.

**خپلواکې نوښتګرې ښځې**

- هغه خپلواکې نوښتګرې ښځې چې د سولې او روغې‌جوړې په چارو کې فعاله ونډه لري، بايد په يوځايي ډول په يوه ملي سياسي شبکه کې د بېلابېلو ولايتونو د ښځو د يوځای‌کولو له‌پاره کار وکړي. دوی، بايد د يوې شبکې په جوړولو سره، په ولايتي او مرکزي کچه د ملي پخلاينې په هڅو کې د خپلې ونډې او ګټور ګډون له‌پاره مبارزه او لابي وکړي.
- خپلواکې نوښتګرې ښځې بايد په کابل کې له مستقرې نړيوالې ټولنې او طالبانو سره د نږدې اړيکو لرونکو هېوادونو سره پراخې اړيکې ولري، ترڅو د خبرو اترو په ګډون د سولې په بهير کې د ښځو ګټور ګډون له‌پاره مبارزه او لابي وکړي.
- د ښځو ملي سياسي شبکه بايد پروژه نه وي، بلکې بايد يوه غښتلې او پياوړې سياسي شبکه وي، ترڅو د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډه مضبوطه، رڼه او ستراتيجيکه کړي.

## مدني ټولنې

- مدني ټولنه باید خپلې هڅې متداومې وساتي ترڅو طالبانو او دولت ته د حقوقو پر سر معاملې او د اساسي قانون د مقرراتو سپکولو په ګډون د سولې په نوم د هر ډول قبیح عمل مسؤلیت ور له غاړې کړي.
- مدني ټولنه له دې پرته چې ښځې یوازې د ښځو حقوقو پورې منحصرې کړي، باید د ملي پخلاینې په هڅو کې د هغوی د ونډې او ګټور ګډون لهپاره مبارزه وکړي.
- مدني ټولنه باید په شته او نویو میکانیزمونو باندې ټینګار وکړي. دوی باید د خبرو اترو تر چتر لاندې په بېلابېلو بڼو او وړتیاوو سره د منځګړو، مرکچیانو او اهلخبره په ډول د ملي مصالحې له عالي شورا (HCNR) سره کار وکړي. ځیني ټکي چې مدني ټولنه یې لا ارزښتمنولی شي په کې بېوسلې کول، له ټولنې سره د جګړهمارو یوځای کېدل، عدالت، سیاسي ادغام، اوربند ،... شامل دي. د مدني ټولنې ونډه ددې احتمال ډېروي چې د ملي پخلاینې هڅو ته قالب جوړ کړي او هغه ګوابښونه معلوم کړي چې په هېواد کې د ښځو او نورو وګړو حقوق او د ښځو ونډه له خطر سره مخ کوي.

## نړیواله ټولنه

- نړیواله ټولنه باید دا ومني چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو استازولي کومه سرسري مسئله نه ده، باید مساوي او ګټور ګډون ولري ترڅو ښځې پرې د ستراتیجیک ارزښت اړوند هغه مسئلې، چې د ښځو چارو له محدودې اوړي؛ مدیریت کړي او دغه راز د پرېکړهکولو واک ولري.
- نړیواله ټولنه باید د سولې په بهیر کې د ښځو حقوقو او د ښځو د غړونو اورېدلو په تړاو خپل ملاتړ په څرګنده اعلان کړي. دوی باید روښانه کړي چې یوازې د هغې سولې ملاتړ کوي کومه کې چې د افغاني ټولنې ټولې خواوې شاملې وي او پیل یې له ښځو وي.
- نړیواله ټولنه باید د سولې پر پروسه د بې پرې څارنې په ګډون داسې ځانګړې تضمینونه رامنځ ته کړي، چې دا ډاډ رامنځ ته کړي، چې ښځې له یادې پروسې محرومې شوې نه دي او په دې پروسه کې معنا لرونکې ونډه لري.
- نړیواله ټولنه باید د ښځو ګډون او مساوي ونډې لهپاره لابي او دفاع وکړي او داسې بېلابېلې لارې وکاروي ترڅو ډاډمنه کړي چې ښځې په خبرو کې ګډون لري او ونډه یې ګټوره یا له معنی ډکه ده.

# سریزه

دا موضوعي څېړنه د ملګرو ملتونو سازمان د ښځو چارو دفتر له لوري تمویل شوې ده او موخه یې دا ده څو د ملي پخلاینې هڅو په تړاو د ښځو لیدلوری او په یاده پروسه کې د دوی ونډه راوسپړي. د دې څېړنې په ترڅ کې هڅه شوې څو هغه ونډه په تفصیلي توګه وڅېړل شي، چې ښځې یې د ملي روغې جوړې په پروسه کې لوبولي او یا یې نه لوبوي او دا چې ولې دا ونډه اړینه ده. موږ په یاده پروسه کې د ښځو پر ګډون رڼا اچوو ترڅنګ یې د لېږد او له سولې په وروسته پړاو[1] کې هم د ښځو پر ګډون د دولتي او نادولتي دواړو اړخونو له مخې غږېږو.

د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون او له یادې پروسې د دوی ملاتړ ډېر حیاتي دی، څو د پروسې له اغېزناک پرمخ وړلو او دوام ډاډ ترلاسه شي؛ ځکه د سولې دوام په هغو هېوادونو کې ثبات مومي چېرته چې په پروسه کې د ښځو غږ واورېدل شي او نظریات یې د سولې په پروسه کې انعکاس ومومي.[2] موندنې په ډاګه کوي چې د ۱۹۹۰ او ۲۰۱۴ زېږدیز کلونو ترمنځ په نړۍ کې د سولې ۱۳۰ هوکړې لاسلیک شوې، چې له دې ډلې یوازې په ۱۳ هوکړه لیکونو کې ښځو د لاسلیک اختیارات درلود او دا هوکړه لیکونه د هغو په پرتلې زیات پایښت لرونکي او دوامداره وو، چې د سړیو له لوري لاسلیک شوي دي.[3] پردې سربېره د سولې په پروسو کې د ښځو ښکېلتیا د بشري حقونو پیاوړي ادغام، انتقالي عدالت، ملي پخلاینې او ورپسې په ځایي او ملي کچو د پرېکړو ترسره کولو په پروسو کې د ښځو د ګډون لامل ګرځېدلې ده.[4]

د دې څېړنیز راپور موندنې په ډاګه کوي، چې ښځې لېوالتیا لري څو د ملي روغې جوړې په روانو هڅو کې ګډون وکړي او دوی په خپلو خبرو کې د هغو روزنیزو ورکشاپونو او سیمینارونو ارزښت ته اشاره کړې ده، چې د ځایي او نړیوالو ادارو له لوري په لاره اچول شوي دي. د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون پر ضد دودیز دیني منطق د ښځینه او نارینه دواړو ډلو علماوو له لوري لا زیات تر نیوکې لاندې نیول شوي دي. بلاخره، تېر ته په کتو د شخړې هوارې او سولې په مذاکراتو کې د ښځو ګډون ګڼ شمېر مواردو ته د ګډونوالو له لوري په دې راپور کې اشاره شوې ده.

دا څېړنه په دولتي او نادولتي کچه د سولې په پروسه کې د ښځو پر ګډون راڅرخي. دولتي کچه دلته د حکومت رسمي جوړښت ته چې د سولې عالي شورا ده، راجع کېږي او نادولتي هغو شبکو او د اړیکو جال ته راجع کېږي، چې په ولایتي او ملي دواړو کچو کې رامنځ ته شوي څو د شخړو په هوارې کې برخه واخلي او پر سوله خبرې وکړي، دغه جوړښتونه جرګې او نورې هغه شوراګانې دي، چې رسماً له دولت سره تړاو نه لري او نه هم په حکومتي جوړښت کې ځای لري.

زمونږ د څېړنې پوښتنو ته زیاتره ځواب ویونکي په دې باور و، چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون ډېر اړین دی، له دې کبله یې له نړیوالې ټولنې او حکومت غوښتي دي څو دوی ته په کې ونډه ورکړل شي. د دې ترڅنګ د سولې هڅو لپاره د حکومت په اډانه کې ډېر کم ګامونه اخېستل شوي. د امنیت ټېنګښت او د پرېکړو په پروسه کې د ښځو ګډون له زیاتوالي سره سره بیا هم په سیاسي پروسو او د سولې په هڅو کې د ښځو ونډه ډېره کم رنګه ده.

۱ Women's Participation in Peace Negotiation and the Durability of. ۲۰۱۸ .Jana Krause, Werner Krause , and Piee Branfoec Accessed .۲ ,۲۰۱ © Peace. Journal Article, Political Science , University of Amsterdam, Amsterdam : Taylor &Francis Group, LLC .۰۳۰۵۰۲۲۹,۲۰۱۸,۱۴۹۲۳۸۲/۱۰,۱۰۸۰ :doi: DOI .۲۰۱۹ ,۲۸ May

۲ Women Empowerment and the United Nation Peace building." Journal of Peace and" .۲۰۰۹ .GIZELIS, THEODORA-ISMENE .a۲ce۰aa۰۱۲c۴۸fff۸۲dba۷b۷۳۴c۱f۸۱۲۴۶۵۹/۸۹۲۴/doi:https://pdfs.semanticscholar.org .۲۰۱۹ November ۲۲ Accessed .۵۰۲ Research .pdf

۳ Women's Participation in Peace Negotiation and the Durability of. ۲۰۱۸ .Jana Krause, Werner Krause , and Piee Branfoec Accessed .۲ ,۲۰۱ © Peace. Journal Article, Political Science , University of Amsterdam, Amsterdam : Taylor &Francis Group, LLC .۰۳۰۵۰۲۲۹,۲۰۱۸,۱۴۹۲۳۸۲/۱۰,۱۰۸۰ :doi: DOI .۲۰۱۹ ,۲۸ May

۴ Peacebuilding Efforts of Women from Afghanistan .۲۰۱۲ .Kathleen Kuehnast, Manal Omar, Steven E. Steiner, and Hodei Sultan .۲۰۲۰ ,۰۵ and Iraq. Special Report, Washington, DC: UNITED STATES INSTITUTE of PEACE. Accessed April

د سولې په نادولتي هڅو کې د ښځو ګډون ډېر زيات اړين دی. د سولې په اړه د عامه پوهاوي لوړولو، د حکومت له مخالفينو سره د مستقيمو خبرو اترو، د سولې لپاره د نادولتي ځايي شوراګانو تشکيل او د سولې او پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډې په ګډون په تېره بيا په هغو مواردو کې ګڼ شمېر اقدامات او هڅې ترسره شوي دي، چې د ښځو په وړاندې له تاوتريخوالي او کورنيو ستونزو سره يې تړاو درلود. پردې سربېره د مدني ټولنو بنسټونو، ښځو حقونو او سولې فعالانو د سولې عالي شورا ښځينه غړو کمېټې په څېر د رسمي چارواکو ترڅنګ يو شمېر ورکشپانه، کنفرانسونه او د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو له ګډون د دفاع پروګرامونه هم په لاره اچولي دي.

ښځينه ځواب ورکوونکو د ښځو حقونو او په سياست دغه راز د دولت په نورو برخو کې د ښځو ګډون په تړاو د طالبانو پر ژمنو ناباوري ښودلې ده. دوی وېره درلوده،[5] چې خدای مه کړه ښايي له طالبانو سره د سولې په مذاکراتو کې د ځينو ملاحظاتو له مخې د دوی د حقونو پر سر چانه ووهل شي او دوی هغه سيستماتيک ظلم او بربريت ته بېرته ستانې کړي، چې حتی د طالبانو رژيم له رامنځ ته کېدو وړاندې هم ورسره مخ وې. زياترو ځواب ويونکو د طالبانو دوره د يوې تيارې دورې په نوم ياده کړې ده. دا هغه وخت و چې ښځې د ټولنې بشپړو غړو په توګه نه ګڼل کېدې او له محدوديتونو او بنديزونو په ډک چاپېريال کې يې ژوند کاوه. په ورته ډول ښځې د سولې ملي هڅو په تړاو هم شکمنې دي: دوی په دې باور دي، چې نه طالبان او نه هم نړيواله ټولنه په خپلو خبرو او ژمنو کې صادق دي. د دې ترڅنګ د مسکو غونډې، دوحې غونډې او سولې ملي مشورتي جرګې په څېر په خبرو او مذاکراتو کې د ښځو په ګډون سربېره دوی په دغو روانو هڅو کې له خپلې ونډې راضي نه ښکاري؛ ځکه د پرېکړو کولو اغېزناک واکونه نه دي ورکړل شوي او تر ټولو اړينه دا چې د خپلو سيالانو (سړيو) په څېر مساوي وزن ورته په پام کې نه دی نيول شوی. ځواب ورکوونکي په دې باور دي، چې ښځې بايد لابي وکړي: د ښځو حقونو فعالان / فعالانې غواړي چې په هر ولايت کې د ښځو يوه او متحده شبکې رامنځ ته کړي څو افغان دولت او نړيواله ټولنه دې ته وهڅوي، چې دوی ته د سولې په پروسه کې له سړيو سره د مساوي ګډون حق ورکړي، د بېلګې په توګه ځينې اجرائيوي واکونه ورکړل شي، چې وکولای شي د سولې په برخه کې پرېکړې وکړي او ځينې موارد وېټو کړای شي.

[5] Peace Training and Research Organization (PTRO), Unheard Voices: Afghan Views on the Challenges of the Peace Process, (Kabul: PTRO, ۲۰۱۲), ۳۵.

# ۱. میتودلوژي ( د څېړنې تګلاره )

په دې څېړنه کې لیکوال له کیفي مېتود څخه کار اخېستی دی، چې د ښځو او سړیو په ګډون د اړینو کلیدي معلوماتو ورکوونکي سره ژورې او نیمه جوړښتیزې مرکې شاملې دي، او له ښځو سره پر ډله ییزو مرکو تمرکز کوي. پر موضوع د لا زیات او ژور پوهېدو لپاره حساسیت او د باور جوړول د نیمه جوړښتیزو مرکو ترسره کول عمده لاملونه وو. له ښځو سره له ډله ییزو مرکو موخه دا وه څو د دې موضوع په برخه کې د دوی له اجماع او اختلافونو ډېر زیات معلومات ترلاسه شي. پردې سربېره، هغه ښځې چې په سیاست کې ښکېلې دي او د سولې په برخه کې یې اوږده تجربه درلوده د دې موضوع لپاره لومړنۍ په نښه شوې ډله وه. دې مرکو دوې بېلا بېلې برخې راسپړلي دي: په ټوله کې د ښځو سیاسي ګډون او دویم په سوله کې د ښځو ګډون.

## ۱.۱ د ولایتونو او ولسوالیو غوراوی

جغرافیاوي موقعیت، امنیتي شرایطو او تر ټولو اړینه دا چې د قومونو پېچلي جوړښت ته په کتو د دې څېړنې لپاره څلور ولایتونه غوره شوي دي: کابل، ننګرهار، بلخ او بامیان.

دا چې کابل د هېواد سیاسي پلازمېنه ده او تر ډېره له قومي تنوعٍ برخمن ولایت دی، د دې څېړنې په ترڅ کې د اړینې سیمې په توګه پېژندل شوې ده. په دې ولایت کې هغه خلک چې مرکې ورسره شوي دي، معمولاً لوړ پوړي چارواکي، د پارلمان غړي، د مدني ټولنو بنسټونو غړي او هغه خلک و، چې له نړیوالې ټولنې سره یې کار کاوه.

بل خوا ننګرهار ولایت که څه هم چې امنیتي ګواښونه په لوړه کچه دي، خو له دې کبله چې محافظه کاره او ډېره مذهبي سیمه ده دغه راز یې اوسېدونکي زیاتره پښتانه دي، غوره شوی دی.که څه هم په ننګرهار ولایت کې سیاسي ډلې یا ګوندونه شته، خو په ټولنه کې د دوی ونډه روښانه نه ده. برعکس مذهبي ډلو ته بیا په لوړه کچه درناوی کېږي او په یاد ولایت کې یې د حکومتولۍ پر ټولو اړخونو سیوری غوړولی دی. په ننګرهار ولایت کې د معلوماتو راټولولو لپاره د بهسودو ولسوالۍ غوره شوې وه، ځکه یو خو جلال آباد ښار ته نېږدې وه او بل پلو نسبتاً امن وه.

بلخ له مذهبي، قومي او سیاسي اړخه یو متنوع او له پېچلتیاوو ډک ولایت دی. د یاد ولایت سیاستونه پر ګوندونو او ډلو وېشل شوي دي، چې ښځې هم په کې فعاله ونډه لري. په همدې دلیل یاد ولایت انتخاب شوی دی څو په یاده سیمه کې د پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه راوسپړل شي. په بلخ ولایت کې مو له دهدادي ولسوالۍ خپل معلومات راټول کړي دي، ځکه یوه خوا امن وه او بله خوا مزار شریف ښار ته نېږدې وه، چې په سیاسي ګډون کې د ښځو پر ګډون خپل اغېز لري. دا ځانګړې شوې ولسوالۍ د هغو ولسوالیو له ډلې وه، چې د نجونو د ښوونځیو شمېر په تر ټولو لوړه کچه کې وو.

بامیان د مرکزي ولایتونو له ډلې دی، چې لا تراوسه هم ډېر کم پرمختګ په کې شوی او تر یوې اندازې حاشیې ته شوی دی. که څه هم د ښځو سیاسي ګډون له اړخه یاد ولایت یو څه ډېر پرمختللی دی او د حکومت لپاره د تجاربو د مرکز په توګه ترې ګټه اخېستل شوې ده، د بېلګې په توګه د افغانستان په تاریخ کې لومړنۍ ښځینه والۍ د یاد ولایت لپاره غوره شوې ده. په بامیانو ولایت کې یکاولنګ ولسوالۍ د امنیت ډاډمنتیا او نېږدې والي دواړو دلایلو پر بناء غوره شوې ده.

## ۲.۱ د ځواب ورکوونکو پروفایل

د ځواب ورکوونکو د غوره کولو پر مهال یو ژور بحث د څېړونکي ډلې له لوري ترسره شو او هوکړه په دې وشوه، چې له دولتي او نادولتي دواړو کارکوونکو سره باید مرکې ترسره شي. له دې کار موخه دا وه، څو د هغو چارو له اندازې خبر ترلاسه شي، چې دولتي او نادولتي دواړه سازمانونه یې د ولسوالۍ او ولایتونو په کچه ترسره کوي. د ځواب ورکوونکو د غوراوي لپاره څېړنیزې ډلې له انتصابي او د انتصابي او انتخابي میتوډونو له انتخابي میتوډ ګټه پورته کړې ده. په حکومتي جوړښت کې موږ هغه اداري په نښه کړې دي، چېرته چې ښځې کار کوي. خو د ټولنې په کچه مو بیا د انتصابي یا غوراوي له مخې یوازې د نمونې په راخېستلو سره مرکه کوونکي انتخاب کړي دي. د ځواب ورکوونکو د غوراوي لپاره څېړنیز ټیم موټي د خروار نمونې له بېلګې ګټه پورته کړې ده. په حکومتي جوړښت کې موږ هغه اداري چېرته چې ښځې کار کوي، په نښه کړي او مستقیماً مو لاسرسی ورته کړی دی. خو د ټولنې په کچه مو بیا د موټي خروار له نمونې ګټه پورته کړې ده.

**حکومتي کچه:** په حکومتي کچه له ښځو او سړيو دواړو سره چې په حکومت لکه پوليسو، ولايتي دفترونو، ولسواليو دفترونو، د ښځو چارو رياستونو، ولايتي شوراګانو، ښاروالیو، پوهنې رياستونو، دولتي پوهنتونونو او نورو ادارو کې کار کوي، مرکې ترسره شوي دي.

**ناحکومتي کچه:** د ناحکومتي سازمانونو د پوښښ ساحه د حکومتي په پرتلې د پام وړ ده، ځکه موږ د مدني ټولنې بنسټونو له غړو، بشري حقونو خپلواک کمېسيون غړو او کارکوونکو، څېړنيزو ادارو، خصوصي پوهنتونونو، ځايي رسنيو او د راډيو او تلويزيونونو له استازو سره مرکې کړې دي.

په ټوله کې د دې څېړنې لپاره ۷۷ مرکې او ۸ ډله ييز بحثونه ترسره شوی دی. چې له دې ډلې يې په هر ولايت کې ۲ ډله ييز بحثونو دي. د دغو مرکو او څېړنې لپاره د معلوماتو پر راټولولو د ۲۰۱۹ زيږديز کال په مې مياشت کې پيل شوی او د ۲۰۱۹ زيږديز کال په ډسمبر کې يې کار پای ته رسېدلی دی. د ډله ييزو بحثونو لپاره ښځو ته مراجعه شوې ده، چې بېلا بېل شاليدونه يې درلودل او معمولاً هغه ښځې وې، چې يا يې له حکومت يا هم مدني ټولنو بنسټونو يا هم له ناحکومتي سازمانونو سره کار کاوه.

| | نيمه جوړښتيزې مرکې | | | | ډله ييزې مرکې |
|---|---|---|---|---|---|
| | سړي | | ښځې | | |
| | حکومت | خصوصي سکتور | حکومت | خصوصي سکتور | |
| ننګرهار | ۲ | ۲ | ۸ | ۸ | ۲ |
| بلخ | ۰ | ۳ | ۹ | ۱۱ | ۲ |
| باميان | ۱ | ۳ | ۸ | ۷ | ۲ |
| کابل | ۱ | ۵ | ۷ | ۲ | ۲ |
| ټولګه | ۴ | ۱۳ | ۳۲ | ۲۸ | ۸ |
| ټولګه | ۱۷ | | ۶۰ | | |

سرچينه: ليکوال

## ۳.۱ محدوديتونه او ننګونې

د معلوماتو راټولولو پرمهال موږ له يو شمېر ننګونو سره مخ شوو. تر ټولو اړينه ننګونه يې دا وه، چې لوړپوړو چارواکو د خپلو کاري بوختياوو له کبله مرکو ترسره کولو ته وخت نه درلود؛ نورې ننګونې بيا د ولسمشريزو ټاکنو لپاره تياری، امنيتي موضوعات، د مرکې ترسره کولو په تېره بيا د ډله ييزو بحثونو لپاره د لېواله ښځو کمښت اړينې ننګونې وې.

او د حکومتي ادارو له لوري په ولايتي کچه دغه راز د لوړپوړو چارواکو له لوري د همکارۍ کمښت هغه ننګونې وې، چې موږ د دې څېړنې په ترڅ کې ورسره مخ شوي يو. د وخت په اوږدو کې په ولايتي کچه د حکومت له رياستونو ځنډول شوي همکاران او لوړپوړي چارواکي هم د معلوماتو راټولولو مهالوېش ته ورزيات شوي دي. موږ په دې وتوانېدو څو دا ننګونې د شخصي اړيکو ټينګښت دغه راز له نورو حکومتي چارواکو د غوښتنې له لارې په داسې بڼه حل کړو، چې دوی ته موږ وروپېژني څو مرکې راسره وکړي.که څه هم دا ننګونې د معلوماتو په راټولولو کې د ځنډ لامل شوې، خو د څېړنې پر کيفيت يې کومه اغېزه نه ده کړې.

# ۲. شالید

مخکې له دې چې د هر ولایت موندنو ته لاړ شو، دا اړینه ده څو پر ځینو موضوعاتو رڼا واچوو، چې د دې راپور په ترڅ کې به ډېرې ګټورې او مرستندویه وي. دا موضوعات په دوديزو پرېکړو کې د ښځو ونډه؛ د جرګو ونډه، مذهبي، سنتي او یا مذهبي استدلالونه په ورته پروسو کې دغه راز د حکومت رسمي بنسټونه لکه د ملي پخلاینې عالي شورا چې د سولې له هڅو ملاتړ کوي، په ځان کې رانغاړي.

**دودونه، مذهبي روایات او د ښځو ونډه**

ښځو عمدتاً د جرګو له لارې چې زیاتره یې د سړیو په واک کې دي، په افغانستان کې د پرېکړو په پروسو کې له تاریخي اړخه د خپلو کورنیو په ملاتړ یا نه ملاتړ په ځینو وختونو کې خپله ونډه لوبولې ده.[۶] یوه عامه بېلګه یې ننواتې ده، چې د شخړو هوارې یوه دوديزه بڼه ده. د شخړو هوارې په دې تګلاره کې د تورن یا قاتل کورنۍ د بښنې او معافي غوښتنه کوي.[۷] په دې برخه کې دوی د قاتل یا تورن د مېرمنې، مور یا هم لور په توګه خپله ونډه لوبوي. هغه درناوي ته په پام چې ښځو ته د هېواد په سنتي ټولنه کې کېږي د تورن په استازیتوب ښښنه غوښتل د دې لامل ګرځي څو د شخړو د چټکې هوارې لامل شي. له دې سره ترڅنګ په ځینو حالاتو کې ښځې د جرګو په تمرکز کې لومړیتوب لري، د بېلګې په توګه د ښځو حقونو ته د مذاکراتو په برخه کې ډېره پاملرنه کېږي.

په زیاترو ټولنو کې ښځو د شخړو په هوارې کې ډېره اړینه ونډه اداء کړې دی،[۸،۹] او د علماوو په ګډون د ټولو اړخونو له خوا د دوی نظریاتو او ګډون ته په درانه سترګه کتل کېږي. د بېلګې په توګه یوه ښکاره بېلګه چې هم په شته منابعو کې او هم د ځواب ورکوونکو په خبرو کې ترې یادونه شوې ده، د خوست ولایت اوسېدونکې اغلې مالداره ده چې په پرله پسې توګه یې خپل نارینه سیالان وننګول او دا یې ورته په ډاګه کړه، چې په جرګه کې باید د نوموړې ګډون ومنل شي.[۱۰،۱۱]

دیني منطق یوازینۍ لارې چارې دي چې په ترڅ کې یې په جرګو او د سیاسي ګډون په رسمي جوړښتونو کې د ښځو پر ښکېلتیا او ګډون د محدودیتونو او بندیزونو وضع کېدو لامل ګرځي.[۱۲] خو د ښځو او نارینه وو دواړو په ګډون له دیني علماوو سره مرکې د دې لامل ګرځي، څو دغو محدودیتونو ته د پای ټکی کېښودل شي: د دوی په وینا په دیني نصوصو کې هېڅ داسې صریح او روښانه سند نشته چې ښځې د سولې او شخړو په هوارې کې له ګډون منع کړي. برعکس دغو دیني علماوو د ښځو ونډه له هغو بېلګو یادونه کړې ده، چې د سولې په پروسه کې یې لوبولای یا یې لوبولای شي.

۶ The Tribal Security System (Arbakai) in Southeast Afghanistan." Crisis States Research" .۲۰۰۸ .Mohammad Tariq Osman http://www.lse.ac.uk/international-development/Assets/Documents/PDFs/csrc-occasional- .۲۰۱۹ ,۲۵ ۱۱ Accessed .۰۴ Center Tribal-Security-System-in-South-East-Afghanistan.pdf-papers/OP۷

۷ TOWARDS UNDERSTANDING PUKHTOON JIRGA. Case Study, Peshawar: JUST PEACE .۲۰۰۵ .Hassan M. Yousufzai &Ali Gohar .۱۹ ,۱۷ ۱۱ INTERNATIONAL. Accessed

۸ Fragility and Making Peace: Rights of Afghan Women and Peace with the Taliban. Research Report, Kabul: .۲۰۱۹ .APPRO -۲۰۱۹/۰۵/۲۰۱۹/http://appro.org.af/wp-content/uploads .۲۰۱۹ ,۱۵ ۱۱ Accessed .۴۹ ,Afghanistan Public Policy Research Organization pdf.۱-Fragility-and-Making-Peace-Rights-of-Afghan-Women-and-Peace-with-the-Taliban-۰۱-۰۵

۹ Women's Participation in Peace and Reconciliation Processes in .۲۰۱۹ .enny Lorentzen, Nana Alassane Toure Bassirou Gaye type&۸۱۲=https://www.prio.org/utility/DownloadFile.ashx?id .۲۰۱۹ ,۲۰ ۱۱ Accessed .۱۷ ,Mali. Oslo: Peace Research Institute Oslo =publicationfile

۱۰ ۱۵۰۹۲۰۱۹-UNN-WPPD-Kabul

۱۱ The Tribal Security System (Arbakai) in Southeast Afghanistan." Crisis States Research" .۲۰۰۸ .Mohammad Tariq Osman http://www.lse.ac.uk/international-development/Assets/Documents/PDFs/csrc-occasional- .۲۰۱۹ ,۲۵ ۱۱ Accessed .۰۴ Center Tribal-Security-System-in-South-East-Afghanistan.pdf-papers/OP۷

۱۲ Women's Participation in Peace and Reconciliation Processes in .۲۰۱۹ .Jenny Lorentzen, Nana Alassane Toure Bassirou Gaye type&۸۱۲=https://www.prio.org/utility/DownloadFile.ashx?id .۲۰۱۹ ,۲۰ ۱۱ Accessed .۱۷ ,Mali. Oslo: Peace Research Institute Oslo =publicationfile

یوه بېلګه چې په اسلامي متونو کې راغلې ده، د حديبيې د سولې له تړون وروسته هغه مهال چې پېغمبر اکرم محمد (ص) خپلو اصحابو ته امر وکړ چې خپل ويښتان وخريي او يو يو څاروی هم قرباني کړي، مګر دوی د دغه امر په منلو کې زړه نازړه وو. ام سلمه رض د محمد(ص) مېرمن حضرت محمد (ص) ته وويل چې د امر کولو پرځای خپله الګو وګرځي او لومړی دې نوموړی دا کار ترسره کړي. حضرت محمد (ص) همداسې وکړل، او له هغه مبارک وروسته اصحابو هم خپل ويښتان وخريبل او څاروي يې قرباني کړل.[۱۳] دا بېلګه د نورو بېلګو ترڅنګ په ډاګه کوي، چې حضرت محمد ص خپلو مېرمنو ته څومره درناوی درلود. د دوی ونډه زياتره مشورتي يا هم مثبت نفوذ دی، چې د مور، مېرمنې يا لور په توګه يې اداء کړی دی.

دا بېلګه په اسلامي متونو کې د ښځو ونډې په تړاو پراخو اسنادو ته اشاره کوي، او د هغو ديني علماوو له لوري هم تاييد شوي، چې زموږ له لوري ورسره مرکې شوي دي: په دين کې هېڅ داسې څه نشته چې مېرمنې يوازې په کور پورې محدودې کړي، خو په باندنيو فعاليتونو کې د محدوديتونو په تړاو تر ټولو ډېر کارېدونکي دلايل له ځان سره لري.

ښځې د ملي روغې جوړې په پروګرام کې ونډه لري، خو د نورو سيمو په څېر د دوی ونډه معمولاً سمبوليکه ده. په زياترو ځايونو کې ښځې د ټولنې پراختيايي شوراګانو د غړو په توګه ټاکل شوې دي، خو په پرېکړو کې هېڅ ډول واکمنه ونډه نه لري.[۱۴] په ځينو حالاتو کې ښځې کولای شي اړينه ونډه اداء کړي په دې شرط چې دوی د ټولنې پراختيايي شورا له نارينه مشر يا هم په کليو کې له مشرانو او متنفذينو سره نېږدې تړاو ولري. له دې کبله زياترو ښځو د خپلو مرکو پرمهال د کليو په پراختيايي شوراګانو کې له خپلې ونډې نارضايتي ښودلې ده. د دې ترڅنګ منابعو ته محدود لاسرسی او د ښځو پراختيايي شوراګانو يا هغه شوراګانې چې مشري يې د ښځو تر غاړې ده، د فساد مواردو له کبله په خپلو ټولنو کې د پراختيايي پروژو په پرمخ وړلو کې پاتې راغلي دي.[۱۵]

## د سولې لپاره د افغان دولت اداري

اسلامي متونو، دوديزو کړنو او د ملګرو ملتونو سازمان امنيت شورا **۱۳۲۵** ګڼه پرېکړه ليک په څېر نړيوالو لارښودونو ته په پام د افغانستان حکومت له **۲۰۱۵** تر **۲۰۲۲** زيږديز کلونو پورې د ملي اقدام پلان چمتو کړی دی: افغان حکومت دې ته ژمن دی څو د پرېکړو ترسره کولو په ټولو کچو کې د ښځو له استازولۍ او ګډون ډاډ ترلاسه کړي، په تېره بيا په **۳۴** ولايتونو کې د ملي روغې جوړې په هڅو کې د ښځو پر ونډې ډېر تمرکز لري او دا مني چې په افغانستان کې تل پاتې سوله او ثبات په سياسي او ټولنيز ژوند کې د ښځو ګډون ته اړتيا لري.[۱۶] افغان دولت د ښځو حقونو ته خپله ژمنتيا ښودلې ده او دوی ته يې زمينه مساعده کړې ده څو په عامه او سياسي چارو کې په فعالانه توګه برخه واخلي. خو دې ژمنتيا د سولې په برخه کې په وروستيو هڅو کې انعکاس نه دی موندلای.

له سولې د ملاتړ مېکانېزمونو په برخه کې افغان دولت په **۲۰۱۱** زيږديز کال کې په **۳۴** ولايتونو کې د فعالو دفترونو په لرلو سره د سولې عالي شورا رامنځ ته کړه. د يادې شورا له رامنځ ته کولو موخه دا وه څو د حکومت مخالفين د سولې له پروسې سره يو ځای کړي. تر دې مهاله د سولې عالي شورا غړو له ګڼ شمېر مجاهدينو ( د شوروي اتحاد ځواکونو په وړاندې جنګېدونکو جنيګاليو )، علماوو او ښځو سره ليدنې کړې دي. د سولې عالي شورا د راپورونو له مخې يادې شورا ګڼ شمېر داسې پروګرامونه په لاره اچولي، چې د ښځو پر ونډې تمرکز کوي او دا چې د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډه څه ډول پياوړی شي.[۱۷] مګر د سولې عالي شورا له کړنو د خلکو نارضايتۍ او له حکومت سره د همغږۍ کموالي له کبله ولسمشر د سولې عالي شورا دارلانشاء د يو فرمان له مخې لغوه کړه او ټول واکونه يې په **۲۰۱۹** زيږديز کال کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت ته وسپارل.[۱۸]

د ملي پخلاينې اوسنيو هڅو تمرکز پر طالبانو دی، نه د حکومت پر کومې مخالفې وسله والې ډلې. د اسلامي دولت ډلې خراسان څانګه (داعش) په دې پروسه کې نه ده ښکېله، له دې کبله چې ياده ډله د سولې او پخلاينې په پروسه کې د ګډون لېوالتيا نه لري، په نړيواله کچه تر بنديزونو لاندې وسله واله ډله ده دغه راز حکومت هم دوی ته د يوې اغېزناکې مخالفې ډلې په سترګه نه ګوري، نو د سولې له روانې پروسې محرومه شوې ده.

۱۳ Rahman, Gawhar. ۱۹۸۰. Politics in Islam. Mardan: Tafhimul Quran. Accessed ۲۲۱۰, ۲۰۱۹. https://www.ketabton.com/bookfile/۸۲۵.

۱۴ Ganesh at, Dr. Lena AREU. ۲۰۱۲. Women's Economic Empowerment in Afghanistan, ۲۰۰۲ - ۲۰۱۲. Situational Analysis, Kabul: AREU.

۱۵ Echavez, Chona R AREU. ۲۰۱۲. Does Women's Participation in the National Solidarity Programme Make a Difference in their Lives? A Case Study in Kabul Province. Case study, Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit.

۱۶ -د افغانستان ملي اقدام پلان د **۲۰۱۵** مېلادي کال د جولای مياشت.

۱۷ High Peace Council. ۲۰۱۷. Bimonthly Report Sep ۲۰th Nov-۳۰th ۲۰۱۷. Activities Report, Kabul: Executive Secretariat for Peace and Reconciliation Process.

۱۸ Tolonews. ۲۰۱۹. July ۲۷. Tolonews. Accessed ۱۱ ۱۷, ۲۰۱۹. https://tolonews.com/afghanistan/president-ghani-dissolves-high-peace-council.

**د سولې خبرو اترو تازه حال**

په مخکنیو برخو کې د ملي پخلاینې د هڅو په توګه د اخیستل شوو ګامونو په اړه خبرې اترې وشوې. مخکې له دې چې د حکومت د سولې په مذاکراتي جوړښت کې لوی تغییرات راشي، ډیټا په ۲۰۱۹ز. کال کې راټوله شوې وه. د ۲۰۲۰ز. کال په مې کې، د یوه سیاسي تړون په ترڅ کې، چې ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله لاسلیک کړی و؛ د ملي مصالحې عالي شورا رامنځته شوه. ډاکټر عبدالله ددې شورا مشری ته وټاکل شو. دا شورا به پنځه مرستیالان ولري، دوه نارینه دي او درې نور به وروسته وټاکل کېږي.[19] د ملي مصالحې عالي شورا د یوه سیاسي توافق زېږنده ده او داسې یوه اداره ده چې د «ثبات او همپالنې» سیاسي ډلې جوړه کړې او نور سیاسي ګوندونه په کې دخیل دي. یوه سیاستواله چې د ښځو حقوقو فعاله هم ده، د ملي مصالحې عالي شورا په اړه وایي:

> دا یو پلان و، یو کال مخکې ډاکټر عبدالله، ولسمشر ته وړاندیز وکړ چې د ملي روغې جوړې شورا دې جوړه کړي ترڅو ټول قومي مشران، د پخوانیو جهادي ګوندونو مشران او د ټولنې ځینې نور مخور دې یې غړیتوب ولري. په هغه وخت کې، د سیاسي ستونزو له کبله، دا وړاندیز رد شو. کله چې پلان رد شو، دولت د سولې مشورتي لویه‌جرګه راوبلله او د همدې لویې جرګې په وړاندیز یې د سولې دولتي وزارت رامنځته کړ. لکه څرنګه چې پوهېږئ، روانو سیاسي ستونزو بین‌الافغاني خبرې اترې له یوه کړکېچ (بنبست) سره مخ کړې وې، نو بالاخره، د ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ له تړون وروسته د ملي مصالحې عالي شورا رامنځته شوه.[20]

یوه بله سیاستواله وایي:

> د ملي مصالحې عالي شورا، چې ډاکټر عبدالله عبدالله به یې مشري کوي، مشورتي رول لري. دا شورا به مذاکراتي پلاوي ته له طالبانو سره د خبرو سلا ورکوي. دا په دې معنی، چې د مصالحې عالي شورا به مذاکراتي پلاوي ته د خبرو اترو سرېکرښې په ګوته کوي.[21]

د ملي مصالحې عالي شورا جوړښت، موخو او مسؤلیتونو ته په کتو په دې شورا کې د ښځو رول په اړه پوښتنې راولاړېږي. دا چې په دې شورا کې ټولې سیاسي جهادي ډلې راټولې شوي دي، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د رول او ګډون په اړه اندېښنې راولاړوي. له هغه ځایه چې ټول سیاسي ګوندونه سړي اداره کوي، یوه سیاستواله او ښځو حقوقو فعاله خپل نظر داسې بیانوي:

> داسې ښکاري چې د واک د وېش په سر ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله جوړښت نه لري او په سوله کې د ښځو ونډه د دوی لومړیتوب نه دی. د دواړو خواوو اصلي تمرکز په قومي، سمتي او سیاسي ګډون دی. که دوی په نوموړې شورا کې یوه ښځه په کلیدي پوستې وګماري، دا به د پورته ملاحظاتو پر بنسټ وي، نه دا چې په سوله کې د ښځو د ونډې پر بنسټ.[22]

یوه بله سیاستواله زیاتوي:

> دا چې افغانستان دودیزه (سنتي) ټولنه لري او د ټولو سیاسي ګوندونو مشران سړي دي، دا د ښځو رول راکموي. که څه هم ښځې لابي کوي او هڅه کوي چې ولسمشر لږ تر لږه د ملي مصالحې عالي شورا لەپاره دوه مرستیالانې وګماري، خو زه په دې تړاو خوښمنه (خوشبینه) نه یم. ښايي یوه یې ښځه وي. خو تراوسه لا څرګنده نه ده.[23]

---

۱۹ https://8am.af/the-full-text-of-the-rich-political-agreement-between-ghani-and-abdullah/

۲۰ مرکه، کابل--WPPD-UNW-۱۱۰۲۲۰۲۰

۲۱ مرکه، کابل--WPPD-UNW-۱۳۰۲۲۰۲۰

۲۲ مرکه، کابل--WPPD-UNW-۱۱۰۲۲۰۲۰

۲۳ مرکه، کابل--WPPD-UNW-۱۳۰۲۲۰۲۰

یو پخواني پارلماني نوماند وايي چې د ملي مصالحې عالي شورا کې د خپل رول په تړاو ښځې ځیني اندېښنې لري:

> ښځې د سولې په بهیر کې رول لري، خو دا رول یې ګټور نه دی. د ملي مصالحې عالي شورا په اړه زموږ نیوکه داده چې باید دوه مرستیالان یې ښځې وي. لکه څرنګه چې وینو د ډاکټر عبدالله دوه مرستیالان نارینه دي او داسې ښکاري چې ولسمشر غني به هم درې نارینه مرستیالان ورمعرفي کړي. له رسنیو لکه بي بي سي څخه د ترلاسه کړو معلوماتو پر بنسټ، زه پوهېږم چې په جګړه کې ښکېل کسان لکه حکمتیار او نور د ملي مصالحې عالي شورا غړي دي. تر اوسه پورې، موږ د ښځو او د جګړې قربانیانو (مدني ټولنې) استازي نه دي کتلي. موږ په دې اړه اندېښمن یو. دې موږ خواشیني کړي یو. یوازې دومره ویل شوي چې ښځې او ځوانان به د روغې جوړې برخه وي، خو اندازه یې نه ده ذکر شوې.[۲۴]

د ملي مصالحې په عالي شورا د سیاسي ګوندونو پیاوړي اغیز، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه کم رنګه کړې ده. د دغه تړون باور د اوسني حکومت تر پای پورې دی.[۲۵]

د ښځو په اړه د طالبانو لیډلوری بله اندېښنه ده. په نیویارک ټایمز[۳۶]، کې د سراج‌الدین حقاني د خپرې شوې لیکنې پر بنسټ، طالبان د ښځو له قانوني، ټولنیز او سیاسي ونډه سره علاقه نه لري. لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، حقاني د ښځو حقوقو په اړه بشپړ ناڅرګند (مبهم) لیکل کړي و.[۳۷] دا حالت سولې ته ډېر کوچنی تعریف ورکوي «د جګړې پای» او سوله د داسې وضعیت په څېر نه پېژني چې ښځې په کې خپلو ټولو قانوني، ټولنیزو او سیاسي حقوقو ته لاسرسی ولري.

د ښځو حقوقو په تړاو د حکومت ناڅرګند دریځ او د طالبانو له لوري ورته په ټیټه سترګه کتل، د ښځو حقوقو د فعالانو اندېښنه ډېره کړې چې ګواکې د دوی حقوق به د سولې تر نوم لاندې د مصلحت ښکار شي. یوې فعالې، ښځینه حقوقو ته د بې‌اعتنایۍ دې حالت په اړه خپل نظر داسې ورکړ:

> دغه حالت موږ وارخطا کړي یو، ځکه متحده ایالات په افغانستان کې نور د ښځو حقوقو په اړه علاقه نه لري. نو موږ باید خپله ستراتیژي ولرو، یو به په حکومت کې د سرپو ملاتړ ترلاسه کړو او بل ښځې باید له ټول هېواد څخه راټولې او په ملي روغه‌جوړه کې د ښځو فعال ګډون لپاره خوځښت او مبارزه پیل کړو. موږ دې حرکت ته اړتیا لرو، ځکه ځیني خلک باور لري چې د ښځو ګډون او ښځو د حقوقو لپاره مبارزه په ښارونو کې د یو څو ښځو غوښتنه ده، خو زه باور لرم چې د هېواد د هر ګوټ ښځې غواړي او خوښوي چې په سولییز چاپیریال کې مساوي حقوق ولري. د ښځو خوځښت او مبارزه به په حکومت فشار راوړي او زه ډاډمنه یم چې ډېره اغېزه به ولري. موږ ښځې په ولسمشر غني غږ کوو چې د ملي مصالحې عالي شورا له پنځو مرستیالانو دوه هغه یې ښځې وټاکي.[۲۸]

په لنډو ټکو، د ښځو د حقوقو فعالانې او سیاستوالې په دې باور دي چې خوځښت او مبارزه د ملي مصالحې په عالي شورا کې د ښځو فعال او ګټور ګډون په تړاو د ملي او نړیوالو لوبغاړو د پاملرنې راړولو یوه تر ټولو اغېزمنه لاره ده. په دې وروستیو کې، د افغان ښځو شبکې د نړیوالې ټولنې پنځو ښځینه مشرانو ته یو پرانیستی لیک استولی دی. لیک د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو لپاره شته فرصتونه څېړلي و او په دې یې زور راوړی و چې ښځې باید مساوي حق ولري ترڅو خبرې وکړي او فعالې وي او ګټور ګډون ولري او همدارنګه ټینګار یې درلود چې د سولې په تړاو د ښځو حقوقو اړوند وېره مخ په کمېدو ده.

۲۴ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۱۲۰۲۲۰۲۰

۲۵ https://8am.af/the-full-text-of-the-rich-political-agreement-between-ghani-and-abdullah/

۳۶ حقاني، سراج‌الدین. ۲۰۲۰، د مارچ ۲۰مه. نیویارک ټایمز. د لاسرسي نېټه: د جون ۲۲، ۲۰۲۰. پته https://www.nytimes.com/2020/02/20/opinion/taliban-afghanistan-war-haqqani.html

۳۷ حقاني، سراج‌الدین. ۲۰۲۰، د مارچ ۲۰مه. نیویارک ټایمز. د لاسرسي نېټه: د جون ۲۲، ۲۰۲۰. پته https://www.nytimes.com/2020/02/20/opinion/taliban-afghanistan-war-haqqani.html

۲۸ مرکه، کابل-UNW-WPPD-۱۳۰۲۲۰۲۰

# ۳. له ولایتونو ترلاسه شوي موندنې

## ۱.۳ ننګرهار

ننګرهار ولایت په افغانستان کې د لرغونو سپېڅلو ځایونو له ډلې دې او افغانستان ته د بودایي دین له راتګ تر دې مهاله د ډېر زیات مذهبي ولایت په توګه ګڼل کېږي. په **۱۵۰۷** زیږدیز کال کې له خپل تأسیس وخت راوروسته د مغولي امپراتورۍ لپاره د سوداګریزې لارې او د درانې امپراتورۍ لپاره د هندوستان په وړاندې د نظامي مرکز په توګه له غني کلتور او هنر برخمن دی، چې د ډېرو ګرځندویانو پام یې ځان ته اړولی دی. په دې وروستیو کلونو کې د اسلامي دولت ډلې(داعش) د خراسان څانګې په راڅرګندېدو سره د سولې او ځايي شخړو هڅې له پېچلتیا سره مخ شوي دي، که څه هم په دې وروستیو کې د یادې ډلې نفوذ په ننګرهار ولایت کې تر ډېره بریده راکم شوی دی.

د مذهبي مخینې د دغه اوږدو تاریخ لرلو له کبله په یاد ولایت کې دیني عالمان ډېره واکمني لري. دیني مشران یوازې سړي نه دي، بلکې په سلګونه ښځینه هم شته، چې دیني زده کړې لري. د پژواک خبري اژانس د راپور له مخې په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۲۰۰ ښځې د ننګرهار ولایت د پوهنتون په بېلا بېلو پوهنځیو کې په زه کړو بوختې وې.[29] د ښځو له لوري له زده کړو سره لېوالتیا یوازې تر شرعیاتو پورې محدوده نه ده: په ننګرهار کې په ښوونځیو کې د نجونو شمېر ډېر د پام وړ دی، په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې نېږدې **۲۳۲،۲۵۷** نجونې په ښوونځیو کې شاملې شوي دي، چې د ټولو **۳۲** سلنه جوړوي.[30]

له بلې خوا په یاد ولایت کې د ښځو رسمي سیاسي ګډون ډېر محدود دی. په ټوله کې په سیاسي او اقتصادي فعالیتونو کې ښځې تر ډېره ښکېلې نه دي، یوازې د یو څو کسانو په استثناء لکه انګېزه شینواري چې د ولایتي شورا غړې وه، او د ښځو حقوقو او ښځو اړوند موضوعاتو لپاره یې کمپاین کاوه، خو په **۲۰۱۵** زیږدیز کال کې د وسله والو له لوري ترور شوه؛ یا هم امینه چې د ننګرهار پوهنتون استاده او د ولایتي شورا غړې ده او د ښځو حقونو پیاوړې مدافع ده ترڅنګ یې د ننګرهار په سیاستونو کې متحرک او پیاوړی ونډه اداء کړې دی.[31] که څه هم په رسمي سیاسي ګډون کې د ښځو ونډه کمه ده، خو بیا هم د سولې په ناحکومتي مذاکراتو کې شتون لري. په تېرو وختونو کې ښځو په ګڼ شمېر مواردو کې د وروستي پرېکړه کوونکي ونډه اداء کړې دی او دواړه خواوې یې دې ته قانع کړې او متعهدې کړي څو وروستۍ پرېکړه یې ومني.[32] په دودیزه توګه ښځې د سولې په ناحکومتي هڅو کې ونډه درلودې ده، که څه هم محدودې دی.

په دې برخه کې د سولې هڅو په تړاو د خلکو انګېرنې ترڅنګ په ننګرهار ولایت کې زموږ موندنې په تفصیل بیان شوي دي.

**د سولې تعریف**

د تاریخ په اوږدو په ننګرهار کې زیاتې جګړې شوي دي. که څه هم دا خبره سمه ده چې ځینې خلک په تېره بیا متنفذین او واک لرونکي اشخاص له روانې جګړې ګټه ترلاسه کوي، مګر د عادي وګړو او حکومت لپاره سوله یو لومړیتوب دی. په پایله کې د سولې پخوانۍ عالي شورا له لارې د حکومت دغه راز د سولې ځایي شوراګانو له لارې د ناحکومتي ادارو له لوري ترسره کېدې څو ننګرهار ولایت ټیکاو ترلاسه او امن شي. د سولې ځایي شوراګانې د ځایي شخړو هواري معمول دودیز جوړښتونه دي، په یادو شوراګانو کې بیا هم واکمني د دیني علماوو ده.

د دې څېړنې لپاره د معلوماتو راټولولو پرمهال هېڅ واحد تعریف نه و موجود او ښځو او سړیو هر یو بېلا بېل تعریفونه او درک په دې اړه درلودل:

> په یو داسې چاپېریال کې ژوند کول چېرته چې خلک روغتیا ولري، زده کړو او دندو ته لاسرسی ولري، دغه راز یو داسې چاپېریال موجود وي، چې هېڅ ځانمرګی برید نه وي او خلک اندېښنه او وېره ونه لري ترڅنګ یې بېوزلي ختمه شي، داسې ډول چاپېریال ته سوله ییز چاپېریال ویل کېږي او دې ته په ورته مهال کې سوله هم ویل کېدای شي.[33]

---

[29] https://www.pajhwok.com/en/۲۰۱۸/۰۳/۲۹/number-girl-student-surges-nangarhar-university

[30] Afghanistan-Statistical-Yearbook-۲۰۱۸-۱۹

[31] Jackson, Ashley. ۲۰۱۴. Politics and Governance in Afghanistan: the Case of Nangarhar Province. Case study, London: Secure Livelihoods Research Consortium Overseas Development Institute. Accessed ۱۱ ۱۷, ۲۰۱۹. https://www.refworld.org/pdfid/۵۳a۷d۲c۳۴.pdf.

[32] Hassan M. Yousufzai &Ali Gohar. ۲۰۰۵. TOWARDS UNDERSTANDING PUKHTOON JIRGA. Case Study, Peshawar: JUST PEACE INTERNATIONAL. Accessed ۱۱ ۱۷, ۱۹.

[33] Jalalabad-WPPD-UNW-۲۴۰۲۲۰۱۹

> کله چې هرڅوک وکولای شي له ټولو خدمتونو او حقوقو برخمن شي، دې ته سوله ویل کېدای شي.[۳۴]

> سوله داسې څه دي، چې په ټول هېواد کې خلک په ارامۍ کې ژوند وکړي. ښځې باید خپل حقوق ولري، د زده کړو له حق برخمنې وي او د خپلې خوښې لباس واغوندي او د سړیو په څېر پارکونو او هرځای ته د مېلې لپاره لاړې شي.[۳۵]

هغه موضوعات چې په تکراري ډول د سولې په تعریف کې ورته اشاره شوې ده، د ښځو حقوق، د جګړې نه شتون، د کار حق، زده کړو ته لاسرسی، وده او د بېوزلۍ ختمول وو. نور موارد چې د سولې په تعریف کې ترې یادونه شوې ده د سوکالۍ او ارامتیا موجودیت، په خپله خوښه د لباس اغوښتل، پارکونو ته د مېلو او بازارونو ته د سودا لپاره له کومې وېر پرته تګ موضوعات دي. له دې تعریفونو داسې معلومېږي، چې یوازې د تاوتریخوالي کمښت او د ځانمرګو بریدونو نه شتون د سولې په معنا نه شي تعبیر کېدای: سړي او ښځې دواړه اړتیا لري، څو له خپلو حقونو برخمن شي.

## د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه

په ننګرهار ولایت کې د څېړنې لپاره له راټولو شویو معلوماتو داسې معلومېږي، چې ښځې غواړي د پخلاینې په هڅو کې ګډون ولري. که څه هم د سولې په عالي شورا کې یو شمېر ښځینه غړې شته، خو د دوی ونډه یوازې سمبولیکه ده. له دې کبله هغه ښځینه ځواب ورکوونکې چې د مدني ټولنو په بنسټونو یا نورو برخو کې کار کوي، ټینګار یې پردې دی چې ښځې باید د پخلاینې په هڅو کې مستقیمه لاسوهنه ولري.

> مېرمنې باید د سولې په پروسه کې ونډه واخلي او د پخلاینې په هڅو کې مستقیم دخالت ولري. زما له نظره سړي باید د ښځو حقونو لپاره مبارزه ونه کړي او سړي باید ښځو ته دا فرصت ورکړي څو د پخلاینې په هڅو کې ګډون وکړي او خپل حقوق ترلاسه کړي.[۳۶]

> ما د پخلاینې په دې هڅو کې د ښځو پام وړ ونډې نه دی لیدلی، له دې کبله موږ ډېره هیله مندي نه لرو. دویم دا چې د پخلاینې په هڅو کې موږ هغسې رول نه درلود، چې اړتیا وه. هغه ښځې چې د سولې مذاکراتو غونډو ته هم تللې وې، نقش یې یوازې سمبولیک و. نو موږ په داسې غونډو کې د ګډون لېوالتیا نه لرو. [۳۷]

په ورته ډول له دیني اړخه هم یو شمېر ښځو او سړیو د هغه حقیقت په تړاو خبرې کړې دي، چې له مخې یې دوی خپل ځانونه د پخلاینې په هڅو کې د ونډې اخیستو مستحق ګڼي. دوی ګڼ شمېر هغو تاریخي بېلګو ته اشاره کړې ده، په کومو کې چې ښځو د پخلاینو په هڅو کې مستقیم ملاتړی رول درلود.[۳۸] زیاتره ځواب ورکوونکي په دې اند وو، چې د سولې په مذاکراتو او هڅو کې د ښځو پر ګډون باید کوم محدودیت نه وي. پردې سربېره، دوی ویلي دي، چې کلتور او عرف هم ښځو ته اجازه ورکړې څو دپخلاینې په حکومتي او ناحکومتي دواړو هڅو کې برخه واخلي؛ خو په عمل کې بیا خبره له هغه څه سره زیات توپیر لري، کوم څه چې موږ ته ځواب ویونکو د خپلو مرکو په ترڅ کې د ملي پخلاینو په هڅو کې د ښځو رول په اړه څرګند کړي دي. له دې کبله شعار په عمل کې نه دی پلی شوی، کوم چې کولای شي د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو له کمې او معنا لرونکي ونډې سره مرسته وکړي.

> مګر ښځې دا حق لري، چې په مذاکراتو کې برخه واخلي. موږ په اسلامي تاریخ کې هم داسې ګڼ شمېر بېلګې لرو، چې ښځو د پخلاینې په هڅو کې د ملاتړو ونډه اداء کړې یا دا چې دوی په خپله د پروسه برخه وې. نو له دیني اړخه هم ښځې کولای شي د پخلاینې هڅو برخه واوسي، او په دې برخه کې پر دوی هېڅ راز محدودیت نشته. [۳۹]

---

۳۴ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۵۰۲۲۰۱۹

۳۵ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۸۰۲۲۰۱۹

۳۶ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۸۰۲۲۰۱۹

۳۷ UNW-WPPD-Jalalabad-۲۴۰۲۲۰۱۹

۳۸ Rahman, Gawhar. ۱۹۸۰. Politics in Islam. Mardan: Tafhimul Quran. Accessed ۱۰ ,۲۲ ۲۰۱۹. https://www.ketabton.com/bookfile/۸۲۵.

۳۹ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۲۰۲۲۰۱۹

د پخلاينو په هڅو کې د ښځو اړيني ونډې لپاره، د ځينو ښځو غوښتنه دا وه، چې حکومت او نړيواله ټولنه بايد دوی ته د سولې او پخلاينې په پروسه کې ونډه ورکړي. ځينې وړ او په شرايطو برابرې ښځې کولای شي د سولې او ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو نسبتاً غوره استازيتوب وکړي او زياترو مېرمنو په دې ټينګار درلود چې بايد ښځې په ياده پروسه کې ګډون ولري، ځکه د سړيو له استازيتوب يې وېره درلوده. حتی که چېرې ښځو ته په لوړ پوړي کچه ونډه هم ورکړل شي، بيا هم دوی د پرېکړې کولو پرمهال حاشيې ته کېدلای شي، ښه بېلګه يې حبيبه سرابي ده، چې له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۷ زيږديز کال پورې يې د سولې عالي شورا د مرستيالۍ مقام پرغاړه درلود، مګر هېڅکله يې په هغو پرېکړو کې رول نه درلود، چې د يادې شورا له لوري ترسره کېدې، ځکه پرېکړې له وړاندې د نوموړې نارينه سيالانو له لوري ترسره کېدې.[40] دا بېلګه د کابل ولايت په برخه کې په تفصيل بيان شوې ده.

> موږ بايد ښځو ته زمينه مساعده کړو، څو د پخلاينې په هڅو کې برخه واخلي، موږ ګڼ شمېر داسې وړ ښځې په ټولنه کې لرو، چې کولای شي د پخلاينې په هڅو کې په ښه توګه د ښځو استازيتوب وکړي. يو ځل چې ښځو ته د ملي پخلاينې په هڅو کې ونډه ورکړل شي، نو زه باوري يم چې موږ يوې هوکړې ته رسېدلای شو. که چېرې بشپړه سوله نه وي، لږ تر لږه چې اوربند هم ولرو، بايد زموږ لومړی هدف وي.[41]

> ښځې بايد د دغو مذاکراتو يوه برخه وي او په مستقيمه توګه په کې ونډه ولري. کله چې موږ د ملي پخلاينې په هڅو کې مسلکي خلک ولرو، دوی کولای شي وضعيت په ښه توګه درک کړي او کولای شي د سولې پروسه پر سم لوري رهبري کړي.[42]

لنډه دا چې ښځې د سولې په پروسه کې د خپلو حقونو له لاسه ورکولو وېره لري، ځکه مخالفين د ښځو له حقونو سره جوړجاړی نه لري. له دې کبله ټول ځواب ورکوونکي په دې اند و، چې د ملي پخلاينې او سولې په هڅو کې د ښځو رول اړين دی، ځکه دوی هم د ملت نيمه برخه ده او د جګړې قرباني ورکوي. پردې سربېره، د طالبانو دوره هم د ښځو له ياده نه وځي، چېرته چې دوی نه شول کولای له کور د باندې ووځي او له خپلو اساسي حقونو برخمنې شي. دا خبره د هغو ښځو له لوري ډېره ياده شوې ده، چې د زده کړو او کار کولو په برخه کې د ښځو حقونو له بايللو وېره لري او د دې پلوي نه دي، چې سړي يې استازيتوب وکړي. له تاريخي اړخه د سولې پروسې په برخه کې د ښځو عامه پوهاوي او خبرتيا لرلو کمښت دغه راز پر ټولنه د سړيو واکمنۍ او ټولنيزو نيمګړتياوو او خنډونو ترڅنګ له کلتوري يا ديني اړخه هېڅ داسې محدوديت نه شته، چې له مخې يې ښځې ونه شي کولای د ملي پخلاينې په هڅو کې برخه واخلي؛ له دې کبله د ښځو دعوا دا ده، چې بايد د خپل حق له مخې په ياده پروسه کې ګډون ولري. له دې سره، په ننګرهار ولايت کې زياترو ځواب ورکوونکو په دې اړه ويلي، چې ښځو څنګه د پخلاينې او سولې په هڅو کې د پام وړ ونډه نه درلوده او د ښځو رول پياوړتيا په برخه کې د حکومت له هڅو ناخوښ ښکارېدل. د دې ترڅنګ چې ښځې د نادولتي جوړښتونو له لارې د ځايي شخړو په هواري کې ونډه لري، مګر د ملي پخلاينو په هڅو کې دوی ته د ونډې ورکول به د دې لامل شي څو د دوی شتون ډېر په ډاګه شي. د دې ترڅنګ د سيمې له مخې د شخړو په هواري او ملي پخلاينو هڅو کې يو تر بله توپير لري: د بېلګې په توګه په خوست ولايت کې خلک خپلې شخړې جرګو ته وروړي، چېرته چې ښځې اړين غړيتوب لري. په داسې حال کې چې زياتره جرګې ښځينه غړي نه لري، خو بيا هم په ځينو کې يې ډېر اړينه ونډه لري. بالاخره، يو کم شمېر داسې بېلګې شته چې د سړيو په پرتلې د ښځو ونډه په پرېکړو کې پياوړې ده، مثلاً د مالدارې بېلګې ته اشاره کولای شو، خو دا ډول بېلګې معمول نه دي.[43]

---

۴۰ - د ښځو حقوق، جنسيتي مساوات او انتقال: د لاسته راوړنو خونديتوب، وړاندې تګ ۲۰۱۳، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره.

۴۱ ۱۹۰۶۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad

۴۲ ۱۸۰۶۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad

۴۳ ۱۵۰۹۲۰۱۹-UNW-WPPD-Kabul

## حکومتي یا دولتي مېکانېزمونه

د سولې هڅو لپاره د حکومتي جوړښت تر چتر لاندې د سولې عالي شورا جوړه شوې وه، چې غړو یې په ننګرهار ولایت کې له جهادي مشرانو، علماوو او ښځو سره په دې اړه ګڼ شمېر ناستې کړې، چې څنګه یوې هوکړې ته ورسېږو. که څه هم د همغږۍ او پلان د کمښت له کبله حکومت د یادې شورا له کړنو او فعالیتونو خوښ نه وو او د خلکو تر سترګو هم داسې مثبت اقدامات نه ورتلل، چې د یادې شورا له لوري اخېستل شوي وي. په ننګرهار ولایت کې کم شمېر خلکو د سولې عالي شورا د فعالیتونو په اړه د ویلو لپاره ډېر کم څه درلودل او زیاتره یې حتی د یادې شورا له نوم سره هم بلد نه وو، لاندې اظهارات د زیاترو ځواب ورکوونکو اند په ډاګه کوي:

> زه د یادې شورا په اړه هېڅ نظر نه لرم. ځکه د سولې عالي شورا ډېره مسلکي او فعاله نه وه، د دوی فعالیتونه تر حکومتي کچې محدود وو. له دې کبله عام خلک د یادې شورا په اړه کوم نظر نه لري.[۴۴]

> زه نه پوهېږم، دلته یوازې د سولې شورا وه او استازي یې درلودل، او زه له دې زیات معلومات نه لرم.[۴۵]

> د سولې شورا موجوده وه، خو موږ کوم داسې مثبت ګامونه نه دي لیدلي، چې د یادې شورا له لوري د سولې لپاره اخېستل شوي وي. دوی یوازې خپل وخت او منابع ضایعې کولې.[۴۶]

د یادې شورا د شتون په اړه د لومړنیو معلومات لرلو پرته خلک نور د سولې شورا په اړه په هېڅ نه پوهېږي او په ولایتي کچه یې له فعالیتونو هم نه دي خبر. دا کار دا په ګوته کوي، چې یاده شورا ځایي خلکو ته په رسیدګۍ کې پاتې راغلې ده. حتی که څه هم زیاترو ځواب ورکوونکو له یادې شورا سره له رسمي میاشتنۍ لیدنو یادونه کړې ده، مګر بیا هم خلکو د دوی له کړنو او فعالیتونو خوښ نه وو. د ښځو چارو رئیسې په ګډون زیاترو ښځینه ځواب ورکوونکو په دې شورا کې د ښځو له غړیتوب یادونه کړې ده. خو بیا هم تر دې وخته پورې په یاده شورا کې په ورکشاپونو او سیمینارونو کې د مېلمه تر کچې پورې محدود و. که څه هم دوی په هغو ناستو کې ګډون کړی، چې د حکومت، نادولتي سازمانونو یا مدني بنسټونو له لوري ترسره شوي دي، خو زیاترو ځواب ورکوونکو دا ویلي، چې په دې ولایت کې د سولې لپاره اساسي ګامونه او هڅې نه دي ترسره شوې.

## ناحکومتي یا نادولتي مېکانېزم

په ناحکومتي برخه کې د سولې لپاره ګڼ شمېر ګامونه پورته شوي دي. د بېلګې په توګه د مدني ټولنو بنسټونه په دې برخه کې ډېر فعاله دي. دوی د پوهنتونو په کچه ګڼ شمېر ورکشاپونه او سیمینارونه تنظیم کړي دي، چېرته چې حکومتي چارواکي ښکېلتیا نه لري بلکې یوازې استادان او محصلین دي. د ټولنو په استازیتوب د محصلینو او خلکو ګډون به د سولې پر هڅو د پام وړ اغېز ولري، خو دا معلومه نه ده، چې ایا ناحکومتي مېکانېزم به خپل ځان په حکومتي هڅو کې مدغم کړي او که نه؟ پردې سربېره، د ننګرهار ولایت په ځینو ولسوالیو او کلیو کې خلک په مستقیمه توګه د حکومت له وسله والو ډلو سره د خبرو اترو لاره لري. څرنګه چې دا خبرې اترې د ناحکومتي مېکانېزم له لارې چې د ټولنو له لوري تنظیم شوې وې، ترسره شوي دي نو د ملي پخلاینې پر هڅو یې هم ډېرې محدودې اغېزې درلودې.

> په دې وروستیو کې د مدني ټولنو بنسټونو یو پروګرام پیل کړی دی، چې زیاتره د پوهنتونونو محصلین په کې ښکېل دي. دوی پر بېلا بېلو سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو بحث کوي. دا پروګرام ورکشاپ یا رزونې ته ورته دی، چې ډېر تمرکز یې د سولې هڅو په ګډون پر سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو دی.[۴۷]

> بل پلو په ټولنه کې هم ځینې خلک هڅه کوي څو د سولې لپاره کار وکړي او د حکومت وسله وال مخالفین دې ته وهڅوي څو د سولې مذاکراتو ته غاړه کېږدي. دا چې دوی د ټولنې عادي وګړي دي او هېڅ راز صلاحیت یا واکونه نه لري، نو هڅې یې هم د سولې په پروسه کې کوم د پام وړ مثبت بدلونونه نه دي رامنځ ته کړي.[۴۸]

یوې ډلې دیني مشرانو چې ښځې او سړي دواړه په کې دي، وغوښتل څو د ملي پخلاینې هڅې لا پیاوړې او ګړندۍ کړي، نو په همدې موخه یې د پخلاینې لپاره ټولنیزه شورا رامنځ ته کړې ده، چې ۵۰۰ غړي لري او له دې ډلې ۱۰۷ یې ښځینه دي. یاده شورا د هرات، کابل او کندز په څېر په نورو ولایتونو کې هم ځانګې لري. د دې شورا له رامنځ ته کولو د دوی موخه دا ده، څو هم په ځايي شخړو او هم په ملي کچه د سولې په هڅو کې برخه واخلي. د منابعو د کمښت له وجې دوی په دې کې پاتې راغلي څو د حکومت له وسله والو مخالفینو سره اړیکه ټینګه کړي، خو دوی دا یادونه کړې

۴۴ ۱۵۰۲۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad-FGD

۴۵ ۱۸۰۲۲۰۱۹-Jalalabad-UNW-WPPD

۴۶ ۱۵۰۲۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad-FGD

۴۷ ۱۷۰۲۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad

۴۸ ۱۹۰۲۲۰۱۹-UNW-WPPD-Jalalabad

ده، چې دا ظرفیت لري څو دا اړیکې رامنځ ته کړي. که څه هم د یادې شورا له شتون تر اوسه ګڼه نه ده پورته شوې، خو یاده شورا د حکومت لپاره یو فرصت دی څو د حکومت له وسله والو مخالفینو سره د اړیکو په ټینګښت کې ترې ګټه واخلي. پردې سربېره، د سولې په هڅو کې د یادې شورا ښکېلتیا دا فرصت رامنځ ته کوي څو د سولې هڅو ملاتړ له دیني اړخه وکړي. د ملي پخلاینې لپاره د ټولنیزې شورا یو غړي موږ ته وویل:

> ما له نورو علماوو سره یو ځای د ملي پخلاینې لپاره د ټولنیزې شورا تر عنوان لاندې یوه شورا رامنځ ته کړې ده. د دې شورا موخه دا ده څو په ولایتي کچه ځایي او کوچنۍ شخړې هوارې کړي. په ټوله کې موږ د هېواد په کچه له ۵۰۰ زیات غړي لرو، چې له دې ډلې یې ۱۰۷ ښځینه دي. زیاتره غړي یې ملایان او دیني عالمان دي. مګر زموږ فعالیتونه ډېر کم دي. د دې شورا لپاره موږ یوازې دوه دفترونه لرو. زموږ فعالیتونه تر ځایي کچې محدود دي. موږ دا شورا له حکومت او نورو اړوند ارګانونو لکه امنیتي ادارو، محکمې، سولې شورا، حج او اوقافو وزارت او عدلیې وزارت سره هم ثبت کړې ده. موږ یوازې ملي شخړې هواروو او د ځایي خلکو په منځ کې روغه جوړه کوو. د منابعو د محدودیت له کبله موږ نه توانېږو څو خپل فعالیتونه ولایتي او ملي کچو ته وغځوو. کله چې موږ کومه شخړه هواروو نو دوسیه یې ترتیبوو او یوه کاپي یې محکمې، بله یې امنیتي ادارو ته لېږو او درېیمه کاپي له ځان سره ساتو.[۴۹]

د دې شورا غړي دواړو اړخونو ته لاسرسی لري او د سولې پر اړوند موضوعاتو بحث او خبرې اترې کوي. د بېلا بېلو اړخونو خبرو او نظریاتو ته تر غوږ نیولو وروسته یاده شورا هر اړخ دې ته هڅوي څو یو بل ته تېر شي او بښنه وکړي او بښنه د اسلامي نصوصو له مخې ورته بیانوي، چې د بښونکي او مرتکب دواړو اړخونو حقوق لا پیاوړي کوي. کله چې دواړه اړخونو د شورا له سپارښتنو سره هوکړه وکړي، وروستۍ پرېکړه ترسره کېږي او شخړه پای ته رسیږي. هوکړې ته تر رسېدو وروسته د هوکړې کاپي ګانې محکمې او امنیتي ادارو ته استول کېږي او درېیمه کاپي په خپله شورا له ځان سره ساتي.

په دې شورا کې ښځې هم د سولې په هڅو کې خپله ونډه اداء کوي. په ځینو حالاتو په تېره بیا په هغو وختونو کې چې ښځې په کې ښکېلې وي، نو د دې شورا ښځینه غړو فعال رول درلود او د شخړو په هواري کې یې له سړیو ملاتړ کړی دی. دوی په دې توانېدلې څو په هغو حالاتو کې سختو مسوولیتونو ته اوږه ورکړي، په کومو کې چې ستونزمنه وه یوې هوکړې ته ورسیږي دغه راز مستقیماً په جرګه کې برخه واخلي.[۵۰] خو یوازې هغه ښځې چې د مشرانو له لوري په فرهنګي دودونو او اسلامي ارزښتونو کې د تجربې له مخې د مشرانو له خوا غوره کېږي، په دې ډول په جرګه کې برخه اخلي، لکه څرنګه چې له موږ سره یو مرکه کوونکې په دې اړه ویلي دي:

> هغه شورا چې موږ جوړه کړې ده، ښځې په کې د پام وړ رول لري. دوی مستقمیاً په هغو قضیو کې برخه اخلي، چېرته چې ښځې د شخړې قرباني وي.[۵۱]
>
> کله چې د سړیو ترمنځ د سولې خبرې کېږي، نو دا ستونزمنېږي څو یوې هوکړې ته ورسیږي. په داسې ډول قضیه کې ښځې پرته له دې چې دواړه اړخونه خبر کړي، د مذاکراتو په پروسه کې ګډون کوي. کله چې یو ځل ښځې مذاکراتو ته د ننه شي، نو د ښځې د درناوي په پار په جرګه کې برخه اخېستونکي خلک وایي، چې اوس تورسرې جرګې ته راغله باید اوس سوله وکړو. نو په پایله کې دواړه اړخونه هر څومره ژر چې کېږي، سوله کوي.[۵۲]

۴۹ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۲.۲۲.۱۹

۵۰ Hassan M. Yousufzai &Ali Gohar. ۲۰۰۵. TOWARDS UNDERSTANDING PUKHTOON JIRGA. Case Study, Peshawar: JUST PEACE INTERNATIONAL. Accessed ۱۱ ۱۷, ۱۹.

۵۱ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۲.۲۲.۱۹

۵۲ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۹.۲۲.۱۹

> موږ د زیاترو هغو مېرمنو له داستانونو خبر یو، چې د سولې په خبرو اترو کې یې برخه اخېستې ده. په هغو قضیو کې چې سړي یوې هوکړې ته نه شي رسېدای، نو سړیو ته له خبر ورکولو پرته ښځو په جرګه کې برخه اخېسته او د نوموړې د درناوي په خاطر سړیو پروسې ته چټکتیا ورکوله او د ښځو پرېکړه یې منله.[53]

سوله یو پراخ شموله مفهوم دی، چې حقوقي ستونزې او ترڅنګ یې په تېره بیا په افغانستان کې حقونه، عدالت، پخلاینه، ثبات، بیاځلې ادغام او جوړجاړی په ځان کې رانغاړي. په افغانستان کې د دین په تېره بیا د طالبانو لپاره د ارزښت له کبله زموږ د څېړنې لپاره ځواب ورکوونکو ویلي، چې هغه ښځې چې د سولې په پروسه کې ګډون کوي باید پر اسلامي ارزښتونو خبرې وي، له ځایي دودونو او سنتو ژوره پوهه ولري او د سولې پروسې له رسمي چوکاټ سره بلدتیا ولري. که څه هم ځواب ورکوونکو دې ته اشاره کړې ده چې دوی دې ته اماده دي، څو د سولې او ملي پخلاینې په پروسه کې برخه واخلي، ترڅنګ یې دا هم ویلي دي، چې په دې پروسه کې برخه اخېستونکې ښځې باید د زده کړو، دیني ارزښتونو او ټولنې په تړاو د پوهې لرلو له اړخه ځانګړي معیارونه پوره کړي. په دې توپیر چې د سړیو لپاره به دا ډول معیارونه بیا توپیر ولري او ډېر کم په عمل کې پلې کېږي، ځکه نور عوامل لکه ټولنیز موقف، نرواکي او قدرت به په یاده پروسه کې د یو سړي پر برخې اخېستنې اغېز ولري. د ښځو او سړیو توقعات او معیارونه یو تر بله متفاوت دي، حتی که چېرې ځواب ورکوونکي له دې سره هوکړه هم ولري، چې ښځې باید د ملي پخلاینې هڅو یوه برخه وي.

## په سوله کې د ښکېلو ښځو د ژوندانه لنډه کیسه

ګل بانو[54] په ننګرهار ولایت کې یو له فعالو ښځو ده. نوموړې ټولنیزه فعاله او د ولسوالۍ پراختیایي شورا دغه راز د بې وسلې کولو، پاشلو او بیا ادغام (ډي ډي ار) پروګرام غړې ده. نوموړې د روغتیا، زده کړو او ټاکنو په څېر په هغو بېلا بېلو پروګرامونو کې ښکېله ده، چې د غیر دولتي سازمانونو له لوري په لاره اچول کېږي او په عامه چارو کې په یوه دایمي فعاله ښځه بدله شوې ده. د نوموړې مسوولیتونو ان د کونړ په څېر تر نورو ولایتونو د هغې ټولنیزې اړیکې پراخې کړې دي. د خپلې دندې پرمهال له ګڼ شمېر ستونزو لکه تبعیض او د ځایي خلکو له لوري له ګواښونو سره هم مخ شوې ده، خو نوموړې تراوسه هم د ملکانو(کلي مشرانو ) او دیني عالمانو له لوری د ګڼ شمېر مخالفتونو سره هم کار کوي. د خپلې دندې پرمهال د ځمکو پر سر شخړو او قتل قضیو په څېر شخړو هواري کې برخه اخېستې ده، نوموړې وویل:

> زموږ په ګاونډ کې دوه هلکانو یو له بل سره جنګ وکړ، یو یې ټپي شو او بل یې ناڅاپي ووژل شو. د دغو دوو هلکانو د کورنیو ترمنځ شخړه راپورته شوه. د قتل شوي هلک کورنۍ غوښتل چې د قاتل له کورنۍ غچ واخلي. د ټپي (قاتل) کورنۍ ماته راغله او د مرستې غوښتنه یې وکړه. دې قضیې ډېر وخت ونیو، خو بیا هم په دې وتوانېدم څو شخړې ته د پای ټکی کېږدم. د دې شخړې د هوارې لپاره زما د تګلارې پیل د دواړو کورنیو له ښځینه غړو و. ما د مقتول کورنۍ له بېلا بېلو ښځینه غړو سره خبرې وکړې او بلاخره مې راضي کړل، ځکه دا یوه ناڅاپي پېښه وه. له دې کبله د شخړو په هوارې کې د ښځو رول ډېر مثبت دی او کولای شي ټوله شخړه یا جګړه په مثبت ډول بدله کړي.[55]

هغه تګلاره چې د پاسنۍ شخړې هوارې لپاره نوموړې ترې یادونه وکړه، له دواړو کورنیو سره یې خبرې اترې په ځان کې لرلې. که څه هم یادو خبرو اترو ډېر وخت ونیو، د ګل بانو( د نوموړې د هویت خوندیتوب په موخه نوم بدل شوی دی) ملاتړ د مرحوم کورنۍ په هڅولو او قانع کولو کې حیاتي ونډه درلوده، ځکه دا یوه ناڅاپي پېښه وه. نوموړې د دواړو کورنیو د رضایت په ترلاسه کولو سره شخړې ته د پای ټکی کېښود، معنا دا چې د قاتل کورنۍ د دغې غمجنې پېښې په تړاو د مقتول له کورنۍ بښنه وغوښته او ننواته یې وکړه، چې په پایله کې یې د مقتول کورنۍ قاتل او کورنۍ یې وبښل. څرنګه چې کورنۍ یو تر بله په خپلو منځو کې شخړې هواروي، نو حکومت هم لاسوهنه نه کوي.

---

۵۳ ۱۵۰۲۲۰۱۹_UNW_WPPD_Jalalabad_FGD

۵۴ - د امنیتي ملحوظاتو له کبله یې نوم بدل شوی دی.

۵۵ ۲۲۰۲۲۰۱۹_UNW_WPPD

د شخړو په هواري یا د ژوند په نورو چارو کې د ښځو ښکېلتیا په وړاندې معمول استدلال دا دی، چې دوی د دې وړتیا نه لري چې په ټولنه کې مسوولیتونه پرغاړه واخلي. د ګل بانو کیسه د هغو نورو ترڅنګ یوه غوره بېلګه ده، چې دا خبره ناسمه ثابتوي. د بېلا بېلو ورکشاپونو او سیمینارونو په ترڅ کې نوموړې په دې توانېدلې ده څو په عامه چارو کې د برخې اخېستنې اړوند مهارتونه او وړتیاوې زده کړي. د خپلو ټولنیزو فعالیتونو له لارې نوموړې په یوه داسې پیاوړې ښځه بدله شوې، چې کولای شي هغو ګواښونو ته له پام پرته چې دې ورسره مخ ده، شخړې هوارې کړي. که څه هم په عامه چارو کې د ګډون لپاره د ښځو لېوالتیا کاملاً یوه شخصي پروسه ده، یو مثبت عامل په روزنیزو ناستو، ورکشاپونو او سیمینارونو کې د ښځو ګډون دی، چې د ښځو له پیاوړتیا سره یې مرسته کړې ده. دا بېلګه په ډاګه کوي، چې داسې پیاوړې ښځې هم په ټولنه کې شته چې په یوازېتوب سره د خلکو په منځ کې د شخړو هواري وړتیا لري. له دې کبله دا ډول بېلګې دا په ګوته کوي، چې ښځې د شخړو په هواري کې د پام وړ او مهم رول لري، چې کولای شي د سړیو دا استدلال نفي کړي، چې په لوړه کچه د شخړو په هواري کې د برخې اخېستنې وړتیا نه لري.

**د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ونډې په اړه د خلکو انګېرنې**

که څه هم ښځو په ورکشاپونو، سیمینارونو او روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کړی او په ښوونځیو کې یې د سولې په اړه لوستي دي، خو دوی دا ونډه ارزښتمنه او اړینه نه ګڼي چې ګواکې د سولې په رښتیني بهیر کې دې خپله ونډه غښتلې کړي.

ځیني وړاندیزونه کېږي چې ښځې دې د دولتضد کسانو له کورنیو سره په مخامخ خبرو کې ورګډې کړل شي، ترڅو له دوی سره خبرې وکړي او په ملي پخلاینیزو هڅو کې یې ګډون ته وهڅوي. دې موخې لپاره، ډېری مرکه‌کېدونکو ویلي چې په اسلامي علومو سنبالو ښځو ټاکل له دغه نوښت سره ډېره مرسته کولای شي.

دواړو نارینه او ښځینه مرکه‌کېدونکو ویل چې ښځې په سیاسي مسایلو او پرېکړه‌کولو کې ونډه اخیستی شي او ددې لپاره، د پرېکړه‌کولو او سولې په بهیر کې د ښځو ونډه باید ډېره شي. دوی اضافه کړه چې هم د عصري او هم د اسلامي علومو لرونکې ښځې به د سولې په بهیر کې د ګډون لپاره ښې نوماندانې وي.

> موږ طالبانو سره د سولې په اړه خبرې کوو او غواړو چې ښځې دې په کې ښکېلې وي، نو موږ غواړو داسې حالت رامینځته کړو چې ښځې د طالبانو له کورنیو یا مېرمنو سره مخامخ خبرې وکړي. باید دوی ته ووایو چې جګړه موږ ښځې ډېرې زیانمنوي.[52]

> هغه ښځې، چې غواړي د سولې په خبرو کې ونډه ولري؛ باید ډېره اسلامي پوهه ولري. دوی باید په افغاني هڅوب (کلتور) کې د ښځو د رول په ګډون په اسلامي نصوصو کې د ښځو په ارزښت باندې پوهې وي.[57]

دواړه، دولت او مدني ټولنه باید له سیمینارونو، ورکشاپونو او روزنیزو پروګرامونو وراخوا د سولې په تړاو د ښځو د ونډې ډېرېدو لپاره خپلې تګلارې ترلاس لاندې ونیسي، ځکه ډېرې لږې ښځې دغو پروګرامونو ته لاسرسی لري. ډېری مرکه‌کېدونکي د سولې له روان بهیر او په کې د ښځو له ونډې اصلاً بې‌خبره وو. په ننګرهار کې ډېری روزل شوې ښځې، د ملي پخلاینې په هڅو کې کور په کور په ځانګړي ډول د دولتضد افرادو د کورنیو ښځینه غړو ته د عامه پوهاوي ورکولو لپاره ښې چمتو وې او بې‌صبرانه شېبې یې شمارلې.

> دوی باید د سولې په بهیر او خبرو اترو کې مخامخ ونډه ولري. بله لاره داده چې موږ باید دا ښځې د مخالفینو کورنیو او دولتضد کسانو کورنیو ته ورولېږو، ترڅو دوی د دولتضد افرادو د کورنیو له ښځو سره په سوله خبرې وکړي. دا مجربې ښځې باید ځایي خلکو ته د سولې او د سولې اهمیت په اړه معلومات ورکړي.[58]

د پایلې په توګه، په ننګرهار کې د څېړنې اړوند مرکه‌کېدونکي په دې باور و چې ښځې د سولې په بهیر کې غښتلی رول لوبولای شي او د دولتضد ځواکونو له کورنیو سره د دوی ښکېلتیا اوږدمهاله سولې ته لاره برابرولای شي.

---

۵۲ ۲۲۰۲۲۰۱۹_UNW_WPPD_Jalalabad

۵۷ ۲۴۰۲۲۰۱۹_UNW_WPPD_Jalalabad

۵۸ ۱۲۰۲۲۰۱۹_UNW_WPPD_Jalalabad

**د ښځو له لوري سولې لهپاره اخيستل شوي ګامونه**

د دواړو دولتي او غير دولتي جوړښتونو لهلارې، ښځو د سولې په بهير او شخړو هواري کې ونډه درلودلې ده. که څه هم په دولتي چوکاټ کې د دوی ونډه تر ډېره ننداريزه (سمبوليکه) او يوازې په ورکشاپونو او سيمينارونو کې تر ګډون پورې محدوده وه، خو په غير دولتي جوړښتونو لکه ځايي شوراګانو کې يې د ښکېلتيا ډېر فرصت درلود. ښځو د دولتي جوړښتونو په نسبت په غير دولتي جوړښتونو کې ډېره ونډه درلوده، خو د دوی پخوانۍ پراخه ونډه تراوسه هم د شخړو په هوارې کې د دوی د ونډې په تړاو د سړيو په پرېکړې پورې محدوده ده.

> موږ پخوا کومه شورا نه درلوده؛ اوس يوه شورا لرو چې زه يې هم غړې يم، دا شورا د افغان ښځو شبکې او مدني ټولنيزو فعالانو په دې ولايت کې جوړه کړې ده. د ځينو شوراګانو له غړيتوب وراخوا، په ننګرهار ولايت کې د سولې په بهير کې د ښځو لهپاره بله ونډه نه تر سترګو کېږي.[59]

> دلته د سولې او ډيموکراسۍ لهپاره مساوات (EPD) په نوم يوه اداره شته، چې په ولسواليو کې شوراګانې لري او ښځې او سړي يې غړي دي. دوی له کليوالو سره اړيکې لري ځکه هغوی پوهېږي څوک طالب دی او څوک نه دی. د دغو شوراګانو په چوکاټ کې، ښځې جلالآباد ښار ته بېلابېلو پروګرامونو لهپاره رابلل شوي، ترڅو له نورو ښځو سره خپل نظريات شريک کړي چې څه ښه او څه ښه نه دي.[60]

کله چې ولسمشر د ولايتونو د سولې کميټې، چې د سولې عالي شورا برخې وې؛ د مناسب فعاليت او پلانونو نشتوالي لهکبله ړنګې کړې، نو ځايي خلک د غيردولتي کانالونو لهلارې د سولې په خبرو او شخړو هوارې کې ورګډ شول. ددغو غير دولتي چينلونو لهلارې ډېرو ښځو د دولتضد افرادو له کورنيو سره په غيرمستقيمو خبرو کې ګډون کړی او د دوی په اراده پوهېدلې دي.

> له دولتي اړخه سولې لهپاره هيڅڅه نه دي شوي. خو ددې اپوټه، د خلکو لهلوري، ډېرې خبرې اترې شوي دي. له همدې امله، ددغو خبرو پر بنسټ معلومه شوې، چې دولتضد کړی د سولې اراده لري او سوله خوښوي. په هر حال، دا غير رسمي خبرې دي او د هغې شورا له لوري ترسره شوي چې زه يې غړيتوب لرم.[61]

په لنډو ټکو، ښځو ثابته کړې چې د بېلابېلو چينلونو لهلارې سولې ته د کار کولو وړتيا لري او د ملي پخلاينې په هڅو کې د لا فعالې ونډې غوښتونکې دي.

**ننګونې او ګواښونه**

د ښځو له ټينګې ارادې سره سره، لا هم دوی په هېواد کې د اوږدمهاله سولې په ځانګړي ډول د اقتصادي وضعيت په تړاو ګواښونه حس کوي او ننګونې تجربه کوي. د قانون حاکميت نشتوالی، په دولتي ادارو کې د پراخې کچې بډو او بېعدالتيو شتون او د پوليسو ملاتړ نشتون له هغو خنډونو څخه دي چې ښځې يې په ملي پخلاينيزو هڅو کې د مصلحت ښکارکېدو احساس کوي.

۵۹ UNW-WPPD-Jalalabad -۱۵.۰۲.۲۰۱۹

۶۰ UNW-WPPD-Jalalabad-۲۳.۰۲.۲۰۱۹

۶۱ UNW-WPPD-Jalalabad-۱۹.۰۲.۲۰۱۹

ددې سربېره، له ښځو سره د دولتي کارکوونکو بې‌معلوماته او د طالبانو زیږ او بنسټپاله چلند ، په ټاکنو کې د ګډون او دندو درلودو په ګډون د ښځو حقوق ګواښي.[۲۲] په پایله کې، ښځې په ملي پخلاینیزو هڅو کې په خپله فعاله ونډه ټینګار کوي.

> که چېرې ښځې د سولې د بهیر برخه نه وي، زه ډاډمنه یم چې سړي به د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو حقوق ونه څېړي او تر هغو به سوله نه وي، ترڅو چې د ښځو حقوق خوندي شوي نه وي.[۲۳]

> په هر حال، طالبانو سره له تړون وروسته زه وېره لرم چې دوی به ښځې د دوهم لاس په توګه و ګڼي او اجازه به رانه‌کړي چې ټولنیز، اقتصادي او سیاسي فعالیتونه وکړو.[۲۴]

دا اندېښنې ددې ښودنه کوي چې ښځې د خپلو حقوقو په خطر کې لوېدلو سره مخالفې دي، د کومو له‌پاره یې چې مبارزه کړې او له دې سره مخالفې دي چې پر ښځو باندې د ژورو قیوداتو سره د طالبانو زمانې ته ورستنې شي چې له زده‌کړې او دندې څخه منع او سړیو له‌لوري (له دندې د ښځو منع‌کولو سره ناممکنه ده چې ښځې دې روغتیایي خدماتو ته لاسرسی ولري) برابرېدونکو روغتیایي خدماتو ته لاسرسي سره مخ وې یا دا چې له نارینه محرم سره له کوره ووځي، هم مخالفې دي. له طالبانو وېره او دا چې څرنګه یې د ښځو حقوق او استازولي تر پښو لاندې کړې وه، د هغو ښځو د مبارزې غوښنه برخه ده چې د خپلو حقوقو خوندي کولو له‌پاره مبارزه کوي.

په پایله کې، موږ کتلي دي چې ښځې په ځایي روغه‌جوړه کې د ونډې سابقه لري، البته واک او اغېز یې متفاوت و او د خپلو سیالانو (سړیو) سره مساوي هم نه و. د سولې په بهیر کې د ښځو ګډون به ددې له‌پاره وي چې د محدودیتونو مخالفت وکړي، هغه که د ګډون اړوند او که د دوی اجرائیوي رول اړوند محدودیتونه وي. د بېلګې په توګه، کلتوري (هڅوبي) خنډونه په دې معنی وو چې ښځې یوازې هغه وخت ونډه درلودلی شي، کله چې سړي کومه پرېکړه ونه کړی شي، په داسې حال کې چې له لومړي سره د ښځو له ګډون سره مخالف وي. ددې اپوټه، سره ددې چې ننګرهار یو مذهبي او کلتوري (هڅوبي) حساس ولایت دی، خو بیا یې هم ښځې په ځایي روغو جوړو کې ونډه لري. آن دا چې دیني علماؤ شوراګانې جوړې کړې او د دیني زده‌کړو لرونکې یا دیني عالمانې ددغو شوراګانو غړې دي. ددې سربېره، نه یوازې ښځې ددغو شوراګانو غړې دي، بلکې د ښځو په واسطه د ځایي پخلاینې بهیر حمایه کېږي او شخړې هوارېږي. ددغو شوراګانو له‌لارې، په ننګرهار کې ښځو ډېری شخړې هوارې کړې او دغه راز دوی د غیردولتي پخلاینیزو بهیرونو برخې هم دي. همدارنګه، دوی د شخړو په برخو کې د نارینه غړو ملاتړ هم کړی دی. نو له همدې امله د سولې په اوسني بهیر کې، په مخامخ ونډه باندې د ښځو ټینګار د دوی له هغې په‌حقه وېرې څخه معلومېږي چې د احتمالي پایلو په اړه یې لري. د طالبانو رژیم څخه د دوی تجربې پربنسټ، ښځې د داسې پېر تکرار نه غواړي چې دوی په کې د ټولنې دوهمه‌درجه جنس یا فرعي‌ډله ګڼل کېده او د پوهنې، لومړنیو خدماتو ته د لاسرسي او له کوره بهر فعالیتونو په تړاو له ډېرو قیوداتو سره مخ وې.

[۲۲] APPRO. ۲۰۱۹. Fragility and Making Peace: Rights of Afghan Women and Peace with the Taliban. Research Report, Kabul: Afghanistan Public Policy Research Organization, ۴۹. Accessed ۱۵۱۱, ۲۰۱۹. http://appro.org.af/wp-content/uploads/۲۰۱۹/۰۵/۲۰۱۹-۰۵-۰۱-Fragility-and-Making-Peace-Rights-of-Afghan-Women-and-Peace-with-the-Taliban-۱.pdf.

[۲۳] Jalalabad-WPPD-UNW-۱۸۰۶۲۰۱۹

[۲۴] Jalalabad-WPPD-UNW-۲۴۰۶۲۰۱۹

## ۲.۳ بلخ

بلخ د افغانستان شمالي ولايت دی او له ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان سره د هېواد د ستراتيجيکې پولې له تشکيلوونکو ولايتونو څخه دی. د بلخ ستراتيجک موقعيت د دغه ولايت د بډايه تاريخ زېرمه ده. دا ولايت د سوداګريزو، ادبي، زده‌کړنيزو او سياسي فعاليتونو د مرکز په توګه ګڼل کېږي.[۲۵]

د بلخ جيوپوليتيکي موقعيت په هر رژيم کې د زيانمنېدو لامل شوی او د دولتي او دولتضد وسلوالو ډلو ترمنځ د وسلوالو او غيروسلوالو کورنيو سياسي سياليو ډګر پاتې شوی دی.

بلخ د بېلابېلو پادشاهيو، واکمنيو او حکومتونو ظهور او زوال کتلی دی. د لويو شخصيتونو ترمنځ، ځينو ښځو هم په خپل وخت کې د مشرانو په توګه ارزښتمنه ونډه لوبولې چې په کې دولس پېړۍ وړاندې د رابعه بلخي په نوم شاعره هم شامله ده.[۲۶] دلته په ټولنيز، کلتوري (هڅوبې)، اقتصادي او سياسي ډګرونو کې د ښځو ونډه کوم نوی يا ناپېژندل شوی څيز نه دی.

بلخ له څلوېښت کلونو ډېر، په بېلابېلو رژيمونو کې جنګ او جګړه تجربه کړې او په خورا ژوره توګه يې خلک، له دغو فاجعو څخه اغېزمن شوي. د ښځو ځايي شورا يوې غړې په دې اړه وويل:

> که څه په شاهي دوره کې ارامي وه، خو ډېری خلک نالوستي و او زده‌کړې يې نه درلودې. خلک د خپل ژوند په اړه خبر نه و. يوازې دې ته خوشاله و چې په سوله کې يوه مړۍ ډوډۍ خوري، خو نه پوهېدل چې نور هېوادونه څېرته رسېدلي و. په هر حال، کله چې له کميونيستي انقلاب وروسته جګړه پيل شوه، له جګړې سره سره بيا هم يو څه پرمختګ راغی. خلکو د خپلو کورنيو غړي له لاسه ورکړل. ښځو لږ څخه خپلواکي ترلاسه کړه خو خوندي نه وې. په هغه وخت کې، مجاهدينو په سيمه کې اور بل کړی و. مجاهدين راغلل او خپل مينځي جګړه يې وکړه. بيا طالبان راغلل او افغانستان مو پرېښود، تاجکستان ته لاړو او هلته شپږ کاله و اوسېدو. نو اوس، دا دولت لرو. بيا هم دلته جګړه ده.[۲۷]

د بلخ ستراتيجيک موقعيت په تېراو، د بېلابېلو رژيمونو رامنځته کېدو او له مينځه‌تلو لامله، دغه ولايت نه يوازې جګړې، بلکې ټولنيزې نارامۍ هم ځپلی دی. دغه تغييرات له شاهي تر جمهوريت، کمونيستي دولت، اسلامي دولت، اسلامي امارت او بيا تر اوسني رژيم پورې د دولت تغيير په ځان کې رانغاړي. د پايلې په توګه، بلخ کې مرکه‌کېدونکو سوله يوازې د جګړې تر بندېدو پورې محدوده نه ګڼله.

### په بلخ کې د سولې تعريف

په بلخ کې د مرکه‌شوو ښځو په وينا، سوله داسې حالت دی چې هر وګړی (تبعه) هوسا ژوند وکړي، له لويو ننګونو پرته کار او زده‌کړې وکړي او د انسانانو او اتباعو په توګه خپلو ټولو حقونو ته لاسرسی ولري. په ځانګړي ډول ښځو لپاره د جګړې پای سوله نه ده: د بېلګې په توګه د طالبانو په حکومت کې، په ځينو سيمو کې جګړه نه وه، خو خلکو په وېره کې ژوند کاوه او هيڅ ډول عامه‌خدماتو ته يې لاسرسی نه درلود. د امنيت، مالي سوکالۍ او ټولو عامه‌خدماتو ته د لاسرسي سربېره، په بلخ کې د ښځو لپاره ډيموکراتيک سياسي ګډون، د سولې بله اړينه برخه وه.

> که له ماشومې وپوښتئ، د هغې ځواب به هو وي، هغه سولې ته اړتيا لري چې ښوونځي ته لاړه شي ترڅو زده‌کړې وکړي، ځکه دا د هر ماشومې حق دی چې ښوونځي ته لاړه شي. زه چې کله ماشومان وينم چې دوی څرنګه سوله غواړي او هيله يې لري، ټوله ورځ خفه يم چې ماشومان د خپل راتلونکي په اړه څومره اندېښمن دي.[۲۸]

> څه مو چې تېر ۱۸ کاله ترلاسه کړي، بايد ساتنه يې وکړو او وده ورکړو. د بيان ازادي، د ښځو حقوق او په هر ډګر کې د ښځو ونډه، ښځو لپاره ډېر اړين دي چې ساتنه يې وکړي. د ښځو حقوق او غوښتنې يې بايد د سولې قرباني نه شي؛ که نه نو رښتينې سوله ورته نه شو ويلی.[۲۹]

---

۲۵ Chona R. Echavez, Jennefer Lyn L. Bagaporo. ۲۰۱۲. Does Women's Participation in the National Solidarity Programme Make a Difference in their Lives? case study, Kabul: AREU.

۲۶ AFGHAN WOMEN SKILLS DEVELOPMENT CENTER. Accessed july ۱۰, ۲۰۱۹. n.d. http://awsdc.org.af/۲۰۱۹/۰۷/۱۰/-brief-bio-of-rabia-balkh

۲۷ مرکه، بلخ--WPPD-UNW-۱۲۰۷۲۰۱۹

۲۸ مرکه، بلخ--WPPD-UNW-۸۰۷۲۰۱۹

۲۹ مرکه، بلخ- WPPD-UNW-۹۰۷۲۰۱۹

د طالبانو په واکمنۍ کې، ارامي وه، خو ښځې په کورونو کې بندې وې او حقوق يې تر پښو لاندې شوي و. موږ خوندي نه و.[۷۰]

دې لهپاره چې ښځې د ملي پخلاينې په هڅو کې ونډه ولري، په ډيموکراټيکه توګه په سياست کې ګډون ورته ډېر اړين دی. امنيت او مالي سوکالي ورپسې برخه کې راځي. کومه ټولنه کې چې ښځې خپلو حقوقو ته لاسرسی او په هر ډګر کې ګډون ولري، امنيت خپله راځي. کله چې ته خوندي يې، نو مارکېټ به ولرې او خلک به ددې وړ وي چې سوداګري او نور اقتصادي فعاليتونه پيل کړي.[۷۱]

د سولې بهير او پلانونه تراوسه معماوې (اريانوونکي) دي، د مرکهشوو ښځو په وينا، دوی خپله سربداله دي چې په دغه بهير کې څه روان دي. ددې سربېره، طالبان غواړي چې اساسي قانون دې مات شي. لکه څرنګه چې مرکهکېدونکې په دې تړاو وايي:

د سولې په اوسني بهير کې، آن دولت هم ونډه نه لري. اوسنی وضعيت داسې دی لکه ته چې يوه ډله لېوان ميدان ته خوشې کړې؛ او هر يو د يو څه د لاستهراوړللو لهپاره منډې وهي. سوله به تر هغو رانهشي، ترڅو چې هر کس يوه ډله نه وي جوړه کړي او د سولې خبرې پيل نه کړي؛ حکومت بايد د خبرو د ثقل مرکز وي. ټول بايد يوځای شي او يو پلان او ستراتيجي جوړه کړي. حکومت پرېکړهکوونکی دی.[۷۲]

افغانان بايد د افغانستان اساسي قانون ومني. هغوی چې خپلې ډلې يې جوړې کړي او دوحې يا روسيې ته روان دي، بايد پوه شي چې سوله ترهغو نه راځي، ترڅو چې دوی د افغانستان حکومت تر نوم لاندې او د اساسي قانون په رڼا کې، په خبرو کې ګډون نه وي کړی. کله چې موږ له يوه ادرسه لاړ شو او يوه موخه ولرو، نو بيا دښمن ماتولی شو.[۷۳]

الله، قران او رسول مو منلی دی. زه د دوی په غوښتنو نه پوهېږم او په نظريو يې هم فکر نه شم کولی. موږ بايد د دوی مشرانو سره خبرې وکړو، څوک يې چې ملاتړ کوي. دلته افغانستان کې، کومه ستونزه نه لرو. که کومه مرجع يو کس حمايه نه کړي، دی به خپلو پټيو ته لاړ شي او بزګري به پيل کړي.[۷۴]

روان کړکېچ په افغانستان د سولې لهپاره د ښځو خپل تعريف روښانه کړی او دوی يې د سولې په بهير کې ګډون لهپاره مبارزې ته چمتو کړې دي.

### د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډه

پلارواکې ټولنې پر ښځو له پېړيو راهيسې خپل اغېز ښندلی دی او پخوا ښځو په سياسي مسايلو لکه د ملي پخلاينې په پلانونو او هڅو کې ډېره لږه ونډه لرلې. يوې مرکهکوونکې وويل: «تراوسه چې ما ليدلي او کتلي، په کل کې ښځې په ملي پخلاينيزو هڅو کې ونډه نه لري. د ښځو له ګډون پرته د سولې راتلل ممکن نه دي؛ موږ له ډېره وخته دا تجربه کړې.»[۷۵] له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې، د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ګډون اړينه موضوع ګرځېدلې او په دې وروستيو کې لانجمنه شوې ځکه ښځو په دې زور راوړی چې په دولتي او غيردولتي ميکانيزمونو کې ډېرې استازې ولري.

۷۰ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۸۰۷۲۰۱۹
۷۱ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۳۰۷۲۰۱۹
۷۲ مرکه، بلخ--WPPD-UNW-۳۰۷۲۰۱۹
۷۳ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۱۱۷۲۰۱۹
۷۴ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۰۴۷۲۰۱۹
۷۵ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۸۰۷۲۰۱۹

### دولتي میکانیزم

د سولې عالي شورا په افغانستان کې یوازینی دولتي میکانیزم دی ترڅو ښځو ته داسې ځای ورکړي چې د ملي پخلاینې په هڅو کې برخه ولري، که څه هم د دوی استازولي تر شمېرو محدوده ده: یعني له ۷۰ غړو یوازې نهه یې ښځې وې.[۷۲] د سولې عالي شورا په بلخ کې یوه کمېټه درلوده، خو مرکه‌کېدونکو یې د ځایي چارو په اړه بشپړ معلومات نه درلودل. سره له دې چې د سولې عالي شورا له دولتضد وسلوالو سره د مخامخ خبرو اترو مسؤلیت درلود، خو ښځینه غړو ورسره د مخامخ خبرو موقع نه درلوده. د سولې شورا په اړه دا خبره دوه مرکه‌کېدونکو، یوه قومي مشر او بل د ښځو حقوقو فعالې داسې ویل:

> په تېر کې، موږ د سولې عالي شورا درلوده چې سولې ته یې کار کاوه. دا چې د هغې کار او فعالیتونه ګټور نه و، نو له همدې امله ړنګه شوه. په سولې عالي شورا کې ښځې هم وې، خو له دولتضد ډلو سره یې خبرې نه دي کړې، زه یې په اړه څه نه لرم.[۷۷]

> ... پخوا، موږ په بلخ کې د سولې عالي شورا درلوده. له هغه ځایه چې په استثنایي ډول کارنده نه وه او ډېرې لاسته‌راوړنې یې نه درلودې، بالاخره ولسمشر دا شورا ړنګه کړه، نو اوس دلته بلخ کې د سولې شورا نشته.[۷۸]

له هغه ځایه چې د بلخ ولایت د سولې عالي شورا په کمېټه کې ښځینه غړو له طالبانو سره د مخامخ خبرو فرصت نه دی موندلی، دوی په نورو پروګرامونو لکه له مدني ټولنې سره همغږۍ، بشري حقوقو او جنډري فعالیتونو کې بوختې شوې، ترڅو د سولې په اړه د عامه‌پوهاوي پروګرامونه تیار او پلي کړي او ځایي خلک وروزي. یوې ښځینه حقوقي فعالې داسې ذکر کړل:

> هغه مهال چې دغه ولایت کې د سولې عالي شورا فعاله وه، موږ سولې لپاره د یو بل سره ډېر نږدې کار کاوه. په ورته ډول، موږ ۲۰ ځوانان او ځوانانې روزلي دي.[۷۹]

**د سولې عالي شورا ولایتي کمېټې پخوانۍ غړې زیاته کړه:**

> کله چې زه په سولې شورا (د سولې عالي شورا په ولایتي کمېټه) کې وم، ښځو سره خبرو لپاره موږ یوازې ګاونډې کلیو ته تللی شو، خو طالبانو یا د هغوی له ښځو سره مو خبرې نشوای کولی. یوازې سړي له ځینو ځایي طالبانو سره کښېنستلای شول. ښځو یوازې ځایي شخړو هوارې کې ونډه لرله. د ناامنۍ له امله هیڅ‌چا له طالبانو سره په خبرو اترو کې د ښځو د ګډون مسؤلیت په غاړه نه اخیست.[۸۰]

له دې څخه ځیني فکتورونه لاسته راځي چې د سولې عالي شورا ولایتي کمېټو رول او فعالیت یې کمزوری او کم‌اهمیته کړی و، لکه ناامني، نااغېزمنه تګلاره او د ښځو نندارېزه (سمبولیکه) ونډه. دا فکتورونه د ښځینه غړو په رول باندې پیاوړی اغېز لري. دا کمېټه په ولایتي کچه د سولې عالي شورا کاري کمېټې په توګه رامنځته شوې وه، ترڅو له دولتضد ډلو سره مخامخ خبرې وکړي، خو پر ځای یې د ناامنۍ او نندارېزې ونډې له‌امله، ښځینه غړې د ځایي شخړو په هوارې او د سولې لپاره په مبارزوي پروګرامونو او روزنو کې ښکېل وې.

### غیر دولتي میکانیزمونه

د ملي او ځایي جرګو او ځایي شوراګانو لهلارې، د افغانستان د نورو برخو په څېر، په بلخ ولایت کې هم د ځایي شخړو د هوارې او د روغې‌جوړې غیر دولتي میکانیزمونه شته. که څه هم دا ډېره سخته ده چې د هېواد د نورو برخو په څېر، دلته هم ولیدل شي چې یوه ښځه په یوه جرګه یا شورا کې د یوې لویې ځایي شخړې یا وسلوالې نښتې په هوارې کې ګډون ولري. پلرواکې محافظه‌کارې ټولنې او د طالبانو / دولت ضد وسلوالو نظریو ښځو لپاره حالت ترینګلی کړی دی چې په خبرو اترو کې مخامخ ګډون وکړي.

> له طالبانو سره په دغو لومړنیو خبرو کې، ښځې له مخامخ خبرو یا مخامخ ونډې څخه منع شوې وې. په هر حال، دا به لږ څه ښه وي چې دوی ښځو ته چانس ورکړي یا یې ونډه او تېرې اتلس کلنې لاسته‌راوړنې په ذهن کې وساتي، خو ډېر ښه به نه وي.[۸۱]

---

۷۲ WOMEN AND PEACE BUILDING IN AFGHANISTAN.case study, Kabul: OXFAM .۲۰۱۴.

۷۷ مرکه، بلخ- -UNW-WPPD-۱۲۰۷۲۰۱۹

۷۸ مرکه، بلخ--UNW-WPPD-۸۰۷۲۰۱۹

۷۹ مرکه، بلخ--UNW-WPPD-۱۲۰۷۲۰۱۹

۸۰ مرکه، بلخ--UNW-WPPD-۰۳۰۷۲۰۱۹

۸۱ مرکه، بلخ- -UNW-WPPD-۰۷۰۷۲۰۱۹

دوی غواړي چې آن د ښځو سيوری هم ووژني. زه ددې جرائت نشم کولی چې په دغو ورځو کې خپل ولايت، بغلان ته ولاړه شم. دا ناممکنه ده چې طالب دې راشي او ښځو سره دې سولې په اړه وغږېږي.[۸۲]

کله چې زه په سولې شورا کې وم، موږ يوازې د طالبانو ګاونډي کليو ته تللی شو چې له ښځو سره وغږېږو، خو موږ له طالبانو يا يې له ښځو سره خبرې نشوای کولی. يوازې سړي له ځينو ځايي طالبانو سره کښېنستلای شول. ښځو يوازې ځايي شخړو هوارې کې ونډه لرله. د ناامنۍ له امله هيڅ‌چا له طالبانو سره په خبرو اترو کې د ښځو د ګډون مسؤليت په غاړه نه اخيست.[۸۳]

که څه هم دلته بلخ کې ځيني ښځې شته چې په ځايي شخړو او د کورنيو او جنډري مسايلو پورې تړلو تاوتريخوالو په هوارې کې يې حقوقي مرستې ته ورته رول اداء کړی دی، خو په وسلوالو شخړو يا له دولتضد ډلو سره يې ډېر لږ کار لرلی دی. دلته بلخ او نورو ولايتونو کې ځيني استثنايي پېښې شته چې ښځو دې له ځايي طالبانو سره مخامخ خبرې کړې وي. دا پېښې ښيي چې ښځې د سولې په خبرو اترو کې ګډون کولای شي، خو بيا يې هم شتون او رول محدود ساتل شوی دی.

**يوه لنډه کيسه**

يوې مرکه‌کېدونکې دولتي چارواکې له ځېرنيزې ډلې سره خپله کيسه شريکه کړې ده. نوموړې په دې توانېدلې وه چې له ځايي طالبانو سره خبرې وکړي ترڅو د بلخ ولايت يوې ولسوالۍ په ځينو ناامنه کليو کې ټولنيز خدمات او پروژې پلي کړي. ددغو خبرو اترو، چې د قومي مشرانو په منځګړيتوب تنظيم شوې وې؛ او د پروژو او پروګرامونو پلي‌کولو لپاره، نوموړې توانېدلې وه چې د خلکو ذهنيت بدل کړي ترڅو له دې وروسته د طالبانو ملاتړ ونه کړي، آن تردې چې دوی نشو کولی د طالبانو مخه ونيسي، ځکه کلي د هغوی په ولکه کې و. کليوالو هغې او د هغې ټيم ته ځايي وضعيت تشريح کړی و، نوموړې يې دې پايلې ته رسولې وه چې نه‌شي کولی د طالبانو نظريات بدل کړي.

ما له دوی سره هم خبرې وکړې؛ ښايي په لسګونو ناستې مې ورسره کړې وې. زما خبرې دوی سره په دې وې چې يوه ورځ به ټولې سياسي پروژې پای ته ورسېږي. موږ د يوې ولسوالۍ يو، موږ ګاونډيان يو، زموږ ځمکې شريکې دي، زموږ مړي ژوندي شريک دي، مه پرېږدئ چې زموږ اړيکې او ګاونډيتوب په دې خراب شي چې وواييئ: دلته هيڅ پروژه او خدمات نشته. له همدې امله، اوس يې وخت دی چې هر چېرته او هر ډول پروژه غواړئ، زه به يې پلي کړم او آن هر ډول د اوبو، ښوونځي يا بله تر ټولو ښه هغه به يې راوړم او پلي به يې کړم. ددغو خبرو سره، ما يوه پروژه پيل کړه چې کليوالو ته يې ښوونځی جوړ کړم. هر چېرته چې دوی ويل ښوونځی جوړ کړه، ما ورسره هو کوله چې هر چېرته تاسو خوښ يئ، زه به همالته ښوونځی جوړ کړم. ما دوی ته ډېر ځله ويل چې راځئ سوله وکړو؛ جګړې ته کوم دليل نه لرو؛ له يوه بل سره ستونزه هم نه لرو. په هر حال، دوی همدا يوه خبره کوله؛ «موږ غواړو چې تاسو مسلمانان کړو.»

لږ تر لږه، اوس د کلي خلک له موږ سره همکاري کوي. طالب قوماندان چې مخکې مې ورېل کليوالو ورسره ۷۰ يا ۸۰ سلنه همکاري کوله، خو اوس ورسره همکاري نه کوي. دوی چمتو دي چې له موږ سره په هر ډګر کې کومک وکړي. دوی موږ ته زنګ وهي او ريپورټ راکوي چې دوی (طالبان) چېرته دي او څه کوي. ځکه دوی زموږ ښه نيت معلوم کړی چې دولت غواړي کار ورته وکړي.[۸۴]

مرکه‌کېدونکي باور لري چې سوله به افغانستان ته رانه‌شي، ځکه څرنګه چې ښکاري، له هغه ډېره پېچلې ده او له ځينو افغان‌طالبانو سره سوله به کوم حل پيدا نه کړي. دا چې د طالبانو تحريک ډېر پراخ شوی، نو بايد خبرې اترې په ملي، سيمه‌ييزه او نړيواله کچه ترسره شي.

زه باور لرم چې سوله به د روانې پروسې لپاره رانه‌شي. زه هغه کس يم چې دښمن مې مخامخ کتلی او اوس جګړه ده، دا خلک (طالبان) چمتو نه دي چې خپل ارزښتونه او نظريه پرېږدي. دوی ډېر تنګ‌نظره خلک دي؛ دوی به يې ونه مني. په حقيقت کې، موږ بايد سولې لپاره پاکستان، سعودي عربستان او هغو خلکو ته ورشو، چې دوی مالي حمايه کوي او ذهن يې ورپېچکاري کړی. موږ په دې ولسوالۍ کې د طالبانو له قوماندان ... (نوم يې لرې شوی) سره د خبرو لپاره سوله نه‌شو راوستلای. موږ د دوی غوښتنې پوره کولی نه‌شو. زه ور سره وغږېدم؛ د هغه لومړۍ جمله دا وه چې مسلمانان شئ، زه نه پوهېږم چې دوی کوم ډول مسلماني غواړي.

۸۲ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۰۴۰۷۲۰۱۹.

۸۳ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۰۳۰۷۲۰۱۹.

۸۴ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۰۴۰۷۲۰۱۹.

> زه فکر کوم چې سوله به افغانستان ته په تدریجي ډول راشي. که چېرته دوی د سولې راتلل یو دمي ګڼي، دا غلطه نظریه ده. دغه مېز ته وګوره؛ که غواړې مېز جوړ کړې، باید ګام په ګام مخکې ولاړ شې، بیا به نو بشپړ مېز ولرې. دلته موږ سولې ته روښانه پروګرام نه لرو او تر ډېره فکر کوو چې سوله یو دم راځي.[۸۵]

نوموړې امنیت د سولې اصلي جز ګڼي چې نورو ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي او کلتوري (هڅوبې) مسایلو ته لاره برابروي.

> امنیت، امنیت مالي هوساینه او پرمختګ منځته راوړي. ما عملاً کتلي دي. کومو کلیو کې چې جګړه ده، موږ هیڅ ډول خدمات لکه زده‌کړه او روغتیا نشو ترلاسه کولی او له داسې ښځې سره، چې په خطر او ستونزو کې وي؛ مرسته ورسره نه‌شو کولی. له سولې او امنیت پرته، ژوند بې‌معنی دی. هیڅ هم په کې نه‌شو کولای.[۸۶]

دا لنډه کیسه د سولې په ځايي هڅو کې د یوې ښځې مدیریتي، مشرولي او مذاکراتي ورتیا ښیي. د رپوټونو له مخې نوموړې یواځینۍ ښځه ده چې له ځايي طالب قوماندانانو سره یې په یاد ولایت کې مخامخ خبرې کړې دي. هغې د اقتصادي پیاوړتیا او پراختیایي پروژو له‌لارې په خلکو او ځینو ځايي قوماندانانو خپل تاثیر اچولی دی. له دې څرګندېږي چې امنیت، د سولې د لا ډېرو خبرو له‌پاره د یوه چوکاټ جوړولو اصلي جرړه ده او د اقتصادي هوساینې او ټولنیزو خدماتو اهمیت په ډاګه کوي ترڅو باثباته سوله ولرو.

**د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون په اړه د خلکو انګېرنې**

په بېلابېلو رژیمونو او حکومتونو کې له څو کلنو جګړو او وسلوالو شخړو وروسته، خلک سولې ته بې‌صبرانه انتظار باسي. ښځې د جګړې او ناامنۍ مستقیمې او غیرمستقیمې قربانیانې دي او اوسني رژیم د ملګرو ملتونو **۱۳۲۵**مه ګڼه پرېکړه‌لیک لاسلیک کړی، چې ښځو ته یې په افغانستان کې یو نوی څپرکی پرانیستی دی. په بلخ ولایت کې یوه مرکه‌کېدونکې په دې تړاو وویل:

> په ورته ډول، د سولې د هڅو په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا **۱۳۲۵**مه ګڼه پرېکړه‌لیک دی چې په هېواد کې یې په اړه څوک خبر نه دي. دا ډېره عجیبه ده. موږ د سولې د هڅو او د ښځو ونډې په اړه غږېږو، خو د ملګرو ملتونو **۱۳۲۵**مه ګڼه پرېکړه‌لیک هیڅوک نه پېژني. دا په دې معنی ده چې موږ سوله نه پېژنو. موږ باید د ملي پخلاینې په هڅو کې ښځو ته جلا څوکۍ ولرو. موږ باید د سولې هڅې په شدت سره وڅارو. دواړه لوري (دولت او دولت‌ضد) باید د ملګرو ملتونو د امنیت شورا **۱۳۲۵**مه ګڼه پرېکړه‌لیک مرور کړي.[۸۷]

دا چې په سیاسي مسایلو په ځانګړي ډول په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ښځو بنستیزه ونډه زموږ ټولنې له‌پاره نوې مسئله ده، دا به د افغانستان په څېر پلارواکه ټولنې او طالبانو له‌پاره ډېره سخته وي چې ښځې د پرېکړه‌کوونکو په توګه ومني.

> تنګ‌نظره او مذهبي نارینه دا ډول فکر نه خوښوي. دوی د ډیموکراسۍ او ښځو ونډې ته پام نه کوي.[۸۸]

ښځې یوازې د زړو ښځو (بوډیو) له دریځه په ځايي شخړو او نښتو کې د خپل پرونې په سرولو په واسطه منځګړتوب کولای شوای، خو د سولې راوستو له‌پاره یې د پرېکړه‌کوونکو په توګه په کې ګډون نشو کولای. ښځې غواړي چې د نندارېزې (سمبولیکې) ونډې یا د ښځې په توګه د خپل ځانګړي حیثیت یا عزت کارولو پر ځای باید پرېکنده ونډه ولري او باور لري چې دوی د نورو اتباعو په څېر په ملي پخلاینیزو هڅو کې ونډه اخیستی شي، د هغې زړې ناروا اپوټه (برخلاف) چې د ټولنې اکثریت یې ورڅخه منع کوي.

> کله چې د ملي پخلاینې په اړه خبرې کېږي، د ځینو فکتورونو له‌امله ښځې په دغو خبرو کې نامحسوس رول لري. ویل کېږي چې ښځې نه پوهېږي؛ ډېری لوړ پوړي چارواکي او مشران وايي چې ښځې کافي سیاسي پوهه نه لري. بل ټکی دا دی چې له چا سره د سولې په اړه خبرې کوو، مخالفه ډله هغه خلک دي چې ښځې د بشر په توګه نه مني او وايي چې ښځې فکر او پرېکړې نه‌شي کولی. دوی له سړو غواړي چې پرېکړې وکړي او په ښځو یې پلي کړي. له همدې امله، موږ د هغې ډلې خلاف یو چې ښځو سره خبرې نه غواړي، هغه که هر چېرته یا هر هېواد کې خبرې کوي. دا ټکي دي چې ښځې یې د ملي پخلاینې په هڅو او پرېکړه‌کولو کې له کافي ونډې او ګډون راګرځولې دي.[۸۹]

---

۸۵ مرکه، بلخ، -۰۴۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۸۶ مرکه، بلخ، -۰۴۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۸۷ مرکه، بلخ، -۰۷۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۸۸ مرکه، بلخ، -۰۳۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۸۹ مرکه، بلخ، -۰۳۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

سړي په سیاست کې د ښځو ګډون نه غواړي. هیڅکله هم نه. لکه څرنګه چې مې مخکې وویل، سړي له کوم امتیاز او ګټې پرته، ښځې یوازې په خپل څنګ کې غواړي. که پیسې او واک وي، دا باید یوازې سړیو لپاره وي، نه د ښځو لپاره. له همدې امله، د سړي له نظره، په سیاست کې ډیموکراټیک ګډون ښځو لپاره نه دی، یوازې سړیو لپاره دی.[۹۰]

یو نارینه مرکه‌کېدونکي ویل چې سړي له ښځو ډېره وړتیا لري ترڅو د ملي پخلاینې په هڅو کې ګډون ولري او دوی د ښځو حقوق او حیثیت خوندي کولای شي:

زما له انده، اړتیا نه لرو چې د سولې بهیر ته ښځې ولېږو. موږ باید داسې سړي ولېږو چې پنځه‌کاله وروسته وضعیت ارزولی شي او پرې پوهېږي. زه په پارلمان کې د **۲۵** سلنه ښځینه ونډې پلوي نه کوم. موږ باید سړي ولرو ترڅو په ټولنه کې د ښځو حقوق او وقار خوندي کړي. که چېرته د ملي پخلاینې هڅو ته ښځې لېږو، دوی باید هېوادپالې او د سولې د چارو متخصصې وي. د ښځو د ګډون په اړه د خبرو پرځای باید داسې ملي اجندا ولرو چې د ټولو خلکو او ښځو حقوق خوندي کړي.[۹۱]

په پایله کې، ښځې په ملي او نړیواله کچه داسې ځواکمن ملاتړ نه لري چې د ملي پخلاینې په هڅو کې فعاله ونډه ولري. د بلخ ولایت ډېټا (معلومات) ښیي چې ښځې د ملي پخلاینې په هڅو کې څنډې ته شوي دي.[۹۲] د عامه خلکو له انده، د سولې په خبرو اترو کې د ښځو ګډون لومړیتوب نه دی، ځکه نو تر دا مهاله د هر چینل له‌لارې په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ښځو ونډه تر ډېره ننداریزه (سېمبولیکه) ده.

سولې لپاره د ښځو له لوري اخیستل شوي ګامونه

ددې لپاره چې ملي پخلاینې ته د ورته هڅو په څېر په سیاسي مسایلو کې د دوی محدود ګډون زیات کړل شي، ښځې د کنفرانسونو، ورکشاپونو او نورو ورته پروګرامونو له لارې خپلو حقونو د دفاع او په ټولنه کې یې په تړاو د عامه پوهاوي خپرولو لپاره لا ډېرې فعاله شوې. په دې تړاو د جنډر او ښځینه‌حقوقو فعالانې داسې وایي:

پخوا مو د سولې کمېټه درلوده او ځینو ښځو ددغې کمېټې غړیتوب لاره. دوی د ملي پخلاینې په هڅو کې کوم ځانګړی رول نه درلود. د دوی رول تر اداري چارو او په ځینو ناستو کې تر ګډون پورې محدود و.[۹۳]

ما د عامه پوهاوي یو شمېر پروګرامونه ترسره کړي دي. زه باور لرمه که چېرته د خلکو ذهنیت تغییر نه کړو، نو هیڅکله به دا پروګرام پلی نه کړی شو. په دغو پروګرامونو کې، مو د جګړې په زیانونو او د سولې په ګټو بحثونه کړي. له بده مرغه، د سولې عالي شورا خپلو ولایتي کمېټو لپاره کوم مناسب پلان او کړنلاره نه درلوده. موږ له خپلو اړیکو کار اخیست او د خپلو پېژندګلویو او اړیکو له لارې مو خپل کار او خپلې چارې مخته وړلې. زموږ د چارو پرمخ وړلو لپاره کوم مناسب پلان یا تګلاره نه وه.[۹۴]

۹۰ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۱۱۰۷۲۰۱۹

۹۱ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۰۸۰۷۲۰۱۹

۹۲ Patricia Gossman, editor. Women's Rights, Gender Equality, and Transition: Securing Gains, Moving Forward. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, ۲۰۱۳.

۹۳ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۰۸۰۷۲۰۱۹

۹۴ مرکه، بلخ- UNW-WPPD-۱۳۰۷۲۰۱۹

> په دوهم قدم کې، موږ د ملي پخلاينې او روغې جوړې په هڅو کې د ښځو ګډون لهپاره هلې ځلې کوو. په همدې موخه مو په ملي پخلاينيزو هڅو کې د ښځو د ونډې لهپاره ډېر شمېر ورکشاپونه او سيمينارونه تنظيم کړي دي. زه روزنيزه ماسټره (ماسټر ټرينره) وم. ما د ټولنې بېلابېلو برخو خلک روزلي دي او د سولې په هڅو کې د ښځو رول په اړه مې معلومات ورکړي دي. دغه راز مې «د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ګډون» تر سرليک لاندې پوليسو ته هم روزنې ورکړې دي. د فارياب په ۱۴ ولسواليو کې مو د سولې لهپاره د ښځو شوراګانې (ښځينه شوراګانې) هم تأسيس کړي دي. موږ ددې شوراګانو غړي هم روزلي دي. ددغو شوراګانو له لارې يې غړو په کورنۍ او ولسوالۍ کچه په شخړوا هوارولو کې ونډې اخيستې دي.[۹۵]

په بلخ ولايت کې مدني فعالانو، د ښځينه حقونو فعالانو او د سولې اړوند فعالانو د حکومتي چارواکو لکه د سولې عالي شورا کمېټې د ښځينه غړو سره يو ځای عامه پوهاوي، ورکشاپونه، کنفرانسونه او مبارزوي پروګرامونه په لار اچولي دي. دا ټول ددې څرګندونه کوي چې ښځې په عملي ډول د دولتي او غير دولتي هڅو له لارې د سولې اړوند خبرو اترو کې ونډه نهشي اخيستی. پرځای يې، دوی داسې پروګرامونه په لار اچوي چې د سولې دفاع وکړي او عامو وګړو ته عامه پوهاوی وړاندې کړي چې په لويه کچه يې د ښځو ونډه او ځای تر اغېز لاندې راوستی دی.

### ننګونې او ګواښونه

له نولس کلنو هڅو وروسته لا هم افغان ښځو پر وړاندې خنډونه پراته دي. دوی له بيا ځلي بنديزونو څخه وېره لري او له طالبانو سره مرکچي سړيو ته پيغام لري-«پر طالبانو مو مه پلورئ».-[۹۶]د عامه پوهاوي اړوندو پروګرامونو سره سره، ښځې لا هم په ټولنه کې له ننګونو سره مخ دي او د دولتضد وسلوالو (طالبانو، داعش او نورو وسلهوالو ډلو) تر ګواښ لاندې دي. ښځې طالبانو سره له جوړجاړي وېره لري او لا هم پر نړيوالې ټولنې او افغان دولت بشپړ باور نه لري. لاندې درې ټکي دولتي چارواکو په ګوته کړي دي:

> دلته يو شمېر تاوتريخوالي د خلکو له لوري ترسره شوي. فرخنده وسوځل او ووژل شوه، په ځينو جنسي تيري وشول، دا چا وکړل؟ طالبانو؟ نه، دا ددې ټولنې د خلکو له لوري ترسره شوي دي.[۹۷]

> زه منم چې د ښځو ونډه ننداريزه (سمبوليکه) ده؛ يو لامل يې کلتور (هڅوب) دی؛ لا هم سړي د ښځو پر حقوقو او وړتياوو باور نه لري. بل لامل يې، د ډيموکراسۍ نوې‌والی دی؛ چې ولس يې په بشپړډول نه مني. ددې سربېره، دريم لامل، هغه مېرمنې دي چې د ولايتونو په لوړو پوستونو کې کار کوي خو د ښځو دفاع نه کوي او والي ته د ښځينه کارکوونکو ډېرېدو او په دولتي چارو کې يې د ننداريزې ونډې تغييرولو مشوره نه ورکوي.[۹۸]

> تاسو پوهېږئ چې ددې پرېکړې لامل څه و؟ اوس مېرمنې پوهې شوې چې حکومت او نړيواله ټولنه هڅه کوي چې له طالبانو سره سوله وکړي. دوی د طالبانو شاليد مطالعه کړی دی. دوی پوهېږي که طالبان واک ترلاسه کړي، نو يو ځل بيا به په ښځينه غورځنګونو قيودات ولګول شي. نو، دوی پرېکړه کړې چې د سولې په بهير کې رغنده ونډه ولري؛ که نه نو ددوی ۱۸ کلنه مبارزه او لاسته‌راوړنې به له ګواښ سره مخ شي او حکومت ته اجازه نه ورکوي چې دا کار وکړي.[۹۹]

۹۵ مرکه، بلخ، -UNW-WPPD-۱۲۰۷۲۰۱۹

۹۶ فاطمه فيضي او ډيوډ زوچينو.«۷۰۰ افغان مېرمنې يو پيغام لري: پر طالبانو مو مه پلورئ» نيويارک ټايميز. پته:https://www.nytimes.com/۲۰۱۹/۰۲/۲۸/world/asia/afghanistan-women-taliban.html د فبروری ۲۸، ۲۰۱۹. [د لاسرسي نېټه: ۱۵/جولای/۲۰۲۰].

۹۷ مرکه، بلخ، -UNW-WPPD-۱۰۰۸۲۰۱۹

۹۸ مرکه، بلخ، -UNW-WPPD-۱۳۰۷۲۰۱۹

۹۹ مرکه، بلخ، -UNW-WPPD-۱۰۰۷۲۰۱۹

له پورتنیو ننګونو سربېره، په هر ډګر کې، په ځانګړي ډول په ملي پخلاینیزو هڅو کې، د ښځینه ګډون پر وړاندې بله ننګونه، د ښځینه حقوقو اړوند د یوې دایمي او باثباته ادارې یا انستیټیوټ نه شتون دی. له ۲۰۰۱ راهیسې، ټول مرستندویه پروګرامونه پروژوي وو. په دې تړاو یو دولتي چارواکی وايي:

> ځیني مؤسسې وې چې د سولې اړوند یو شمېر فعالیتونه یې کول، خو دا غیر دولتي مؤسسې وې او فعالیتونه یې پروژوي و، چارې یې د اوږدمهال پر ځای، لنډمهاله وې. نو له همدې امله یې بسنه نه کوله. د بېلګې په توګه، د افغان ښځو شبکې په دغه ولایت کې د سولې اړوند کارونه کړي خو پروژه یې بشپړه شوې او اوس هیڅ هم نه کوي.[100]

یو بل دولتي چارواکي ویل چې د لوستو او متخصصو ښځو لږه سلنه (فیصدي) هم په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ښځو فعال ګډون ننګوي.

> تعلیم د تر ټولو مهمو مسایلو له ډلې څخه دی چې له هرې ټولنې سره د پرمختګ په برخه کې مرسته کوي. فکر کوم دا به له تلپاتې سولې سره هم مرسته وکړي. هغه لاملونه چې جنګ یې رامنځته کړی، بېلابېل دي. ښايي ځیني سیاسي مسایل هم وي چې موږ ورباندې نه پوهېږو، خو یو لامل یې وروسته‌پاتې او نالوستې ټولنه ده.[101]

د پورته نقاطو څخه دا پایله لاسته راځي، چې ځیني ځانګړې ننګونې او ستونزې شته چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ښځو د ګډون پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي. ښځې لا هم د ټولنیزو تاوتریخوالو او کلتوري (هڅوبي) خنډونو سره لاس او ګرېوان دي، چې لامل یې د پوهنیزې کچې ټیټوالی دی. په ټولنه او آن په دولتي ادارو کې د طالباني نظریې شتون، د سولې په هر ډول هڅو کې د ښځینه ګډون پر وړاندې بله ننګونه ده. له بل پلوه، ښځو د سولې په خبرو کې د خپلو حقوقو اړوند نه کومه دولتي او نه کومه د نړیوالې ټولنې متمرکزه او ځانګړې ستراتیژي کتلې ده. دغو ټکو او د طالبانو شالید ته په کتو نورو ننګونو په ملي او نړیواله کچه د سولې په خبرو کې د ښځو ځای کمزوری کړی دی. ښځې څنډې ته شوي او د دوی ګډون اوس هم د سړیو له لوري مشخص کېږي او تر برابریزو تغییراتو پورې به، دا ناشوني وي چې ښځې په روانو ملي پخلاینیزو هڅو کې له معنا ډکه ونډه ولري.

---

۱۰۰ مرکه، بلخ- -WPPD-UNW-۱۳۰۷۲۰۱۹

۱۰۱ مرکه، بلخ- WPPD-UNW-۰۹۰۷۲۰۱۹

## ۳.۳ بامیان

بامیان د افغانستان مرکزي ولایت دی. د هېواد نورو برخو په څېر، په تېرو رژیمونو کې له جګړې اغېزمن شوی، خو له ۲۰۰۱ز. راهیسې نسبتاً امن دی.[۱۰۲] دا نسبي امنیت ښځو او نجونو لپاره د روڼاندې ترڅنګ د فعالیت او فرصتونو رامنځته کېدو لامل شوی. د بېلګې په توګه بامیان یو له هغو ولایتونو دی چې ډېرې لږې نجونې یې له ښوونځي بهر دي.[۱۰۳] تېر ته په کتو، اصلاً په بامیانو کې د ښځو موقف په تړاو هیڅ ریکارډ نشته ځکه بامیان د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو ډېر لرې پرتو سیمو کې راځي او په سیاسي چارو کې د ښځینهوو د ګډون په تړاو، ددغه ولایت تاریخ ډېر نوی دی. په دا وروستیو کې، دلته ځینې استثنایي مېرمنې وې چې پربکړې یې کولی شوې، لکه ارباب خدیجه، چې د کلي ملکه وه او د محمد ظاهر شاه په پادشاهۍ او سردار محمد داودخان د حکومت پرمهال یې ژوند کاوه.

د لسیزو جګړې او ناامنۍ، زده‌کړې ته د بامیاني مېرمنو لاسرسی پېچلی کړی دی. د محمد ظاهر شاه د پادشاهۍ څخه تر اوسني رژیم پورې، په بامیانو کې د نجونو او ښځو زده‌کړه په نوبتي او واریز شکل وه، چې ښايي په ټولنیزو چارو کې د ښځو ګډون د اغېزمنولو یو لامل وي. په سیاسي چارو کې د ښځینهوو ونډې ډېرېدو ترڅنګ، زده‌کړیزو خدماتو ته د لاسرسي ډېرېدل په دغه ولایت کې د پام وړ ګرځېدلي دي.

نور فکټورونه چې په بامیانو ولایت کې د بېلابېلو برخو کې د ښځینهوو ونډې په ډېرېدو یې اغېز ښندلی دی، د افغانستان په تاریخ کې بامیانو لپاره د لومړنۍ ښځینه والۍ انتخاب دی.

> تاسو پوهېږئ چې بامیان لومړنی ولایت دی چې ښځینه والۍ یې درلوده او لومړنی ولایت دی چې اتو کلونو لپاره یې په ټاکنیزو چارو کې یوه بریالۍ ښځه درلوده. دا یوازینی ولایت دی یوه ښځینه په کې دوه کاله د پوهنتون رئیسه وه. اوسنۍ مستوفۍ یې ښځه ده چې له والي وروسته دوهم ځای لري، یو څه موده دبشري حقونو ولایتي رئیسه ښځه وه او د ولایتي شورا لومړنۍ رئیسه یې هم ښځه وه.[۱۰۴]

دا رابرسېره کېدونکې لاستهراوړنې د تېر ۱۹ کلن امنیت له امله ترلاسه شوي، چې بامیاني وګړو، په ځانګړې ډول ښځو، ته یې یو چوکاټ برابر کړی ترڅو زده‌کړه وکړي او په ټولنیزو، هڅوبي (کلتوري)، اقتصادي، امنیتي او سیاسي برخو کې ونډه واخلي. افغان دولت د نسبي امنیت له دغه چانس څخه ګټه اخیستې ترڅو د نورو نوښتونو سربېره، د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمیسیون سیمه‌ییز دفتر په جوړولو، د افغانستان په تاریخ کې د لومړنۍ ښځینه والۍ په درلودلو او په امنیتي دفاترو کې د جنډر لومړنې دیپارټمنټ په جوړولو سره بامیان د ښځینه حقوقو عملي تجربوي ځای وګرځوي. دغه کار بامیانۍ ښځې هغه ټولنیز، اقتصادي، کلتوري (هڅوبي) اوسیاسي حالت ته رسولي چې پخوا نه وې.

**په بامیانو کې د سولې تعریف**

په بامیانو کې سړي او ښځې سوله داسې حالت ته وایي چې هر فرد د یوه بشر په توګه خپلو قانوني حقوقو ته لاسرسی ولري. په ساده ډول دوی سوله د جګړې پای‌ته‌رسېدو ته نه وایي. خلک غواړي چې ټولنیز، اقتصادي، کلتوري (هڅوبي) او سیاسي امنیت ولري او ښځې او نارینه یې په مساوي ډول په کې ګډون ولري. ځینې نارینه او ښځینه مرکه‌کېدونکي داسې وایي:

> زه فکر کوم چې په ټولنه کې باید امنیت او عدالت وي. ښځې باید ددې وړ وي چې د سړیو په څېر له خپلوحقونو ګټه واخلي.[۱۰۵]
>
> په ساده ټکو، دوی لپاره سوله داسې حالت دی چې له اندېښنې پرته کار وکړي او هر چېرې ولاړې شي. دوی سوله د جګړې پای ته نه وایي. دوی لپاره دا سوله ده چې د هلکانو په څېر خپلواکې وي او د سړیو په څېر فرصتونو ته لاسرسی ولري. مورګورو چې هلکان د وړتیا لوړولو لپاره په کورسونو یا ساتېرۍ لپاره د شپې تر ناوخته پورې بهر وي او نجونې هم باید دا فرصت ولري. دې ته د ښځینهوو لپاره سوله وایي. سوله دا معنی ده چې نجونې هم د هلکانو په څېر په عامه ځایونو کې تکرېښت (سپورټ) وکړی شي. د جګړې پای سوله نه ده. ټول وګړي (اتباع) باید له خپلو حقوقو ګټه واخلي چې د قانون پر بنسټ ورکول شوي دي.[۱۰۶]

---

۱۰۲ ګروپي بحثونه، بامیان - ۳۱۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD.

۱۰۳ پوهنې وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوریت، د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (UNICEF). له ښوونځي بهر ماشومانو نړیواله اداره: ټول ماشومان په ښوونځي او زده‌کړه کې: افغانسان، د هېواد مطالعه. پته:https://static۱.squarespace.com/static/۵d۱f۱۵۲۲۹a۳۸c۳۰۰۰۱/t/۵cfe۲c۸۹۲۷۲۳۴e۰۰۰۱۲۸۸۳۴۳/۱۵۲۲۳۱۸۱۸۸۴۱۵/۰a۰۲۴۸/SH-UNICEF-OOSC-Report.pdf, [لاسرسی: ۱۵ جولای، ۲۰۲۰]

۱۰۴ مرکه، بامیان- -۲۹۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۱۰۵ مرکه، بامیان- -۲۶۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

۱۰۶ مرکه، بامیان- -۳۰۰۷۲۰۱۹-UNW-WPPD

سوله د ټولنيزې سوکالۍ، امنيت، ارامۍ او له شخړو پرته ژوند په معنی ده. د سولې روان بهير د افغانستان اوسني حالت او وګړو ته په کتو نه دی مشخص شوی.[۱۰۷]

د سولې بهير هغه پرېکنده بهير دی چې جګړه پای ته ورسوي. مګر په لوړه بيه يې بايد ختمه نه کړي. موږ بايد خپلې لاسته‌راوړنې ونه بايلو. لکه څرنګه چې مې د باميان بېلګه درکړه، دا لاسته‌راوړنې چې ښځې يې دلته لري، په اسانۍ نه دي ترلاسه شوي. زه يې ۱۳ کاله شاهده وم، چې څومره وخت يې واخيست ترڅو په کراره تغيير راشي او اوسني حالت ته ورسيږي. که چېرته موږ د ټولنې د يوې برخې د حقوقو او قربانيو په بايللو سره سوله ترلاسه کړو، زه ورته سوله ويلی نشم. سوله دې ته وايي چې ټول خلک خپلو حقوقو ته ورسېږي او د دوی غوښتنې د افغانستان د اتباعو په څېر محترمې وګڼل شي.[۱۰۸]

زه فکر کوم، هغه مېرمنې چې په باميانو کې د مديريت او مشرتابه په بستونو کې دي، سوله ښځو ته داسې حالت ګڼي چې ښه وده په کې وکړي. دا روښانه ده، چې سوله د ټولنې ټېلاټېلو ټوليو ته ګټوره ده، ولې ښځې بايد ترې ډېره ګټه واخلي ځکه ښځو په جګړه کې ډېر زيان ليدلی. زه دا د هغو ښځو په اړه وايم چې په دغه ولايت کې يې کليدي دندې ترسره کړي دي. دوی داسې چاپيريال خوښوي چې د لا ډېر پرمختګ فرصتونه ولري.[۱۰۹]

په باميانو کې ښځو او سړيو له‌پاره ټولنيزه او مالي هوساينه، تعليمي خدمات او د ټولنې په هره مسئله کې د ښځو ونډه د سولې تر ټولو اړينې برخې دي. په ټولنيز، اقتصادي او سياسي ډګرونو کې د ښځو ګډون څرنګه ټولنه بدلوي، او کېدای شي چې باميان يوه مناسبه تقليدي بېلګه وي. يوه جنډري فعال، يو بشري حقوقي فعال او يوه خبرياله په باميانو کې د سولې په بهير باندې د اقتصادي سوکالۍ او د خلکو ګډون اغېزې تر بحث لاندې نيولي دي:

...که چېرته ټول خلک دندې اوعايد ولري، دوی به د عايد له‌پاره ناسمه لاره غوره نه کړي. وايي چې پيسې نېکمرغي نه راوړي، خو لکه څرنګه چې وينو، په يقيني ډول چې بدمرغي او بدبختي زېږوي. زه دا ځکه وايم چې فکر کوم هغوی چې تاوتريخوالي کوي او دولتضد ډلو سره يو ځای کېږي، د خپلې کورنۍ اړتياوو پوره کولو له‌پاره مناسبه او خوندي دنده نه لري.[۱۱۰]

په حقيقت کې، موږ ويلی شو چې د سولې مهمې برخې دا دي: د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ټول افغاني اتباع، بايد خپلو لومړنيو او قانوني حقوقو ته لاسرسی ولري. امنيت، مالي هوساينه او د هېواد په سياست کې ونډه‌اخيستل د ټولواتباعو لومړني حقونه دي.[۱۱۱]

زما له انده، د سولې مهم اړخ د جګړې د جرړو ويستل دي. په دې کې کلتوري (هڅوبي) اړخ، اقتصادي اړخ او د سياسي ځواک وېشل شامل دي.[۱۱۲]

د پورته ټکو په شننې سره، ځيني فکتورونه لاسته راځي چې په ټولنه کې سوله تخريبوي. لومړی، د مالي هوساينې او ټولنيزو خدماتو نه شتون خلک دولتضد وسله‌والو سره يوځای کېدوته هڅوي ترڅو عايد ترلاسه کړي. بل مهم ټکی د خلکو ښکېلتيا او مشارکت او د سولې په اړه د خلکو په ځانګړي ډول د ښځو او همدارنګه د قومي ډلو، عمر له لحاظه او ټولنيز-اقتصادي وضعيت ته په کتو د بېلابېلو ډلو ليدلوري دي. بله ذکر شوې موضوع دا ده چې په هېواد کې روان ګډوډ سياسي وضعيت څرنګه د خلکو په مينځ کې شکوک ډېروي. ځيني چارواکې، مدني فعالان او بشري حقونو فعالان او ښځې او سړي باور لري چې په هېواد کې د سولې مسئله يو معما ګرځېدلې ده: دا څرګنده نه ده چې دولت له چا سره خبرې وکړي، حکومت څرنګه خپل دښمن تعريف کړي او څرنګه په دغه بهير کې ښکېل وي. ځينو پوښتل‌کېدونکو خپل نظريات داسې څرګند کړي دي:

لومړی، بايد ووايم چې د افغانستان د سولې مسئله يو مبهم بهير دی. ځکه د افغانستان خلک له جګړې ځورېږي، مګر دوی (دواړه ښځې او سړي) د سولې په خبرو کې ښکېل نه دي. خو ښځې داسې انګېري چې دوی بايد د ملي پخلاينې په هڅو کې ډېره اړينه ونډه ولري. سوله ښځو او سړو دواړو ته اړينه ده، خو ښځې ډېرې ځورېږي. دوی خپل مېړونه، زامن او ورونه بايللي چې له اروايي پلوه معلول دي. دا چې دوی له سړو ډېرې احساساتي دي، دوی ډېره سوله غواړي. [۱۱۳]

۱۰۷ مرکه، باميان- -UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹

۱۰۸ مرکه، باميان- -UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۰۹ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۱۰ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۲۶۰۷۲۰۱۹

۱۱۱ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹

۱۱۲ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۱۳ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۲۹۰۷۲۰۱۹

لومړی باید سوله تعریف کړو، چې له چا سره سوله کوو او څوک له موږ سره سوله کوي. له بده مرغه، موږ سربداله یو چې څوک زموږ ضد دي، آیا موږ له طالبانو سره خبرې کوو یا له بل چا سره. دا باید روښانه وي؛ هر څه باید د دوی له لوري ترتیببېدونکي پربکړهلیک کې په څرګنده تعریف شي.[۱۱۴]

د بېلګې په توګه، په دوحه کې چې کوم پرېکړهلیک ترتیب شوی و، طالبانو ویلي وو چې دوی د اسلامي شریعت پر بنسټ اساسي حقوق مني. هغه نظر او تعریف چې موږ یې اسلام ته لرو د طالبانو له تعریف سره بشپړ توپیر لري. آن، د ننګرهار او بامیانو ترمنځ هم توپیر لري، هر ټکی باید روښانه وي.[۱۱۵]

موږ د سولې د بهیر په اړه په یوه حساس پړاو کې یو، دا چې موږ خپل دښمن په څرګنده نه دی تعریف کړی، طالبانو او نورو دښمنانو ته وروڼه ویل کېږي، چې لا هم خپل دښمن نه پېژنو. همدا چلند له سولې سره هم کېږي. د ملي پخلاینې بهیر روان دی، خو ټولو لهپاره نه دی تعریف شوی.[۱۱۶]

په پایله کې، د بامیان خلک په دې عقیده دي چې سوله او مالي هوساینه به له ټولنې څخه یوازې د جګړهییز جرړو په لهمینځه وړلو او دغه راز د دښمن په ناڅرګند تعریف او دولتضد ګروپونو پر وړاندې د دولت له نامعلومې ستراتیژۍ سره رامنځته نه شي. د باثباته او متداومې سولې لهپاره، د طالبانو لهلوري د افغانستان اساسي قانون منل او د هر یو کس په ځانګړې ډول د ښځو ونډه تر ټولو ډېره اړینه ده.

**د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه**

د لسیزو جګړې او د پلارواکې ټولنې ترځنګ محرومیت، لکه د هېوادو نورو برخو په څېر، په بامیانو کې هم ښځې ځنډې ته کړې دي. ښځو لهپاره داسې فرصت نه و چې یا په ټولنیز، اقتصادي، کلتوري (هڅوبي)، زدهکړیز او یا په سیاسي ډګر کې ونډه ولري. یوه نارینه مرکهکېدونکي ویل چې د سولې خبرې اترې په افغانستان کې نوې نه دي، خو په یوه وخت کې هم ښځو په دا ډول خبرو کې ونډه لرلې نه ده.

بله مسئله دا ده چې ښځې (د دوی ګډون ته په کتو) ډېر لنډ ټولنیز، کلتوري (هڅوبي) او سیاسي شالید لري. که چېرته د تاریخ په اوږدو کې د ښځینهوو ګډون ته وګورو، نو ډېر زیات نامحسوس ښکاري. په حقیقت کې، په هره برخه کې د ښځو ونډه ډېره لږه یاده شوې ده او آن هیڅوک نشته چې بحث ورباندې وکړي. په هیڅ کومه ملي مباحثه کې ښځو ګډون نه درلود. تاسو یې یوازې د تېرو **۱۵** کلونو په اوږدو کې د اوسني رژیم د ملي پخلاینې په هڅو کې لیدلی شئ. خو، د ملي پخلاینې هڅې د ډاکټر نجیب د حکومت پرمهال پیل شوې. هغه پیل کړې او په ټولو دولتضد ډلو یې غږ وکړ چې سوله وکړي او ټاکنو کې ګډون وکړي. هغه مهال هم ښځې نه وې موجودې. په ورته ډول د مجاهدینو دوره هم وه. خو اوسني نوي رژیم د ښځو ځای مشخص کړ ترڅو ښځې ونډه ولري او ملي پخلاینیزو هڅو ته ورته پرېکنده مسئلو کې د دوی رول مشخص کړل شي.[۱۱۷]

نو، د ښځو سیاسي ګډون، په تېره بیا د سولې په بهیر کې، ډېر لنډ تاریخ لري، خو په روغه جوړه[۱۱۸] کې د دوی ونډه ډېره اوږده کلتوري (هڅوبي) او مذهبي لرغونتیا لري. لکه د نورو ځایونو په څېر، په بامیانو کې هم روغې جوړې لهپاره دولتي او غیر دولتي میکانیزمونه موجود و. یوازینی حکومتي میکانیزم د سولې عالي شورا (HPC) وه او غیر دولتي میکانیزمونه د خلکو ځایي شوراګانې او جرګې وې.

۱۱۴ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۱۵ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۱۶ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹

۱۱۷ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۱۸ روغه جوړه (دې لیکنه کې د ځایي شخړو هوارې لهپاره کارول شوې ده)

### دولتي میکانیزم: د سولې عالي شورا

د سولې عالي شورا په هر ولایت کې یوه کمېټه جوړه کړې، په بامیانو کې هم یوه لري چې ۲۸ غړي لري او یوازې یوه یې ښځه ده.[۱۱۹] دا کمېټه یوازینی دولتي میکانیزم دی چې په بامیانو ولایت کې د روغې جوړې او ملي پخلاینې هڅو ته ورته مسایلو سره سر او کار لري، نو د دوی یوه اصلي دنده په ځینو لرو پرتو ولسوالیو کې له ځایي وسلوالو ډلو سره خبرې اترې دي. د مرکه‌کېدونکو د وینا پر بنسټ، د کمېټې ښځینه غړې یوازې د شخړو هوارولو په ځايي مسئلو کې، له ټولو ښځینه مسایلو سره سر او کار لري.

> موږ سولې شورا درلوده ده چې اوس ختمه شوې ده. دوی ځايي وسلوال قومندانان هڅول چې تسلیم شي او له دولت سره یو ځای شي (هغوی چې طالبان نه و). ښځې هم په دې شورا کې وې، خو زه نه پوهېږم چې که دوی دغو قومندانانو سره مستقیماً خبرې کولې او که نه. دغه قومندانان تسلیم شول.[۱۲۰]

> د سولې عالي شورا د کمېټې شتون پرمهال، د کمېټې مرستیاله ښځه وه. کله چې دلته د سیمینار، ورکشاپ یا د ښځو او سولې اړوند مسایلو په تړاو کومه غونډه کېده، هغې ورکې ګډون کاوه.[۱۲۱]

د بلخ په څېر، په بامیانو کې هم د سولې عالي شورا ولایتي کمېټې ښځینه غړو د سولې په ځايي خبرو اترو کې ونډه نه درلوده. دوی په هېواد کې د سولې لپاره د مبارزې او عامه‌پوهاوي ورکولو سره د مدني ټولنو په فعالیتونو کې ښکېلې وې.

### غیر دولتي میکانیزمونه

غیر دولتي میکانیزمونه په افغانستان کې د شخړو او لانجو د هواري په توګه د روغې جوړې لپاره دودیز میکانیزمونه دي او بامیان هم کوم استثنایي ولایت نه دی. که څه هم پخوا د روغې جوړې په غیر رسمي میکانیزمونو کې د ښځو ګډون استثنایي وو، خو په دا وروستیو کې ښځې د رسمي ګډون یا مشارکت زیات فرصتونه لري. د ځايي شخړو په هوارولو کې د ښځینه‌وو د ګډون په تړاو یو دولتي چارواکی وایي:

> د طالبانو په اړه نه، خو د ښځینه تاوتریخوالي لپاره موږ یوه ډله درلوده چې د منځګړي په توګه یې د دا ډول مسایلو هوارولو لپاره خبرې اترې کولې، د بېلګې په توګه، کوچنۍ مسئلې لکه له کوره د ښځو تېښته، یا کورنی تاوتریخوالی، یا ځايي شخړې او منازعې.[۱۲۲]

په حقیقت کې، په بامیانو کې ښځو یوازې د روغې جوړې په مسئلو کې د پرېکړه‌کوونکو یا ځايي کورنیو شخړو کې د مشرانو په توګه ونډه درلوده. د ښځو رول ډېرېدا سربېره، لا هم دوی په ځايي کچه محدودې دي.

د یادولو وړ ده چې د بامیانو نسبي امنیت له‌امله، هلته ډېر لږ طالبان دي، نو ځکه له هغوی سره د ښکېلتیا فرصتونه هم لږ دي. بې‌باوري، له طالبانو سره د ښکېلتیا د مخنیوي بل لامل دی. د مدني ټولنې او د بشري حقوقو یوه فعال ویل، چې ده لپاره طالبان باوري ډله نه ده: «نه، نه، ځکه موږ پر دوی باور نه شو کولی او دوی ځانګړې او معلومه پته نه لري چې خبرې اترې ورسره وشي.»[۱۲۳]

### یوه لنډه کیسه

یوې مرکه‌کېدونکې خپله کیسه راته وکړه او ویې ویل چې په ټولنه کې څرنګه د پرېکړه‌کوونکې په توګه فعاله ده. که څه هم ښوونځی یې بشپړ کړی نه و، هغه یوه سوداګره وه او داسې ټولنیز وضعیت کې وه چې په خپله ټولنه کې یې له ښځینه مسایلو سره سر او کار درلود. سره له دې چې هغه د ټولنیزې شورا د ځینو نارینه غړو له اړخه له پامه غورځول شوې وه، خو بیا هم هغې د سولې په ملي مشورتي جرګه کې د قومي مشرې په توګه ګډون کړی و. هغې په ګیله‌منه لهجه وویل:

> سړي هر چېرته ښځې په پام کې نه نیسي. ما ته وګوره؛ زه په دې کلي کې ښځینه استازې یم. هر کله چې په کلي کې کومه غونډه یا ناسته وي، د سړیو شورا مشر ما نه غواړي. ما ورته ویل، چې ولې مې نه غواړې... هغه بیا ډېرې بهانې جوړوي.[۱۲۴]

---

۱۱۹ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۲۰ مرکه، بامیان- -UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۲۱ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹

۱۲۲ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۲۳ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۹۰۷۲۰۱۹

۱۲۴ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۰۴۰۸۲۰۱۹

دلته زموږ په ګاونډ کې، يوه هلک د بل ځای کومه نجلۍ خوښه وه او له هغې سره وتښتېد... د نجلۍ کورنۍ د هلک له مور څخه ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ غوښتې. دا چې نوموړې ډېره بېوزله وه او نه يې شو کولی چې دومره ډېرې پيسې ورکړي، نو د پيسو په ځای يې په بدو کې د خپلې ۱۲ کلنې لور ورکول ومنل. دا يو جرم دی. ما وډار کړه چې داسې پرېکړه دې نه کوي، که نه نو زه به پوليسو او بشري حقونو خپلواک کميسيون (AIHRC) دفتر ته خبر ورکړم. ما د هغې نجلۍ کورنۍ سره هم خبرې وکړې او ورته مې کړه، که دوی دا موضوع لا پسې وغزوي، زه به يې پوليسو ته په لاس ورکړم. بالاخره، دوی تړون راوړ او لغوه يې کړ.[۱۲۵]

د باميانو د نسبي امنيت او محسوس حالت سره سره، په ټولنه کې د نرواکۍ يا پلار واکۍ کلتور (هڅوب) لا هم ژوندی دی، خو هغې خپله مبارزه روانه ساتلې ترڅو ښځو سره خپله مرسته وکړي. د هغې موخې نوموړې نورو ولايتونو ته هم رسولې ده. د يوې فعالې ښځې په توګه، هغې له نورو ولايتونو لکه ننګرهار څخه باميانو ته ښځو لهپاره سفرونه تنظيم کړي دي او نورو ولايتونو ته د ښځو ليدلو لهپاره تللې ده. هغې غوښتل چې ددغه نوښت لهلارې نظريات تبادله کړي او په ملي کچه د ښځو د ګډون لهلارې د روغې جوړې يوه شبکه جوړه کړي. هغې د خپلو کارونو د پايلې په توګه وويل:

حکومت بايد ښځو ته په هره برخه کې د ګډون اجازه ورکړي. زه په ننګرهار کې ځينې ښځې پېژنم، د دوی زامن پخوا طالبان وو، خو اوس نه دي. پر ما باور وکړئ؛ سوله له مسکو څخه نه راځي. تر هغو چې ښځې د ملي پخلاينې په هڅو کې ګډون ونه لري، بل هيڅوک به يې راوړلی نه شي. د ټولو ولايتونو ښځينهوو ترمنځ دې اړيکې رامنځته کړل شي ترڅو د يوې بلې له درد او د جګړې له ځور څخه خبرې شي. که يې يوازې سړيو ته پرېږدئ، نو هماغه جنګ او جګړه به وي. څومره چې ښځې د ملي پخلاينې په هڅو کې راګډېږي، موږ به سولې ته نږدې کېږو. ښه، زه غواړم چې يو ځل بيا او يو ځل بيا ټينګار وکړم چې د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ګډون ډېر مهم دی.[۱۲۶]

له کومې ښځې سره چې دلته مرکه وشوه، که څه هم لوستې نه وه، خو له سياسي پلوه هوښياره وه او سياسي ذکاوت يې څرګندېده. هغه باور لري چې د يوې ملي شبکې لهلارې د ښځو اړيکې له ښځو سره د ملي پخلاينې په هڅو کې ونډهاخيستو سره مرسته کوي، چې د سولې په خبرو به خورا ښه اغېز وښندي. د هغې په باور، څومره چې ښځې د سولې په خبرو کې فعاله ونډه واخلي، هغومره به د سولې خبرې برياليۍ وي. د سولې په ملي او نړيوالو خبرو اترو کې د ښځو نهشتون به د خبرو ناکامۍ او د ښځو لا ځنډېدو ته کولو لامل شي.

### د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ګډون په تړاو د خلکو انګېرنې

د ښه امنيت سربېره، ښځې لا هم د ملي پخلاينې په هڅو کې کومه ارزښتمنه ونډه نه لري. مرکهکېدونکو ذکر کړل چې څرنګه لسيزې جګړې او له سياسي چارو محروميت او ځنډېدنه کولو دوی اغېزمنې کړې دي. ښځې په سياستوالو او سياسي چاپېريال باور نه لري. په سياست په ځانګړې ډول په سياسي ګوندونو کې د ښځو ګډون، تر ډېره ننداريز (سمبوليک) دی. يوه دولتي چارواکي او يوه خبريال د ملي پخلاينې هڅو په تړاو د خلکو انګېرنې داسې بيان کړې:

ښه، لکه څرنګه چې زه پوهېږم، دلته، د ځوانانو په ځانګړې ډول نجونو ترمنځ له سياست څخه ځان بچول او ځانوېستل دود دي. ښايي ډېر لاملونه ولري. يو لامل يې د سياسي ګوندونو اغېزې دي او دوی سياست د يوې وېرونکې چارې په توګه ويني، ځکه هر ډول درواغ او بدې معاملې په کې شته. يا دوی باور لري چې سياست داسې يو څيز دی چې له بهره کنټرولېږي او دوی په کې مداخله نه شي کولی. نو، موږ وينو چې ځوانان او ځوانانې په سياسي ډلو کې ډېر لږ غړيتوب لري.[۱۲۷]

... د طالبانو په واکمنۍ کې ښځې تر فشار لاندې وې او د دوی حقوق تر پښو لاندې شوي وو، خو سړيو دا ستونزې نه درلودې. د طالبانو يوه اندېښنه د ښځو حقوق دي. د طالبانو رژيم له رنګېدو سملاسي وروسته، کله چې نوی حکومت جوړ شو، ښځو خپل لومړني حقوق ترلاسه کړل، نو هغه تشويش چې موږ يې لرو او هغه چې سړي يې لري، سره توپير لري.[۱۲۸]

دا په پام کې نيول چې په هېواد کې د ښځو سياسي شاليد او تجربه له سړيو سره توپير لري، خو په اوسنې پرېکړهکوونکي سياسي چاپېريال کې له پرېکړهکوونکي بهير څخه د دوی وېستل، به د ښځو د ونډې په تړاو خامخا احساس وليدل شي. په باميانو ولايت کې په پرېکړهکولو کې د ښځينهوو د ونډې ارزښتمن بدلون او پرمختګ سره سره، لا هم ښځې په سياست کې باثباته، فعاله او له معنی ډکه ونډه نه لري. دې حالت ته په پام سره، ښځې او مدني ټولنې فعالان باور لري چې ښځې، نه يوازې په باميانو بلکې په ملي کچه يوې شبکې ته اړتيا لري چې پروژوي نه وي. يو نارينه مدني او جنډري مسايلو فعال په دې اړه وايي:

---

۱۲۵ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۰۴۰۸۲۰۱۹

۱۲۶ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۰۴۰۸۲۰۱۹

۱۲۷ مرکه، باميان- -UNW-WPPD-۳۰۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۲۸ مرکه، باميان--UNW-WPPD-۲۷۰۷۲۰۱۹ (۲)

> دلته دوه خبرې دي. لومړی، د سولې لوبغاړي غواړي چې د ښځو حقوقو ته پاملرنه وشي او دوهم، ښځې په خپله باید په دغه بهیر کې خپل رول ولوبوي. موږ هر وخت ښځو ته وایو کله چې مو داسې پربکړه ولیده چې ښځو لهپاره کېږي، که یې په ګټه وي او که په زیان، تاسو باید مشارکت لهپاره یو میلیوني غورځنګ جوړ کړئ. ددغه ډول غورځنګ له لارې، ښځې د دوی په تړاو د نورو انګېرنې بدلولی او د سولې په خبرو اترو کې خپله ونډه تضمینولی شي. که چېرته غلې شي او کوم فعالیت ونه کړي، دوی به له دغې سولې وځورېږي.[۱۲۹]

یو بل مدني او جنډري مسایلو فعال زیاته کړه:

> فکر کوم ښځې باید داسې سیاسي، ټولنیزې او کلتوري (هځوبې) شبکې جوړې کړي چې وړیا (رضاکار) کار وکړي ترڅو د ښځینه حقوقو یا نورو اړوندو ښځینه مسایلو دفاع پرې وکړي. لکه څرنګه چې مې وویل، ښځې د جګړې پلوې نه دي. د دوی ونډه باید د ملي پخلاینې په هڅو کې رغنده شي او دوی باید په افغانستان کې د سولې په پایښت باندې ډېره اغېزه ولري. زه په ځواکمنو مېرمنو او ځواکمن افغانستان باور لرم.[۱۳۰]

امنیت او په بېلابېلو برخو کې د ښځو د ګډون کچې، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ګډون په تړاو د خلکو په لیدلورو او انګېرنو اغېز ښندلی دی. په بامیانو ولایت کې سیاسي چوکاټ داسې ښکاري چې نسبتاً ښځو ته پرانیستی دی ترڅو یوه شبکه جوړه کړي چې د ملي پخلاینې په هڅو تمرکز ولري. د یوه امنیتي بنسټ چارواکي زموږ پام دې خبرې ته واړاوه چې څرنګه ښځې د امنیتي ډګر په بېلابېلو برخو کې ګډون لري، چې د یوه ولایت په تړاو بېساري دي: «افغان دولت لومړي ځل لهپاره د بامیانو ولایت په امنیتي برخه کې د جنډر ډیپارټمنټ رامنځته کړ».[۱۳۱] شواهد ښیي چې په رسمي دولتي بنسټونو کې د جنډر ډیپارټمنټ او د مدني ټولنې نورو ارګانونو ترڅنګ، لکه څرنګه چې په تېرو ۱۸ کلونو کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کې شوي دي، بامیان داسې ځای کېدلی شي چې ښځې په کې ملي سیاسي شبکه پیل کړي. خو اړتیا ده چې دا شبکه ولایتونو ته وغځېږي او له معنی ډک ګډون او پرېکړو کې د مساوي غږ په توګه ونډه ولري.

### سولې لهپاره د ښځو له لوري اخیستل شوي ګامونه

له دغه حقیقت سره سره چې ښځې د دولتي او غیر دولتي میکانیزمونو له لارې په سیاسي توګه د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون محدود فرصت لري، خو بیا هم د سیمینارونو، کنفرانسونو او ورکشاپونو له لارې دوی خپل غږ پورته کړی دی. په دې اړه یو نارینه خبریال وایي:

> دلته په بامیانو کې ځیني مدني بنسټونه فعالیت کوي لکه د سولې او ډیموکراسۍ لهپاره برابري، د افغان ښځو شبکه (AWN)، نوای صلح (د سولې غږ) او نورې ملي او نړیوالې ادارې. دغو ادارو په بامیانو کې د سولې لهپاره ځیني ورکشاپونه، سیمینارونه یا ملاتړیزې غونډې رابللې دي. ښځې هم په دغو پروګرامونو کې ونډه لري. د دوی موخه دا ده چې ښځې د ملي پخلاینې په هڅو کې راګډې کړل شي.[۱۳۲]

په یوه ګروپي بحث کې د ښځو حقوقو او جنډري چارو یو ځوان فعال په دې ټینګار درلود چې د ښځو کمه ونډه تر دې محدوده ده:

> موږ دلته ښځو لهپاره د سولې په تړاو د ورکشاپونو یا سیمینارونو په توګه ځیني پروګرامونه لرو، خو د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون هیڅ کوم پروګرام نه لرو.[۱۳۳]

د نورو ولایتونو په څېر د بامیانو ښځې هم د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ورګډولو لهپاره د ورکشاپونو، سیمینارونو او کنفرانسونو لهلارې مبارزه کولی شي، خو دوی لا دا چانس نه دی ترلاسه کړی چې د سولې په خبرو کې له دولتضد وسلوالو سره مخامخ سیاسي خبرې وکړي. وبه لیدل شي چې که دا ډول مدافعوي یا ملاتړیز فعالیتونه ښځو ته د ملي پخلاینې په هڅو کې د مساوي ګډون فرصت برابرولی شي که څنګه.

---

۱۲۹ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۹.۰۷۲۰۱۹

۱۳۰ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۰۱.۰۸۲۰۱۹

۱۳۱ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۰۱.۰۸۲۰۱۹

۱۳۲ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۳۰.۰۷۲۰۱۹ (۲)

۱۳۳ ګروپي بحثونه، بامیان--UNW-WPPD-۳۱.۰۷۲۰۱۹

**ننګونې او ګواښونه**

د نورو ولایتونو په پرتله په بامیانو کې ښځې ډېر فرصتونه لري، دواړو سړیو او ښځو له کور بهر په هر ډګر کې د ښځو ګډون منلی دی. خو سره له دې هم ورته یو لړ ټولنیز، کلتوري (هڅوبي) او امنیتي خنډونه شته دي. د ګروپي بحث ګډونوالو هغه ستونزې یادې کړې چې لا هم ورسره لاس او ګرېوان دي:

> څو ورځې وړاندې یوه فعاله (د غیر دولتي مؤسسې ځایي کارکوونکې) د بامیان-کابل په لویه لاره طالبانو درولې وه. هغوی د نومورې لیپټاپ او نور وسایل یې ترې اخیستي و او ورته یې ویلي و چې د الله شکر دې وباسي چې تا پرېږدو. همدارنګه نومورې یې ګواښلې وه چې استعفی ورکړي.[۱۳۴]

> بامیان یو له هغو ولایتونو دی چې له تېرو ۱۵ یا ۱۲ کلونو راهیسې یې ښځې په پرلپسې ډول مبارزه او مجادله کوي او لا هم ستونزې ګالي. دا ښځې چې پرېکړه‌کوونکي حالت ته رسېدلي دي، ډېرې سختې ورځې یې تېرې کړې دي.[۱۳۵]

په بامیانو کې ښځې د پرلپسې مبارزې او مجادلې له لارې نسبتاً پرېکړه‌کوونکي وضعیت ته رسېدلي دي، خو لا هم دوی په ملي پخلاینیزو هڅو کې ونډه نه لري او ددې حقیقت ښودنه کوي چې دلته داسې شواهد نشته ترڅو وښیي چې هر څوک په ګاونډي ولایتونو کې له فعالو دولتضد وسلوالو ډلو سره د خبرو فرصت لري. د ښځینه حقوقو او جنډري مسایلو یو ځوان فعال وایي: «زه فکر نه کوم چې کوم بامیاني دې له طالبانو سره خبرې اترې کړې وي. که په بامیانو کې د سولې په اړه کوم بهیر وي، نو ښځې به خامخا په کې ونډه ولري.»[۱۳۶]

د پایلې په توګه، ځیني لوی لاملونه شته چې په بامیانو کې د ملي پخلاینې په هڅو کې ښځې له ګډون منع کوي. یو لامل یې دا دی چې ښځې په سیاست او سیاسي ډلو بې‌باوره دي چې د کوم سیاسي بهیر له لارې دې ورسره یو ځای شي. بل لامل یې په طالبانو بې‌باوري او ناامني ده چې دا دواړه په ګډه د سولې په ځایي هڅو کې د ښځو ګډون ګواښي. بالاخره، وروستی لامل د بامیانو جغرافیوي موقعیت دی، شاوخوا یې ناامن ولایتونه دي خو خپله نسبتاً امن دی، نو بامیانیو ښځو له وسلوالو سره د خبرو فرصت نه دی ترلاسه کړی.

---

۱۳۴ ګروپي بحثونه، بامیان--UNW-WPPD-۳۱۰۷۲۰۱۹

۱۳۵ ګروپي بحثونه، بامیان--UNW-WPPD-۳۱۰۷۲۰۱۹

۱۳۶ مرکه، بامیان--UNW-WPPD-۲۲۰۷۲۰۱۹

## ۴.۳ کابل

کابل، د افغانستان د پلازمېنې په توګه د نورو ولایتونو په پرتله د بېلابېلو حکومتونو او رژیمونو منځته راتلل او لهمینځه تلل او سیاسي تغییرات تجربه کړي دي. د پژواک د معلوماتو پر بنسټ، «د کابل بېثباته کړکېچن سیاسي حالت نړیوال سیاستوال مجذوب کړي دي. تر ډېره وخته، د کړکېچن سیاسي تاریخ ترڅنګ کابل د جنګ او جګړو مرکز پاتې شوی.»[۱۳۷] هېواد د پلازمېنې په توګه، دغه ولایت په پېړیو پېړیو د ښځینه ګډون لوی ټولنیز-سیاسي مرکز پاتې شوی. ښځینه مشرانو او سیاستوالو له همدغه ښاره خپلې مبارزې پیل کړې دي. آنا لارسن (Anna Larson) د افغانستان په کلیو او ښارونو کې د ښځینه سیاسي ګډون توپیرونه څېړلي دي: «په تاریخي لحاظ، ښځې په افغانستان کې ځواک او سرچینو ته ډېر لږ لاسرسی لري، که څه هم دا محدودیت په کلیوالي او ښاري سیمو او په بېلابېلو رژیمونو کې سره توپیر لري.»[۱۳۸] دا تر ډېره د کابل په تړاو صدق کوي، چې د هېواد په کچه ښځو لهپاره ستراتیجیک ځای دی، ترڅو د خپلو حقوقو د دفاع غږ پورته کړي. دغه راز د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ښځو لهپاره تر ټولو بد ځای و. مرکهکېدونکو ویل چې کابل په هره ټولنیزه او سیاسي برخه کې، پرېکړهکوونکی ځای دی، یو دولتي چارواکي وایي: «کابل داسې ځای دی چې هېوادنۍ پرېکړې په کې کېږي او له ننګونو سره سره ښځې په کې ټولو سرچینو ته لاسرسی لري.»[۱۳۹]

سرچینو ته د ښځو لاسرسی، ښځې د سولې د پروسې په څېر سیاسي مسایلو سره لا ډېرې بلدوي. له همدې امله، ځینې ښځې ددې فرصت پیدا کوي چې سیاستوالو سره وګوري او خپل نظریات ورسره شریک کړي. په کابل کې د ګروپي بحث یوه ګډونواله وایي:

> کله چې د سولې په اړه خبرې کوو، غواړو چې مساوي حقوق او مساوي فرصتونه ولرو، خو د زلمي خلیلزاد له لوري د سولې خبرې مو چې وڅارلې، دا مو وا نه اورېدل چې نوموړي دې د ښځینه حقوقو او په ټولنه کې د ځای په اړه څه ویلي وي.[۱۴۰]

> کابل داسې ځای دی چې ښځې په کې مبارزه کولی شي او حکومت او نړیوالې ټولنې سره ارتباط ساتلی شي. لږ تر لږه، مبارزه یا نړیوالو ته د خپل غږ رسولو په موخه اعلامیې ورکولی شي.[۱۴۱]

که څه هم کابل ښځو لهپاره مرګونی ځای دی، خو په ټولنیزو، هڅوبي (کلتوري)، اقتصادي او سیاسي ډګرونو کې یې د ودې او پرمختګ لهپاره یو لوی مرکز هم دی. ځکه د نورو ولایتونو په پرتله ښځې کابل کې لا ډېرو سرچینو ته لاسرسی لري، ترڅو د ښځینه حقوقو او سیاسي ګډون لهپاره مبارزه وکړي.

**د سولې تعریف**

کابل ښځو لهپاره یو ستراتیجیک ښار دی ترڅو په سیاسي برخه کې فعالیت وکړي. دا چې په کابل کې د ټولو ولایتونو ښځینه مشرانې او استازې شته دي، دوی په ملي پخلاینیزو هڅو کې د لا ډېرې اغېزمنې ونډې په لټه کې دي. دا چې په کابل کې ښځې ډېرو سرچینو ته لاسرسی لري او په هېواد کې له روانو چارو ډېرې خبرې دي، دوی به هغه څه چې خبرو اترو ته څرنګه چمتووالی کېږي، د چا له لوري چمتو کېږي او اړکلي مصلحتونه او معاملې، چې ښایي وشي؛ په انتقادي ډول ښه انځور کړی شي. نو، ځینو ښځو په خپلو مرکو کې سوله په لاندې ډول تعریف کړې ده:

> زما له انده، سوله د جګړې پای ته نه وایي. سوله داسې خونديي چاپېریال ته وایي چې انسان په کې ژوند تېر کړی شي او ټولو فرصتونو او زدهکړو ته د لاسرسي سربېره ټول خدمات ورته برابر وي. ځیني سیمې شته چې جګړه په کې امکان نه لري، خو ښځې په کې لا هم لومړنیو خدماتو ته لاسرسی نه لري. دې سولې د ښځو په ژوند کې کوم تغییر نه دی راوستی. په سولهییز چاپېریال کې، ښځې او سړي باید مساوي فرصتونه ولري.[۱۴۲]

---

۱۳۷ پژواک خبري اژانس. «د کابل ولایت پېژندنه» پته: http://www.elections.pajhwok.com/en/content/kabul-province-background-profile (د لاسرسي نېټه: د جولای ۱۵، ۲۰۲۰)

۱۳۸ Anna Larson p ۱۳

۱۳۹ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹

۱۴۰ ګروپي بحث، کابل--UNW-WPPD-۰۲۱۰۲۰۱۹

۱۴۱ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۱۲۰۲۲۰۱۹

۱۴۲ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

سوله اوس د هر افغان هیله ده، ددې معنی خوندیتوب دی. موږ باید ذهني، اروايي، فزيکي او ټولنيز امنيت ولرو. د ملي پخلاينې په نوم چې څه روان دي، يوه پروژه ده، ځکه د خبرو اترو اړخونه معلوم نه دي چې څوک دي. آیا دوی د طالبانو رښتيني مشران دي که نه؟ آيا په ملي پخلاينيزو هڅو کې ګډونکوونکې ښځې د ولايتونو او ولسواليو رښتينې استازې دي؟ زه په دغه بهير باور نه لرم.[۱۴۳]

د مرکه‌کېدونکو د ځوابونو شننه ښيي چې د نورو ولايتونو په څېر په کابل کې هم ښځې د ملي پخلاينې په روانو هڅو شک لري، ځکه په خبرو اترو کې د ښځو د ځای په اړه دوی د حکومت سربدالي او لالهاندي احساسوي. په ورته وخت کې، دوی د ښځينه حقوقو او په سياست او نورو دولتي ډګرونو کې د ښځينه ګډون په تړاو د طالبانو پر ژمنو هم باور نه لري. د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو د قانوني او سياسي حقوقو په تړاو د افغان نارينه ګډونوالو نه‌علاقه بله نقطه ده چې د ښځو اعتماد يې تر سيوري لاندې راوستی دی. په دې اړه ځينې ښځينه مشرانې؛ او د ښځينه حقوقو، بشري حقوقو او مدني ټولنو فعالان داسې وايي:

زه د سولې په بهير کې د طالبانو پر ژمنو باور نه لرم. پر بهرنيانو هم باور نه لرم. دواړه لوري د سولې په اړه روښانه ثابت دريځ/ نظر نه لري او صداقت هم نه لري. تاسو پوهېږئ چې دولت او خلکو هر وخت د سولې وړانديز کړی دی، خو موږ په چاودنو او د بې‌ګناه خلکو په وژلو ځواب شوي يو او دا په دې معنی ده چې طالبان سولې ته ژمن نه دي. دوهم، طالبان يوه ډله نه ده خو د سولې خبرې له يوې ډلې سره روانې دي. دوی بېلابېلې ډلې او ځيني يې ښايي له دولت سره خبرې اترې وکړي، خو ځيني نورې به يې جګړه کوي. ولو که طالبانو سره خبرې هم وشي، خو بيا به هم سوله نه وي. دلته داعش هم شته چې طالب جنګيالي به جذب کړي او په هېواد کې به جګړه روانه وي. تر هغو به دلته سوله نه وي، ترڅو چې طالبان د سولې په تړاو خپلې ژمنې څرګندې نه کړي. په تېرو شپږو مياشتو کې ما د سولې کوم شين څراغ نه دی ليدلی، ځکه طالب‌مشران خبرې اترې کوي، خو جنګيالي يې موږ وژني. لومړی بايد د طالبانو نظريات بدل شي.[۱۴۴]

د ملي پخلاينې په اړه د نارينه سياستوالو ژمنې هم ثبات نه لري. دوی ددې پروا نه لري چې که دا د ښځو لپاره ګټه لري او که نه، يا دا چې ثبات به ولري که نه، يا دا چې پروژه ده که څنګه.[۱۴۵]

د نورو ولايتونو په څېر، د کابل مېرمنې هم د ملي پخلاينيزو هڅو په روڼتيا باور نه لري، ځکه دوی احساسوي چې په افغانستان کې د ملي پخلاينې په اړه نه هم طالبان او نه هم نړيواله ټولنه رښتيني ده. کله چې افغان دولت پر طالبانو د سولې غږ کړی، وسلوالو دا غږ په تاوتريخوالي سره ځواب کړی او ښځو د خپلو قانوني او سياسي حقوقو په اړه د دوی په ليدلوريو يا اعمالو کې کوم تغيير نه دی ليدلی. په کابل کې اوسنی حالت او د سولې بهير په اړه د ښځو انګېرنه ددې ښودنه کوي چې دوی له‌پاره د سولې خبرې يوه معما ده. له طالبانو سره د بين‌الافغاني خبرو اترو له‌پاره د حرکتونو رامنځته کولو سره سره، ښځې دې له‌پاره مبارزه کوي چې خپل غږ اوچت کړي او ټولو مذاکراتي ډلو او نړيوالې ټولنې ته خپل پيغام ورسوي.

### د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډه

له بن تړون وروسته ښځو سياسي نړۍ ته لاره موندلې ده او کابل د ټول هېواد ښځو له‌پاره يو ستراتيجيک چوکاټ ګرځېدلی چې په سياست کې ګډون وکړي. دا که د سولې د بهير دولتي ميکانيزم وي او که غير دولتي ميکانيزم، دوی کولی شي چې د سولې له ملي او نړيوالو مرکچيانو سره اوږه په اوږه يو ځای ولاړې شي. ددغو فرصتونو سره سره، دوی د سولې په خبرو کې د ښځو فعالې ونډې په اړه خوښمنې نه دي. د ښځو حقوقو يوې فعالې داسې ويل:

په اصل کې ښځې د سولې په اوسني بهير کې د خپل ګډون په اړه په وېره او انديښنه کې دي، دوی (طالبانو او امريکايانو) د سولې خبرو اترو پر مهال د ښځينه سياسي ګډون په اړه هيڅ هم نه دي ويلي. د ښځو مسئله د دوی د خبرو اترو مهمه مسئله هم نه وه.[۱۴۶]

۱۴۳ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹

۱۴۴ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹ (۲)

۱۴۵ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۱۴۶ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۱۲۰۲۲۰۱۹

یوه نارینه مدني فعال، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه په لاندې ډول تشریح کړه:

> د سولې په بهیر کې د ښځو ونډه اغېزمنه او محسوسه نه ده، ځکه تراوسه دولت د سولې په خبرو کې ورګډ شوی نه دی. تر دامهاله، خبرې اترې یوازې د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ دي او دولت لا دډغه بهیر برخه شوې نه ده. ښځینه مشرانې د سولې خبرو په تړاو یوازې په دولتپلوه جریانونو کې ډېر کم شتون لري. زه فکر نه کوم چې ګوندي ښځې دې د سولې په خبرو کې تراوسه له معنی ډک ګډون ولري.[147]

ښځې او د دوی ملاتړي د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډې په اړه خوښ نه دي. د مرکه‌کېدونکو له نظره، ځایي شواهد او څرګندېدونکی وضعیت ددې ښودنه کوي چې د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې په تړون کې ښځې څنډې ته شوې. همدارنګه طالبانو سره د افغان دولت د خبرو اترو په پلانونو کې هم ښځې کمرنګه ښودل کېږي. په عمومي ډول، دوی د لاندې دوه میکانیزمونو لهلارې په ملي پخلاینیزو هڅو کې ګډون لري.

## دولتي میکانیزم

لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول، په افغانستان کې یوازینی دولتي میکانیزم د سولې عالي شورا وه چې له طالبانو سره د خبرو پیلولو لهپاره د چوکاټ رامنځته کولو دنده ورکول شوې وه. د سولې عالي شورا دارالانشاء په کابل کې موقعیت درلود او له ۲۰۱۰ زیږدیز څخه د جولای تر ۲۰۱۹ زیږدیز پورې فعاله وه، چې ولسمشر بیا رنګه او پرځای یې د سولې په چارو کې د دولت وزارت رامنځته کړ. [148] که څه هم کومې رسمي سرچینې د سولې عالي شورا د رنګېدو دلیل نه دی روښانه کړی، خو بیا هم درې لاملونه دي چې رنګېدل یې روښانوي. لومړی، د سولې عالي شورا د مفسدې ادارې په توګه ګڼل کېده او د بودیجې په اختلاس تورنه وه. د نه لاستهراوړنو او مفسدیت لهامله د مشرانو جرګې او ولسي جرګې غړو د اعلامیو له مخې ددې شورا په رنګېدو ټینګار کاوه. په ۲۰۱۷ز. کال کې، د مشرانو جرګې لومړي مرستیال ، آصف صدیقي دعوا وکړه، «بسپنهورکوونکو ته زما سلا داده چې سولې لهپاره ځانګړو شوو [دا ډول] پیسو کې اختلاس کېږي...دا باید رنګه شي ځکه له جوړېدو راهیسې یې څه نه دي ترلاسه کړي.»[149] دوهم، د سولې عالي شورا په جوړښت کې د پخوانیو جګړهمارو ترکیب په دې معنی دی چې دا ډول ډېری افراد د خپلو ارتکاب کړو جرمونو په تړاو مسؤل نه دي. سولې عالي شورا ته د دا ډول کسانو ورننوتل د ددې شورا مشروعیت را ټیټ کړی و ، په ځانګړې توګه د مدني ټولنو او بشري حقوقو فعالانو د جګړهمارو د تېرو جرمونو له امله له دوی سره د ګډون د مخالفت پربکړه کړې وه. دریم، د سولې عالي شورا موخې روښانه نه وې، فعالیتونه یې رانه نه و او د خبرو اترو ، منځګړتوب او شخړو هوارې برخه کې یې متخصصین نه درلودل. د شورا په ترکیب کې د پخوانیو جګړهمارو شتون، ددې شورا اړوند پرمختګونه په خورا اغېزمن ډول ټکني کړي و. په سولې عالي شورا کې ښځې هم وې، خو لکه څرنګه چې ښځینه مرکهکېدونکو په خپلو مرکو کې ذکر کړي دي، د دوی ګډون نندارېز و ، آن په دارالانشاء کې هم.

> زه د سولې په بهیر کې د ښځو په ونډه خوښمنه نه یمه، ځکه د ښځو شتون په خبرو کې په فعال ډول نه دی. په عمومي ډول، ویلی شم چې ښځې د سولې په خبرو کې فعال شتون نه لري. تر دا مهاله خبرې د هغو سړیو ترمینځ دي چې یو د بل پر وړاندې جګړه کوي او ښځې د سولې په دغو خبرو کې ونډه نه لري. حکومت تراوسه دا خبره کوي چې د ښځو ونډه به د سولې په خبرو کې ۳۰ سلمه وي. خو په عمل کې، دا رښتیا نه دي. زه آندم چې باید ښځو ته د سولې په بهیر کې مساوي فرصت ورکړل شي، ځکه د تاوتریخوالي او شخړې اصلي قربانیانې ښځې دي.[150]

پورته نقل قول، په بلخ ولایت کې ذکر شوې یوې نقطې ته نغوته کوي، چېرته چې د سولې عالي شورا د ولایتي ځانګې له ۷۰ غړو څخه یوازې نهه هغه یې ښځې وې. د سولې عالي شورا غړې، حبیبه سرابي، په خپله یوه وینا کې په دې ټینګار درلود چې هیڅوک ښځو ته غوږ نه نیسي او نه ورته پرېکړې اعلانوي او دوی د پرېکړه کولو د بهیر برخه هم نه وه.[151] له ډېټا راټولولو او نورو سرچینو څخه داسې ښکاري چې آن په کابل کې هم په ملي کچه د ښځو ونډه لږه او نندارېزه وه.

---

۱۴۷ مرکه، کابل--۲۵۰۹۲۰۱۹-UNW-WPPD

۱۴۸ طلوع نیوز. «غني د سولې عالي شورا دارالانشاء منحل کړه.»۲۷جولای۲۰۱۹ پته:

https://tolonews.com/afghanistan/president-ghani-dissolves-high-peace-council (د لاسرسي نېټه: ۱۵ جولای، ۲۰۲۰).

۱۴۹ مسعود انصار. «د مشرانو جرګې غړو د سولې عالي شورا ناکامه وګڼله، رنګېدل یې وغوښتل» ۱۱د جولای۲۰۱۷. لاسرسی:

https://tolonews.com/afghanistan/senators-label-hpc-failure-call-its-dissolution.(د لاسرسي نېټه: د جولای ۱۵، ۲۰۲۰).

۱۵۰ مرکه، کابل- ۲۴۰۹۲۰۱۹-UNW-WPPD

۱۵۱ ۲۰۱۸. اریانا ټلویزیون. ۱۵ ۲. لاسرسی: می. ۷مه، ۲۰۲۰. پته: https://ariananews.af

### غیر دولتي میکانیزم

د مسکو د سولې خبرو اترو، دوحې د سولې خبرو اترو او د سولې ملي مشورتي جرګو په څېر خبرو اترو ته د لاسرسي سره سره، ښځې د ملي پخلاینې په هڅو کې له ګډون څخه راضي نه دي. مرکه‌کېدونکي باور لري چې ښځې باید په دولت او مدني ټولنیزو ادارو کې لاسي وکړي. یو دولتي چارواکی، چې د ښځینه حقوقو فعال هم دی؛ وایي:

> دلته بېلابېلې ادارې دي چې د ښځو حقوقو لپاره لابي کوي. موږ باید په کې ښکېل اوسو او دوی باید د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو استازي کړو. موږ ښځینه مشرانې لرو، د دوی له لارې باید لابي وکړو چې ښځو ته په ملي پخلاینیزو هڅو کې ډېر فرصتونه ورکړي. که چېرته دولت نشي کولی چې ښځو ته په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ګډون فرصت ورکړي، نو ټولې ښځینه فعالې باید یوه مطبوعاتي خبرپاڼه خپره کړي او د دولت، نړیوالو ادارو او ملګرو ملتونو لپاره یو پرېکړه‌لیک صادر کړي ترڅو دولت او دولتضد عناصر داسې پرېکړې ته مجبور کړي چې ښځو ته ډېر فرصت ورکړي.[152]

> موږ واورېدل چې دوه ښځو، طالبانو سره د خبرو لپاره مسکو د سولې په خبرو او ځینو بیا دوحه غونډه کې ګډون کړی و. زه هیله لرم چې دغو ښځو به له طالبانو سره د ښځو د فعالیتونو او مقامونو په اړه خبرې کړي وي.[153]

ځینو ښځو په مرکو کې څرګنده کړې چې دوی د دوحې سولې په خبرو کې پر ګډونوالو ښځو باور نه لري، دوی په دې باور دي چې دا به یوه پروژه وي. ددې پرځای، دوی د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون لپاره رښتینی ملي پلان غواړي، چې په کې داسې بهیر شامل وي ترڅو جګړه‌ځپلو ښځو ته مستقیماً غوږ ونیول شي. یو قومي مشر وایي:

> د افغان ښځو شبکې غونډه یوه پروژه وه. دلته باید د ټولو ولایتونو په ګډون یوه رښتینې راټولېدنه وي چې دولتي نه وي. همدارنګه باید د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون لپاره ښځو ته یو ملي پلان هم وي. دوی درلود، خو د یوې شبکې په حکم، خو دلته په لسګونه داسې شبکې شته چې د ښځو حقوقو لپاره کار کوي. ښایي دوی یې په اړه خبر نه وي، نو ځکه یې وایم.[154]

هغه څه چې دغو مرکو رابرېدولي دا دي چې ښځې د دوی له ګډون پرته د ملي پخلاینې د هڅو په څرنګوالي پوهېږي. په کابل او نورو ولایتونو کې د ښځینه‌حقوقو فعالان پوهېږي او غواړي چې د ښځو د یووالي واحده شبکه باید په هر ولایت کې وي چې له‌لارې یې خپل غږ اوچت کړي ترڅو پرېکړه‌کوونکي د دوی په اجنډا کار کولو ته وهڅوي. هغه ښځې چې خپلو حقوقو ته کار کوي هم په دې پوهېږي چې د ښځو ګډون بې‌پیونده دی ځکه دا پروژوي دی یا دا چې ښځې له داسې ځانګړي سیاسي چینل څخه راځي چې د سړیو له لوري چلول کېږي او همدوی بیا مشخصوي چې ښځې په یوه چوکاټ کې کوم ډول ونډه ولري. د پروژوي تګلارې یا تنداریز ګډون پر ځای، ښځې په ملي کچه یوې غښتلې سیاسي شبکې ته اړتیا لري، ترڅو په ملي او نړیواله کچه د سولې په خبرو کې د دوی حقوقو او ځای لپاره لابي او مبارزه وکړي.

### د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ونډې په اړه د خلکو انګېرنه

له ۲۰۰۱ز. راهیسې ښځې د خپلو حقوقو لپاره په افغان حکومت او دولت دواړو کې مبارزه کوي او نن ورځ په سیاست کې د ښځو ونډې په اړه دوی لا هم ناهیلې دي. دا چې د جګړې له امله، په ځانګړې توګه د طالبانو په حکومت کې، ښځو ډېر زیان لیدلی، دا دوی لپاره ډېره حیاتي ده چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې لا ډېره ونډه ولري. هغه ښځې چې د ملي پخلاینې په هڅو کې ونډه اخلي باید د ټولو کلیوالي او ښاري ښځو استازې وي. یو مدني او د ښځو حقوقو فعال وایي:

> شاوخوا پنځو ښځو د سولې په خبرو کې ګډون درلود. کلیوالي ښځې د سولې خبرو په اړه نه پوهېږي. که چېرته یوه کلیواله د سولې خبرو په اړه وپوښتئ، دوی به یې په جزئیاتو نه پوهېږي. له ښارونو یا کابل څخه څو محدودې ګډونوالې د ټولو ښځو، په ځانګړي ډول د کلیوالو ښځو، استازولي نه شي کولی. زه د سولې خبرو په ګډونوالو ښځو باور لرم چې د ټولو ښځو استازولي کوي او د هغو ښځو استازولي کوي چا چې خپل زامن، لوڼې او مېړونه بایللي دي. ښځې باید د نورو هغو ښځو استازولي وکړي چا چې قرباني ورکړې او لا هم د طالبانو له‌امله قرباني ورکوي. له دا ډول ټولو ښځو سره باید مشوره وشي او د سولې پروسې په اړه یې غوښتنې واورېدل شي چې له سولې څخه څه غواړي.[155]

۱۵۲ مرکه، کابل- -UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۱۵۳ مرکه، کابل-UNW-WPPD-۲۷۰۲۲۰۱۹

۱۵۴ مرکه، کابل- -UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹

۱۵۵ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹ (۲)

دا چې د ښځو حقوق په خبرو اترو کې یوه حساسه مسئله ده، دا ښځو لەپاره مهمه ده چې د ملي پخلاينې په هڅو کې د ګډون فرصت ترلاسه کړي ترڅو د هېواد په کچه په بېلابېلو ځايونو کې د ښځو د وضعيت ربښتيني او بشپړ انځور ولري چې په ښه ډول يې استازولي او دفاع وکړي. له مرکو داسې بريښي چې تراوسه ښځې له هغو استازو څخه، چا چې له طالبانو سره په افغان-طالب خبرو کې ګډون کړی دی؛ راضي نه دي.

نور نقاط چې په ټولنه کې د پوښتنې وړ دي، هغه د مذهب او هڅوب (کلتور) له مخې د سولې په خبرو کې د ښځو ونډه ده چې د ديني علماؤ په ګډون نور پوهان وايي چې په اسلام کې کوم ممانعت نشته. ډېر تاريخي يادښتونه شته چې په اسلامي ټولنه کې، په ځانګړي ډول د حضرت محمد (صلی الله عليه واله وسلم) په زمانه کې، د سولې په بهيرونو او سياسي مسايلو کې د ښځو ګډون ښيي. ښځې يوازې د سولې خبرو اترو پر مهال د طالبانو له مذهبي منطق سره مخالفت کوي:

> اسلامي اثارو ته د مراجعه کولو له مخې، ښځو په ډېرو ځايونو کې د سولې په بهيرونو کې کليدي او حياتي رول لرلی دی. د بېلګې په توګه، که چېرته د ام سلمة (رضي الله تعالی عنها) رول وګورو، بيبي عالي و. همدا ډول، که به سړيو کومه شخړه نه شوه هوارولی، يوه لوري به يوه ښځينه خپل مخالف لوري ته استوله. مخالف لوري به ښځې ته د درناوي په پار په هغې څادر اچاوه او سولې ته به يې خپل رضايت ښوده. په ورته ډول، موږ داسې ښځه لرو چې په دوحې خبرو کې يې ونډه اخيستې ده. هغې د اسلامي اصولو او مقرراتو سره سم ډېره لوړه وينا کړې ده. زما وړانديز دا دی چې د ټولنې د نورو برخو څخه د لسګونو ښځو د لېږلو پرځای به، دا غوره وي چې په اسلامي علومو سنبالې پنځه ښځې واستوو او له طالبانو سره د اسلامي اصولو او مقرراتو له مخې خبرې وکړي. دا به په يقيني ډول د طالبانو ذهن پرانيزي.[۱۵۲]

دا چې د طالبانو تګلاره د ښځو په اړه مذهبي ده، نو د همدې منطق له مخې، ښځې بايد ديني پوهه ولري ترڅو د طالبانو پر وړاندې ودرېږي. په هر حال، ستونزه دا نه ده چې ښځې ديني پوهه لري يا د مقدساتو رسمي زده کړه، خو بنسټپاله مذهبي ډله له داسې عصري ډيموکراتيک دولت سره ستونزه لري چې ټولو خلکو ته د مساوي حقوقو د ورکولو په لټه کې وي.

**سولې لەپاره د ښځو لەلوري اخيستل شوي ګامونه**

په مسکو او دوحه کې له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د مستقيم ګډون ترڅنګ، ښځې دا فرصتونه لري چې د ملي روغې جوړې په هڅو کې خپل ګډون لەپاره مبارزه او کمپاين وکړي. دوی په ملي او نړيواله کچه لوړپوړو چارواکو سره کتلي دي ترڅو خپل غږ اوچت کړي او د خپلو حقوقو دفاع وکړي. د مرکه‌کېدونکو له ډلې يوې وويل چې ښځو د متحده ايالاتو ځانګړي استازي سره خبرې کړې دي:

> په کابل کې ښځې له لوړ پوړو دولتي چارواکو، سياسي ډلو او د متحده ايالاتو ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سره خبرې اترې کوي. دا ښځې د ملي پخلاينې په هڅو کې د خپل ګټور ګډون په تړاو خپلې اندېښنې شريکوي.[۱۵۷]

د مدني ټولنې يوې فعالې داسې ويل:

> اوس موږ د ټول هېواد په کچه د ښځو ترمنځ ښه همغږي لرو، دوی د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو د ګډون دفاع کوي.[۱۵۸]

له مرکزي کچې بيا د ولايتي کچې پر لور، ښځې د خپلو حقوقو دفاع لەپاره مخ په بره رواني دي؛ په داسې حال کې چې د ملي پخلاينې هڅې پر لاره دي، دوی بايد وپوهول شي چې د ملي پخلاينې په هڅو کې په ملي او ولايتي کچه مساوي او ګټور استازيتوب ولري.

۱۵۲ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۱۵۰۹۲۰۱۹

۱۵۷ مرکه، کابل-UNW-WPPD-۱۲۰۲۲۰۱۹

۱۵۸ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۵۰۹۲۰۱۹

## تنګوني او ګواښونه

له محافظه‌کارو نارینه سیاستوالو او په سیاسي ډلو یا سړیو پورې د ښځو تړاو (dependency) په کابل کې ښځو ته متوجه تنګوني او ګواښونه دي. ناامني بله تنګونه ده چې پورته تنګوني لا غښتلې کوي. د ښځو تړاو، خپله همدغه ښځې د سولې په خبرو کې په ملي او نړیواله کچه د شاتني کتار ګډونوالو په څېر ګرځولې دي. یوه سیاستواله وایي:

> دا ډېره اړینه ده چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې ګډونوالې باید حمایه کړل شي. که یې ملاتړ ونه شي، په خپلواک ډول مخته نه شي تللی. د بېلګې په توګه، موږ کتلي چې دوو ښځو په مسکو غونډه کې ګډون درلود. موږ د دوی شتون ته خوښ وو، خو دا ښځې نارینه سیاستوالو لېږلې وې. موږ باید دا لیدلوری رنګ کړو. ښځې باید د نورو ښځو یا ښځینه سیاستوالو له لوري وټاکل شي، هله به نو په ملي پخلاینیزو هڅو کې د دوی شتون اغېزمن وي.[۱۵۹]

وړپسې زیاتوي:

> یو ټکی چې باید دلته ذکر شي، ځیني سړي نه غواړي چې د ملي پخلاینې په هڅو کې ګډون کولو ته پیاوړې ښځې ولېږل شي. په دې معنی چې دا سیاستوال غواړي د دوی تر کنټرول لاندې ښځې دې د ملي پخلاینې په هڅو کې ونډه ولري. لامل یې دا دی چې ښځې د دوی غوښتنې مني. اوس، دا سیاستوال همدې لپاره کار کوي. خو پایله به یې وخیمه وي. موږ باید د ملي پخلاینې هڅو کې ګډون لپاره مدني فعالې ور وپېژنو، نه د سیاسي ډلو کسان او نه هم دولتي کسان. له دې پرته به، په داسې حالت کې دا ښځې دولت یا سیاسي ډلو لپاره کار وکړي.[۱۶۰]

بلې مرکه‌کېدونکې هم دې ته اشاره کړې چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې څرنګه ځیني محافظه‌کار سیاستوال د ښځو ملاتړ نه کوي او د طالبانو د لیدلوري ملاتړ کوي:

> دا ما لپاره ډېره جالبه ده چې د ټلویزیون د ګردي‌میز په پروګرامونو کې نوماندان د سولې په اړه بحث کوي او د ښځو په اړه د دوی لیدلوری، طالبانو ته ورته دی. د بېلګې په توګه، یو سیاستوال چې زما ښوونکی هم و، اوس ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند دی، کله چې یې د ښځو حقوقو په اړه خبرې کولې، د طالبانو په څېر نظر یې درلود. آن د حکمتیار نظر له دغه سیاستوال څخه ډېر ډیموکراټیک معلومېږي. موږ باید د خپل راتلونکي په اړه اندېښمن اوسو. ټولې ښځې د اوسني فرصت د له لاسه ورکولو وېره لري چې په تېرو ۱۸ کلونو کې موږ ته برابر شوی دی.[۱۶۱]

په ملي کچه د ښځو لویه ستونزه په سړیو پورې د دوی تړاو او په دولتي جوړښت او سیاستوالو کې د طالب‌پلوه نظریو لرونکو بنسټپالو شتون دی. ښځې باید د سولې خبرو اترو لپاره خپلې استازې وټاکي او یوه غیر تبعیضي شبکه جوړه کړي چې د ملي روغې جوړې په اړه له کلي تر مرکزه د ټولو ښځو نظریات او غوښتنې راټولې کړي. ښځې به تر هغو خپلو موخو ته ونه رسېږي، ترڅو چې له سیاسي پلوه خپلواکې شوې نه وي او په ملي کچه داسې ځواکمنه سیاسي شبکه ونه لري چې دوی سره همغږي کړي.

---

۱۵۹ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۱۶۰ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۸۰۵۲۰۱۹

۱۶۱ مرکه، کابل--UNW-WPPD-۲۴۰۹۲۰۱۹

# ۴. د موندنو پرتلنه

په دې برخه کې، موږ هغه فعالیتونه پرتله کوو چې په تر څېړنې لاندې سیمو کې د سولې اړوند ترسره شوي، په ځانګړې ډول د سولې سرې کرښې او څرنګه ددې سیمې د خلکو لهپاره اړوندې برخې اهمیت لري. ددې سربېره، موږ د سولې په هڅو کې د ښځو د ګډون اړوند انګېرنې ارزولي او د ښځو مثبتپالنه (خوشبیني) د دوی د ونډې په اړه هم ارزول شوې.

### د سولې تعریف

مرکهکېدونکو بېلابېل ټولنیز-اقتصادي شالیدونه او موقعیتونه درلودل. په دې برخه کې، موږ د سولې تعریف او همدارنګه د خلکو نظریات، چې په سوله کې کوم بنسټیز څیزونه دي چې د ملي پخلاینې په بهیر کې د مصلحت ښکار نه شي؛ پرتله کړي دي.

په ننګرهار کې، مرکهکېدونکو له نظره د ښځو حقوق، د ځانمرګو بریدونو په ګډون نهجګړه، د زدهکړې په ګډون ټولو خدماتو ته لاسرسی او د بېوزلۍ لهمینځه وړل د سولې په تعریف کې مشترکې برخې وې. ددې سربېره، د کار حق، اقتصادي پرمختګ، د زېربناوو (بېخبنسټونو) پراختیا او خپلواک تحرک هم د ځینو مرکهکېدونکو له لوري ذکر شول.

په بلخ ولایت کې د تېر اتلس کلن تاریخ لاستهراوړنې، اساسي قانون، د ښځو سیاسي ګډون، د خلکو خوندي مالي هوساینه او د بیان ازادي د سولې اصلي اړخونه ګڼل کېدل. ددې سربېره، په دغه ولایت کې د سولې تعریف اړوند ننګرهار ته ورته ځینې برخې هم وې چې په کې د ښځو حقوق، امنیت، خپلواک تحرک او زدهکړې ته لاسرسی شامل دی. په دواړو ولایتونو کې مرکهکېدونکو په دې ټینګار درلود چې د ملي پخلاینې په چارو کې د ښځو حقونه تر ټولو اړینه موضوع ده.

په بامیانو کې، مرکهکېدونکو سولې ته په بل ډول کتل. د دوی په نظر په ټولنه کې برابري، خپلواک تحرک او فرصتونو ته د ښځو مساوي لاسرسی، په تېرو ۱۳ کلونو کې ددغه ولایت لاستهراوړنې او پرمختګ او د ښځو ښهشوی وضعیت د سولې اصلي برخې دي. د نورو ولایتونو په څېر د ښځو ټولنیزه او مالي هوساینه، پوهنیز خدمات او په دواړو ټولنیزو او سیاسي ډګرونو کې د ښځو ونډه د سولې د تعریف ګډ نقاط وو.

بالاخره، په کابل کې مرکهکېدونکو، نورو ولایتونو ته ورته د سولې تعریفونه وړاندې کړي دي. په دغه ولایت کې د متداوم کړکېچن حالت لهامله، مرکهکېدونکو د سولې په تعریف کې خوندي چاپېریال یا امنیت د سولې اصلي برخه ګڼلې ده او ورپسې یې ښځو ته مساوي فرصتونه او له ممانعت پرته زدهکړې په ګډون نورو خدماتو ته لاسرسی، سوله ګڼلې ده.

په لنډ ډول، په دغو ولایتونو کې د سولې تعریفونه د پام وړ لوی توپیر نه لري. په دغو تعریفونو کې د ښځو حقوق، خدماتو په ځانګړې ډول زدهکړېزو او روغتیایي خدماتو ته لاسرسی، د ښځو سیاسي ګډون او امنیت لوی ګډ نقاط وو. همدارنګه په دې ټینګار شوی و چې د سولې په بهیر کې پر اساسي قانون او د تېرو ۱۸ کلونو په لاستهراوړنو باندې دې جوړجاړی ونه شي. دا په دې معنی ده چې د هر ولایت اوسېدونکو؛ هغه که امن و او که نا امن، پرمختللی و که نه او یا لیبرال و او که نه؛ داسې سوله غوښته چې هر وګړی خپل حقوق ولري. د دا ډول ورته نظریاتو لرل، د سولې په بهیر کې د ښځو د ګډون په تړاو یو مثبت ټکی دی او دا به ټولې ښځې ددې وړ وګرځوي چې د سولې خبرو پرمهال واحده استازولي ولري او داسې یو چوکاټ رامنځته کړي چې د دوی غوښتنې یوازې د ښځو په حقوقو پورې منحصرې نه کړي. د تېرو ۱۸ کلنو لاستهراوړنو په تړاو خلکو په ډانګ پیبیلې توګه ویل چې دوی په افغانستان کې داسې ډیموکراټیک سیسټم غواړي چې د خلکو بنسټیز حقوق تضمین کړي. ددې سربېره، مرکهکېدونکو په حکومت او نړیوالې ټولنې غږ کاوه چې په هره بیه وي، دوی سوله غواړي. د دوی په نظر له کوم جوړجاړي پرته د دوی اساسي حقوقو ته لاسرسی سوله ده. دوی اضافه کړه چې سوله یوازې د دولتضد عناصرو سره د جګړې پای نه ده، بلکې د ټولو هغو ملي او نړیوالو خنډونو له مینځه وړل دي چې بنسټیزو حقوقو او خدماتو ته په لاسرسي کې خنډ جوړېږي.

دا تعریفونه د سولې په اړه د طالبانو له لیدلوریو او تعریفونو سره توپیر لري. د طالبانو اعلامیې د افغانستان اسلامي امارت په بیا واکمنېدو ټینګار لري، داسې رژیم چې په ښځو یې فشار راوړی و او د دوی حقوق یې تر پښو لاندې کړي وو او تر خپلو کورونو یې محدودې کړې وې. د طالبانو اعلامیې اوس هم د ښځو د تعلیم او ټولنیزو سیاسي حقوقو په اړه څه نه وایي کله چې هڅه کېږي ترڅو دوی مخاطب کړل شي، دوی په ځیرکۍ سره ناڅرګند او مبهم لیدلوری لري. د بېلګې په توګه، د نیویارک ټایمز په یوه ګڼه کې، د طالبانو مرستیال مشر، سراجالدین حقاني، د ښځو حقوقو په اړه ګونګه لیکنه کړې وه، «موږ به په ګډه هڅه وکړو چې داسې اسلامي نظام جوړ کړو ترڅو د ټولو افغانانو حقوق په کې مساوي وي، په داسې حال کې چې (د زدهکړې له حق څخه تر دندې کولو حق پورې) ښځو ته ورکول شوي اسلامي حقوق به وساتل شي.»[۱۲۲] د حقاني خبرې ګونګې وې او د ښځو حقوق یې د طالبانو اسلامي نظریې او د دوی لهلوري د اسلام په تفسیرولو پورې تړلي وو او چې له شک پرته ښځې د خپلو حقوقو د ضایعکېدو په اړه د طالبانو پخوانی پل ته په پام سره ددې مخالفت کوي او اندېښمنې دي. ددې برعکس، د افغانستان اوسنی اساسي

۱۲۲ حقاني، سراجالدین. ۲۰۲۰، د مارچ ۲۰مه. موږ طالبان څه غواړو. نیویارک ټایمز. د لاسرسي نېټه: د جولای ۲۲، ۲۰۲۰. پته: https://www.nytimes.com/۲۰۲۰/۰۲/۲۰/opinion/taliban-afghanistan-war-haqqani.html?searchResultPosition=۲۲.

قانون، ښځو ته له سرېو سره یو ډول، د زده‌کړې، دندې او سیاسي ګډون حقوق ورکوي او تضمینوي. په حقوقو کې د دا ډول زېږو (شدیدو) توپیرونو پربنسټ، چې طالبان یې وړاندې کوي او د افغانستان اساسي قانون پر بنسټ تضمین او ساتل شوي دي؛ دا اریانوونکې نه ده چې دوی به داسې سوله غوره کړي ترڅو ښځو ته برابر ارزښت ورکړي او ښځو لپاره د زده‌کړې، روغتیا او سیاسي ګډون حق تضمین کړي.

### د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه

په دې برخه کې، موږ د سولې په تړاو دوه دولتي او غیر دولتي میکانیزمونه سره پرتله کړي دي. ددې څېړنې په منځپانګه کې، دولتي میکانیزم د دولتي پالیسیو هغو لیکلو برخو ته کارول شوی، چې د ملي مصالحې عالي شورا (HCNR) بلل کېږي، په داسې حال کې چې غیر دولتي میکانیزمونه بیا هغو شبکو او اړیکو ته کارول شوي چې په ملي او ولایتي کچه رامنځته شوي ترڅو د سولې اړوند خبرې اترې او د شخړو هواري اړوند چارې پرمخ یوسي او په کې د ښځو ونډه معلومه کړي.

### دولتي میکانیزم

لکه څرنګه چې مخکې په ریپورټ کې ذکر شول، د ولسشمر له لوري د ۲۰۱۹ز. کال په مینځ کې د سولې عالي شورا ړنګه او د سولې په چارو کې د دولت وزارت یې پر ځای رامنځته شو. د ۲۰۲۰ زیږدیز کال په مې میاشت کې، د ټاکنیزې لانجې د هواري سیاسي هوکړه‌لیک، د ملي مصالحې عالي شورا رامنځته کړه، چې په ملي کچه یوازینی دولتي میکانیزم دی. ددې شورا د رامنځته کولو موخه دا وه چې له طالبانو او نورو دولتضد ډلو سره د مخامخ خبرو لپاره یوه لاره پیدا کړي او مذاکراتي ډلې ته مشوره ورکړي او سرې کرښې ورته ځانګړې کړي.

که څه هم په سولې عالي شورا کې ښځو ونډه درلوده، خو ډېره لږه او نندارېزه وه. نوموړې شورا په ولایتي کچه فرعي کمېټې درلودې او په هره یوه کمېټه کې، یو شمېر ښځینه غړې وې، چې دا شمېر په ولایتونو کې توپیري و. د بېلګې په توګه په ننګرهار کې، ددغو کمېټو د ښځینه غړو ونډه بیخي نندارېزه وه او لکه یوازې مېلمنې داسې وې. د ښځو د محسوس یا واقعي ګډون نشتون په دې معنی و چې ډېری مرکه‌کېدونکي په دې خبر نه وو چې په سولې کمېټه کې ښځینه غړې شته او که څنګه.

د نورو ولایتونو د سولې په ولایتي کمېټو کې د ښځو شتون هم کوم ځانګړی توپیر نه درلود. د بېلګې په توګه، په بلخ ولایت کې، د سولې کمېټې د سولې په خبرو کې د ښځو ګډون لپاره کومه ځانګړې تګلاره نه درلوده. که څه هم، ددغې کمېټې لپلارې، ځینو ښځو مشرولي ترلاسه کړې وه او ځینې نورې یې د سولې په مسایلو کې روزلې وې. له دې پرته، دوی په سیمینارونو او ورکشاپونو کې د مېلمنو حیثیت درلود. د بامیانو ولایتي کمېټې له ۲۸ غړو څخه یوازې یوه یې ښځه وه، چې یوازې ښځینه اړوند مسایلو کې د شخړو هواري محدوده دنده یې درلوده او په ورکشاپونو او سمینارونو کې یې د مېلمنې په څېر ونډه اخیسته. په همدې ډول کابل کې هم د ښځو ونډه نته وه او دوی له اصلي بحثونو لرې ساتلې کېدې، آن له ۷۰ غړو څخه یوازې ۹ یې ښځې وې. په کابل کې له ښځینه مرکه‌کېدونکو سره د خبرو پر مهال، دوی په څرګنده وویل چې په سولې شورا کې د خپلې ونډې په اړه راضي نه دي. دوی اضافه کړه، چې حکومت په سولې خبرو اترو کې د ۳۰ سلمه ښځینه ونډې ادعا کوي، خو په عمل کې دا له حقیقته لرې خبره ده.

آن د بامیانو او کابل په څېر نسبتاً لیبرال ولایتونو کې هم، د نورو لاملونو ترڅنګ، ښځو د ګډون د متداوم کمښت لپاره ژور دودیز او محافظه وضعیت هم یو لامل ګڼل کېدای شي.

که څه هم په سولې عالي شورا کې ښځو غړیتوب ترلاسه کړی و، خو د نارینه‌وو له لوري د دوی د اغېز ښندلو د وړتیا ممانعت کېده، ځکه نارینه‌وو غوښتل چې د دوی ونډه دې یوازې حاشیوي او نندارېزه وي. له دغو خنډونو سره سره، ښځې په دې توانېدلې وې چې خپل ځان د فعالو غړو په توګه ثابت کړي او د ټولنې له نارینه او ښځینه غړو سره اړیکې جوړې کړي، که نه نو له یاده وېستل شوې وې.

## غیر دولتي میکانیزم

دا ببیخي څرګنده ده چې ښځو د ملي پخلاینې په بهیر کې د دولتي میکانیزم له‌لارې ډېر زیات نندارېز رول درلود. که څه هم، ځینې مثالونه شته چې ښځو د ملي پخلاینې په بهیر کې فعال رول درلود. د ډېټا راټولو پرمهال، د ځینو دولتي میکانیزمونو له‌لارې، ښځو د سولې په بهیر او شخړو هواري کې مستقیم او خوځنده رول درلود. په دغو میکانیزمونو کې جرګې او ځایي شوراګانې شامل دي.

په ننګرهار کې له جرګو او مدني ټولنو وراخوا، د ولایت د علماؤ له‌لوري یو شمېر ځایي شوراګانې رامنځته شوې وې چې موخه یې د شخړو هواری او د سولې د هڅو ملاتړ و. په خورا جالبه توګه، په دغو شوراګانو کې د سړیو په ملاتړ، ښځو د سولې په هڅو او شخړو هواري کې مستقیمه ونډه درلوده. ددې سربېره، د مدني ټولنې تر سیوري لاندې، ښځو په بېلابېلو نوښتي غونډو کې ګډون درلود چې په کې روزنیزې غونډې، سیمینارونه او په ځایي کچه د سولې اړوند خبرې اترې شاملې وې. د یادونې وړ ده، ښځو په هغو قضیو کې تر نورو ډېره مستقیمه ونډه درلوده، کومو کې چې ښځې زیانمنې (قرباني) شوې وې او په دغو قضیو کې د ښځو ونډه د شخړو هوارولو په تړاو مثبت وه.

د ننګرهار اپوټه، په غیر دولتي میکانیزمونو کې، د بلخ ولایت د ښځو ونډه تر ډېره حقوقي مرستو، کورني تاوتریخوالي پورې اړوند قضیو، جنډري مسایلو او کورنیو مسایلو پورې محدوده وه. که څه هم، ډېرې کمې قضیې شته چې ښځو په کې مستقیمه اړیکه درلوده او د ملي پخلاینې په ځینو کمو هڅو کې دوی له دولتضد کسانو سره مخامخ خبرې کړې، خو دا استثناءات دي.

په بامیانو کې، د ښځو ونډه په غیر دولتي میکانیزمونو کې مخ په ډېرېدو ده. اوس، د بامیانو ښځې د پرېکړه‌کوونکو یا کلیوالي مشرانو په توګه د روغې‌جوړې په هڅو کې ونډه لري. ددې اصلي لامل د ښځو د حقوقو، د ښځو وړتیا لوړولو او د روغې‌جوړې اړوند روزنو په تړاو د عامه‌پوهاوي ډېرېدل دي. په استثنايي توګه، د ملي پخلاینې په هڅو او د مسکو او دوحې په غونډو کې له کابله یو څو ښځو ګډون کړی و. که څه هم، د دوی ونډه رسمي نه وه او یوازې نندارېزه وه. له همدې امله، ښځې په دغه بهیر کې د ګټور ګډون په تړاو مشکوکې دي. ډېری مرکه‌کېدونکو دغه ګډون ته د پروژې په سترګه کتل او په باور یې چې د ملي پخلاینې په هڅو کوم اغېز نه شي ښندلی.

د غیر دولتي ګډون دا لړ توپیري ډولونه، د ښځو د ونډه‌اخیستو د بنې او د خپلو ولایتونو د حقیقتونو د انعکاس څرګندونه کوي. لکه د کورنیو مسایلو او جنډر اړوند شخړو د هواري له‌لارې، ښځو ته فرصت برابر شوی چې خپلې وړتیاوې ثابتې کړي او په همدغه ډول قضیو کې په ځایي کچه لا ډېر اغېزمن رول ولوبوي، که څه هم دا بهیر په ملي کچه د پام وړ ګرځېدلی نه دی.

شواهد ښیي چې په دولتي جوړښت کې، د ملي پخلاینې د هڅو پېچلتیا له‌امله، یا هم ښځې د سولې له خبرو لرې ساتل شوي یا دا چې ونډه یې نندارېزه وه، چې دوی یې د ښځو حقوقو، د زده‌کړې حق او نورو خدماتو ته د لاسرسي د حق په تړاو اندېښمنې کړې دي. دوی ټینګار کوي چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ګډون او شخړو هواري په تړاو ډېری بېلګې شته، که څه هم د کوم دولتي مرستندویه بنسټ له لارې نه دي، خو دوی باید دا فرصت ترلاسه کړي چې دا ډول نورې چارې هم ترسره کړي. دولت اړ دی چې د دوی په خاطر د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون په جدي ډول ترلاس لاندې ونیسي. د یوه نندارېز رول پر ځای، ښځې باید د سولې په ملي خبرو اترو کې مثبته ونډه ولري ترڅو خپلو بنسټیزو حقوقو په اړه لا ډېر بحثونه وکړي.

د دواړو دولتي او غیر دولتي جوړښتونو له‌لارې، ښځې د سولې په چارو کې ونډه اخلي، البته د نارینه‌سیالانو په پرتله یې ونډه په لویه کچه غیر مثمره ده. چېرته چې ښځو ونډه اخیستې ده، دا ونډه‌اخیستل په دغو جوړښتونو کې ګټوره وه او دوی د ملي پخلاینې په هڅو کې خپل فعال ګډون په نېک فال نیسي ځکه کولی شي خپل غږ اوچت کړي.

### د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ګډون په اړه د خلکو انګېرنې

په افغانستان کې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه یوه ګرمه موضوع ده، خو په تړاو یې انګېرنې خورا پراخې دي چې دا ګډون څه ته وایي او څرنګه به مخکې لاړ شي. د پوهاوي، زده‌کړې، کلتور (هڅوب) او مذهب په څېر حساس فکتورونه په دغو انګېرنو باندې ژور اغېز اچوي.

په ننګرهار کې د ښځو په اړه تر ټولو ډېر عام نظر دا دی چې دوی په سیاست کې د ونډې وړتیا نه لري او په ملي پخلاینیزو هڅو او سیاسي مسئلو کې د دوی ګډون سوله ګواښي. دا نظریه تر ډېره سړي لري: خو ښځینه مرکه‌کېدونکې ورسره مخالفې دي. پخوا وختونو کې، ښځې د سولې خبرواترو او شخړو هوارې برخه وه، خو په غیر دولتي چوکاټ کې.

په ورته ډول، په تېرو دوو لسیزو کې، په ټولنیزو مسئلو کې د ښځو ګډون پراخ شوی دی او په سیاست کې د دوی شتون د خلکو پاملرنه وړ اړولې ده. د وړتیا لوړولو په تړاو، ډېرو ښځو په بېلابېلو ناستو کې ګډون کړی چې د ښځینه مرکه‌کېدونکو په وینا، د ټولنیز ژوندانه په تړاو د ګټورو معلوماتو په ورکولو سره دا چاره ډېره اغېزمنه وه. دا یو څه په دغو دلایلو ډېټه لګوي چې دوی له حکومته په پرلپسې ډول غوښتنه کوي چې ښځې د ملي پخلاینې د چارو برخه وګرځوي. ددې سربېره، په ننګرهار ولایت کې د ملي پخلاینې د هڅو له‌پاره د کور په کور پوهاوي ورکولو په موخه په اسلامي علومو د سنبالو ښځو درلودل، په ځانګړې ډول که چېرته دا د دولتضد عناصرو د کورنیو د ښځینه غړو پورې اړوندې وي، یو زړه‌راښکونکی وړاندیز و ځکه ښځې د سولې په اړه د عامه پوهاوي په لومړۍ کرښه کې درول کېږي.

په همدې ډول، د بلخ په نرواکه یا پلارواکه ټولنه کې هم د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو له ونډې سره مخالفت شته و، چې په ښځو کې د سیاسي مسایلو او سولې په تړاو د معلوماتو کمښت او وړتیا نه لرلو ادعا یې کوله. ښځو له دغو ادعاوو سره مخالفت درلود او د هغو سړیو له نظر سره یې مخالفت درلود کومو چې د خبرو پر مهال د ښځو حقوقو ترلاسه کولو اتلولي غږوله. بلخي ښځو ټینګار درلود چې پخوا دوی د شخړو په هواري کې ونډه درلوده خو یوازې نندارېزه ونډه وه. د دغو تجربې له مخې، ښځې لا هم د ملي پخلاینې په هڅو کې د خپل ګډون په اړه ډاډمنې نه دي.

د بامیان وضعیت ته په کتو، دلته ښځې، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګډون لەپاره یوې سیستماتیکې تګلارې ته په تمه دي. په بامیانو کې دوی د ښځینه حقوقو د فعالینو یوې احتمالي شبکې جوړولو باندې بحث درلود چې په واسطه به یې خپل غږونه اوچت کړي او د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون په تړاو د نەډاډمنۍ او ابهام مخنیوی وکړي.

په کابل کې، ښځې لا هم د سولې په خبرو کې له ګټور ګډون څخه بېبرخې دي. که څه هم، د ولایتونو اپوټه، په کابل ولایت کې یوه دیني عالم په دې ټینګار کاوه چې دا به ډېره ښه وي ترڅو اسلامي زده‌کړو لرونکې ښځې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو حقوقو په اړه خبرې وکړي، ځکه دا به له طالبانو سره په خبرو او د هغوی په ننګولو کې ډېر ګټور وي. له دې سره سره، ددې هیڅ ډاډمنتیا نشته چې ووایو د دیني پوهې او زده‌کړې لرونکې ښځې به د حکومت او یا طالبانو له لوري د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون لەپاره ومنل شي، ځکه د سیاست او خبرو اترو حوزه په بشپړ ډول د سړیو تر واک لاندې ده.

په لنډ ډول، ښځې اوس هم په دې باور دي چې محافظه کاره پلارواکه ټولنه اصلي خنډ دی او د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ګډون مخنیوی کوي. په هر حال، پخوا ښځې د سولې د هڅو او شخړو د هواري یوه برخه وه او په ډېرو قضیو کې دوی د سولې ښبه وه، که څه هم دا ګډون استثنایي و، خو اغېزمن و. ددې نه علاوه، په تېرو دوو لسیزو کې، ښځو ګډون کړی او خپله وړتیا یې لوړه کړې ده چې په کې په سیاسي مشارکت او د سولې هڅې شاملې دي. نو، نړیواله ټولنه او افغان دولت باید د ښځو ګټور ګډون او د سولې په هڅو کې د دوی ونډه له پامه ونه غورځوي، ددې پرځای باید دوی ته داسې ور پرانیزي چې دوی په کې په خپلو حقوقو او اندېښنو بحث وکړي.

مرکه‌کېدونکو څرګنده کړه چې د ښځو د وړتیا په اړه، چې په ټولنیزو چارو کې ګډون وکړي؛ د سړیو په باور او چلند کې تغییر راغلی دی، چې په سیاست کې د ښځو ګډون شونتیاوې یې رامنځته کړي دي. که څه هم ډېری خنډونه لا پاته دي، خو د دولت او نړیوالې ټولنې پرلپسې ملاتړ به دا خنډونه له مخې لرې کړي.

**سولې لەپاره د ښځو له لوري اخیستل شوي ګامونه**

ښځې د ملي پخلاینې په هڅو کې مساوي، مستقیم او فعال رول غواړي. شواهد ښیي چې ځیني ښځې د ملي پخلاینې د هڅو په دولتي چوکاټ کې دخیلې دي. که څه هم، دا ښکلېتیا نندارېزه ده او مرکه‌کېدونکې ښځې ورڅخه خوښې نه وې. دا چې ښځو د ملي پخلاینې په هڅو کې برابر رول نه شو لوبولی، ډېری یې غیر دولتي جوړښت ته واوښتې ترڅو خپله ونډه ځانګړې کړي او غږونه یې واورېدل شي. د بېلګې په توګه، په ننګرهار ولایت کې، ډېری ښځې د سولې شورا غړې شوې چې د بېلابېلو بنسټونو او ادارو څخه تشکیل شوې وه، ځکه دلته یې د سولې په چارو او شخړو هواري کې فعاله ونډه لرله. ددغو بنسټونو غړو و ډېری هغو ورکشاپونو او سیمینارونو کې ګډون درلود چې ملي روغې جوړې لەپاره به رابلل شوي وو، د دولتضد کسانو کورنیو ته یې په غیر مستقیم ډول د سولې پیغام لېږداوه او سولې ته یې د دوی نیت منعکساوه.

په بلخ کې، ښځو ځایي خلکو ته د عامه پوهاوي، مبارزې، ورکشاپونو، سیمینارونو او روزنیزو غونډو په څېر پراخو فعالیتونو له لارې د سولې پیغام لېږدولی دی. په دغو خبرو کې ښځو د سولې، جګړې او د ښځو پر ژوند د جګړې اغېزو په اړه معلومات وړاندې کړي دي. ددې سربېره ښځو د سولې او شخړو هواري لەپاره د ښځو شورا جوړه کړې ده. په همدې ډول، بامیاني ښځو د سیمینارونو، ورکشاپونو او کنفرانسونو له‌لارې سولې لەپاره خپل غږ اوچت کړی دی. دغه ګډون په روښانه ډول ددې زېړنال ورکړی چې ښځو د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون پرېکړه کړې ده. بایده ده چې دا ګډون د سولې دولتي هڅو ته هم سرایت وکړي او یوازې په غیر دولتي کچې پورې محدود نه شي.

په داسې حال کې چې ښځو په پورته ولایتونو کې د سولې لەپاره محدود ګامونه اخیستي دي، دوی په کابل کې یو ګام نور هم مخکې تللي او د ملي پخلاینې په هڅو کې یې د مستقیمې ونډې لەپاره لابي کړې ده. دوی له لوړ پوړو چارواکو سره یو لړ ناستې تنظیم کړي او د مدني ټولنې تر چتر لاندې یې یو شمېر غونډې کړې، تر څو د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو د ګډون مسئله راپورته کړي. په کابل کې د ښځو لەلوري پورته ډېر ګامونه اخیستل له دې امله دي چې دا د هېواد پلازمېنه او دلته د ملي یووالي حکومت او لوړپوړي پرېکړه‌کوونکي شتون لري، چې ښځو ته د زیاتو فرصتونو د برابرېدو لامل شوي، ترڅو راښکېلې کړل شي.

که څه هم ښځو د سولې په دولتي چوکاټ کې نندارېزه ونډه درلوده، خو د دوی وړتیا یې نه ده محدوده کړې او په اصل کې یې دوی متحرکې کړې دي ترڅو نوښتي حل‌لارې ومومي. که څه هم سړیو، د ښځو د پخوانۍ محدودې ونډې د لا کمولو هڅې کړې دي، خو ښځو بیا هم د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون ډېرې هڅې کړې دي. په پایله کې، دوی د خپل ګډون د ملاتړ او لابي لەپاره، ځایي خلکو او لوړ پوړو چارواکو ته رسېدلي دي، چې له‌لارې یې دوی د سولې په بهیر کې د مستقیمې ونډې غوښتنه کړې ده. د غیر دولتي جوړښتونو له‌لارې د سولې په بهیر کې ونډه اخیستل د ښځو د

غښتلې ارادې ښودنه کوي چې د ملي پخلاينې په پلوۍ د ګډون کولو هڅه کوي. د دوی هڅو ته په کتو، دولت او نړیواله ټولنه باید د ښځو د ګډون پر سر جوړجاړي (مصلحت) ته غاړه ورنکړي او پرځای دې ورته د برابر ګډون حق ورکړي.

**ننګونې او ګواښونه**

ښځې د ملي پخلاينې په هڅو کې د خپلو حقوقو د جوړجاړي د ښکارکېدو وېره حس کوي. د دغه ګواښ یوه برخه له هغه ځایه سرچینه اخلي چې دوی د دوحې او مسکو په غونډه کې په ننداریز ډول ګډون کړی و چې کوم سیاسي وزن یې نه درلود. په ننګرهار کې ښځو د قانون نه حاکمیت، اداري فساد، د پولیسو لهلوري نه ملاتړ او له پرلپسې بېعدالیتو څخه وېره څرګنده کړې ده. ددې سربېره، د دولتي کارکوونکو بېخبره او د دولتضد کسانو بنسټپال چلند د ښځو وېره لا ډېره کړې ده، چې په احتمالي ډول به د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو پر حقوقو سیوری وغوړوي.

بلخي ښځو هم د ملي پخلاينې په هڅو کې د دوی د ګډون پر وړاندې د یو لړ ګواښونو یادونه کړې ده. په دې کې پر دولت او نړیوالې ټولنې بېباوري، د ښځو پر وړتیاوو د سړیو نه باور، د حکومت په لوړو څوکیو کې د مدافعینو نه درلودل او په حکومتي څوکیو په ځانګړي ډول کلیدي پوستونو باندې د ښځو نه ګمارل شامل دي. په پایله کې، د ښځو حقوقو باندې د بحث لهپاره به ښځې ښایي مستقیم رول ونه لري. ځینې ښځې په دې باور دي چې په ټولنه کې نورې ننګونې هم شته چې د سولې په بهیر کې د ښځو د ګډون پر وړاندې ګواښ ګڼل کېږي، لکه یو متحد بنسټ نه شته چې د ښځو حقوقو لهپاره مبارزه وکړي او دغه راز کمزوی ډیموکراټیک سیسټم. بل لوري ته، بامیانۍ ښځې د ځانبسیاينې او په پرېکړهکوونکي بهیر کې د ونډه لرلو ملاتړ کوي، که څه هم د ملي پخلاينې د هڅو څخه د ویستلکېدو وېره لري.

بالاخره، د کابل ښځو یو لړ ننګونې او ګواښونه روښانه کړي دي چې ښایي د ملي پخلاينې په هڅو کې د دوی د ګډون مخنیوی یې کړی وي، په دې کې فاسد او محافظهکار سیاستوال، د لوړې کچې ناامني او نرواکه ټولنه شامل دي.

په افغانستان کې، ښځو یو لړ داسې ننګونې او ګواښونه په ګوته کړي دي چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې د دوی ګډون ګواښي. یو متحد بنسټ یا اداره چې په کې د ښځو د حقوقو مدافعین شامل وي او د ملي پخلاينې په بهیرونو کې ورشامل کړل شي او د دولت او نړیوالې ټولنې لهلوري په رسمیت وپېژندل شي؛ ددې احتمال ډېروي چې د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ونډه اغېزمنه کړي.

یو کلیدي ټکی چې د فرصتونو په تړاو دې څېړنې موندلی دا دی چې دیني زدهکړو لرونکو مېرمنو ته دې وخت ورکړل شي ترڅو د خپلو دلایلو له مخې له طالبانو سره مخامخ استدلال وکړي. مذهبي مشران له دې حقیقت سره موافق دي چې دیني نصوص د ملي پخلاينې په هڅو کې د ښځو ګډون په تړاو کوم قیودات نه لري. ددې سربېره، دود او مذهب دواړو ښځو ته د ملي پخلاينې په هڅو کې د ګډون جواز ورکړی، ځکه دا ثابته شوې چې ښه اغېزه لري. علاوه پردې، د دیني زدهکړو لرونکې مېرمنې له دیني نصوصو څخه د شخړو هواري په تړاو ډېرې بېلګې بیانولی شي. نوموړی کلیدي وړاندیز دا پوښتنه راپورته کوي چې خبرې اترې باید په مذهبي اړخ او که په حقوقي اړخ تمرکز ولري، خو د پیلوونکي ټکي په توګه کولی شي د سولې په خبرو کې د ښځو ګډون غښتلی کړي.

بل کلیدي ټکی دا و چې د طالبانو او ښځو ترمنځ ډېر خنډونه دي چې مخامخ خبرې یې ننګولي دي. لومړی، د طالبانو لیدلوري ښځو ته په خبرو اترو کې د مستقیم ګډون وضعیت ستونزمن کړی او شتون یې رد کړی دی. همدارنګه ښځې په طالبانو باور نه لري او باورمندې دي چې ښایي په راتلونکي کې دوی تړون ته ژمن پاتې نه شي. حکومت دریم خنډ دی: د سولې خبرې رښې نه دي نو ځکه ستونزمنه ده چې ښځې پرې باور وکړي او له طالبانو سره د مخامخ خبرو لهپاره کوم روښانه پلان او ستراټیجي نشته. نو ځکه په ملي پخلاینیزو هڅو کې ګډونوالې ښځې راضي نه دي. د سولې په خبرو کې د ښځو ګډون په تړاو د دولتي کارکوونکو چلند یو بل لوی خنډ دی. دا ټول د افغانستان په څېر په پلارواکه محافظهکاره ټولنه کې عموماً شته، چې د ښځو له پراخ ګډون سره مرسته نه کوي او د اوسني حالت لهپاره وضعیت تیار نه بریښي.

په لنډ ډول، په مذهبي نصوصو او دود کې د سولې په بهیر کې د ښځو ګډون په اړه کوم محدودیت نشته؛ ددې سربېره، د دود او کلتوري (هڅوبي) نورمونو پېژندل او مذهبي لرلید به د ښځو له ګډون سره مرسته وکړي. د ملي پخلاينې بهیر لهپاره د روښانه دولتي ستراټیجۍ نشتون، په طالبانو د باور مسئله، د ښځو په تړاو د د دوی لیدلوری او د اوسني حکومت پلارواکه وضعیت ښځو ته ستونزمنه کړې چې له طالبانو سره دې مخامخ خبرې وکړي.

# ۵. پایله

د سولې بهیر او د سولې راوړل له کلونو راهیسې د افغان ښځو لپاره په خپل ذات کې یوه جنجالي او ناندریزه موضوع ده، ځکه په ټولنیز او سیاسي جوړښت کې د ښځو ونډه په کافي اندازه محدوده ده. که څه هم، ښځې د سولې په خبرو اترو کې د پام وړ فعال رول لري، ځکه دوی د افغان ټولنې تر ټولو ډېره زیانمنه برخه ده. په لاندې ډول د اصلي موندنو، ننګونو او ګوابنونو په تړاو لنډ بحث دی، چې په ملي پخلاینیزو هڅو کې د ښځو ونډه په ګوته کوي.

دا د هر افغان هیله ده چې سولییز ژوند ولري، ځکه دوی له څلور لسیزو ډېرو جګړو لاامله له خپلو حقوقو او ازادیو بې‌برخې دي. په دې دوره کې، ښځو خپلو لومړنیو ټولنیزو او قانوني حقوقو ته یا هیڅ لاسرسی نه درلود او یا یې ډېر محدود لاسرسی درلود. اوسمهال، ښځې غواړي چې سولییز چاپیریال کې ژوند وکړي، هغه ځای چې دوی په کې خپلو ټولو سیاسي، ټولنیزو، قانوني او اقتصادي حقوقو ته لاسرسی ولري او له وېرې او تېرې پرته د اتباعو په توګه خپل مسؤلیت اداء کړي.

لکه یوازې د ناروغۍ نه درلودل روغتیا نه ده، همداسې یوازې د جګړې نشتون سوله نه ده. ډېری مرکه‌کېدونکو ددغه ټکي پر ځای ټولو ټولنیزو او قانوني حقوقو ته او سرېیو ته ورته ټولنیزو خدماتو ته لاسرسی سوله ګڼلې ده. څومره چې د ملي پخلاینې په هڅو کې ښځې له معنی ډک ګډون ولري، هماغومره به د سولې بعدونه راښه او غښتلي وي. دا څېړنه ښیي چې ښځې تر څومره د سولې او شخړو د هوارې په غیر دولتي میکانیزمونو کې ګډون لري، په ځانګړې ډول د سولې عالي شورا او نوروغیر رسمي میکانیزمونو لکه جرګو او ځایي شوراګانو کې. کوم ځای چې ښځو له خنډونو سره مبارزه کړې، هلته دوی داسې نوښتیزې حل‌لارې موندلي چې تر ممکنه بریده پرې بری موندلی شي؛ خو له دغو ګامونو اخیستو سره سره، ښځې د دوی مخالف جنس له لوري له معنی ډک شتون او ونډې‌اخیستو څخه محدودې کړل شوي دي.

موندنې ښیي چې ښځې، هم پخوا او هم اوس، د ملي پخلاینې په هڅو کې د ګډون له کچې ډېرې ناخوښې دي. په کلیوالي، ولسوالي او ولایتي کچه، د دوی ونډه غیر رسمي ځایي شوراګانو او جرګو پورې محدوده کړل شوې ده. په لویو قضیو یا د ښځینه حقوقو اړوند قضیو کې د دوی ونډه استثنایي ده او آن په جرګو او شوراګانو کې دوی ته د بشپړ غړي یا پرېکړه‌کوونکي په سترګه نه کتل کېږي، یوازې د یو افتخاري غړي یا د مېلمه حیثیت لري. په دولتي میکانیزمونو کې د دوی ونډه تر سیمینارونو، کنفرانسونو، روزنیزو غونډو او ورکشاپونو پورې محدوده ده او کومه اجرائیوي ونډه نه لري. ښځو د مساوي ګډون لپاره خپل غږ اوچت کړی او معنی یې د مساوي او صلاحیت لرونکې ونډې او له سرېیو سره د مساوي او پرېکړه‌کوونکي واک غوښتنه ده. ښځې د داسې ورتیا په لټه کې دي چې د روغې‌جوړې په خبرو کې د دوی د بنسټیزو حقوقو په تړاو د کېدونکو پرېکړو ملاتړ وکړي یا یې پر وړاندې ودرېږي. ددې سربېره، د ښځو لەلوري د برابرې ونډې غوښتل دا معنی هم ورکوي چې هر ډول توافق ومني یا یې رد کړي.

په ملي کچه، ښځو دولتي یا غیردولتي چوکاټونو کې کوم فعال رول نه درلود چې له دولت‌ضد وسلوالو سره مخامخ خبرې وکړي. د دوی ونډه په اوسنیو خبرو کې په نندارېزه بڼه غوره ګڼل کېده.

راټولې شوې کیسې ښیي چې ښځې د ځایي شخړو په هوارې او د سولې په خبرو کې د معنی ډک ګډون وړتیا او چمتووالی لري، د ملي کچې اپوټه (برعکس) چې دا تعامل نه لري. مرکه‌شوو ښځو د حکومت، طالبانو او نړیوالې ټولنې په چمتوالي باور نه درلود چې دوی دې د سولې په اوسنیو خبرو کې راګډې کړي، خو د دوی انتخابونه چې خپله ونډه پرې تحمیل کړي، لا هم محدود پاتې دي.

ډېری مرکه‌کېدونکو څرګنده کړې وه چې طالباني نظریه نوره د منلو وړ نه ده. دوی کتلي چې طالبانو د روان تاوتریخوالي له کبله ښودلې چې سولې ته ژمن نه دي او اضافه کړې یې ده چې طالبان څرنګه سختې جزاګانې او محدودیتونه تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې په سړو او ښځو پلي کوي. مرکه‌کېدونکو په طالبانو باور نه درلود چې ګواکې دوی دې د ښځو حقوقو او په ټولنیزو او سیاسي چارو کې د ښځو ګډون په اړه خپل نظریات بدل کړي وي او له دوی یې تمه درلوده چې د سولې په بهیر کې د ښځو پر ګډون نیوکه وکړي. مرکه‌کېدونکو ځیني نکلونه درلودل چې انفرادي اشخاص طالبانو ته ورغلي او د سولې په اړه یې ورسره خبرې کړي دي، دې کې هغه سیمې هم شاملې وې چې طالبانو پرې کنټرول درلود او له پراختیایي پروژو یې ګټه اخیسته. تراوسه دا هڅې مثبت لوري ته تللو یا سولې ته د وره (دروازې) پرانیستو لامل شوي نه دي. مرکه‌کېدونکو اضافه کړې ده چې له طالبانو سره د خبرو پر مهال د دیني نصوصو د تفسیر په اړه اجماع نشته او ویلي یې دي چې دوی لا هم په خپل نظر، چې وایي رښتیني، سوچه او مشروع دي؛ ولاړ پاتې دي.

د مرکه‌کېدونکو له قوله، دولت او طالبان د سولې په اړه متفاوت تصورات او تفسیرونه لري. اکثریت مرکه‌کېدونکو ویل چې د طالبانو له انده سوله یوازې د تاوتریخوالي ختمول دي او نارینه او ښځینه حقوق سولې سره نه تړي. ددې اپوټه، مرکه‌کېدونکو ویل چې دوی سوله د دولت او طالبانو ترمنځ داسې تړون ته وایي چې د دوی بنسټیزحقوق په کې تضمین او خوندي شي. ټول افغانان باید د اوسني سیسټم په څېر ټولنیز، پوهنیز، روغتیایي او سیاسي حقوق ولري. د سولې په تړاو د دریځونو نږدې کولو لپاره، مرکه‌کېدونکو وړاندیز کړی چې دولت او طالبان باید اسلامي تعلیماتو تفسیر بیاځلي وګوري ترڅو یوې اجماع ته ورسېږي.

تر یوې کچې، ښځې ددې وړ ګرځېدلي چې په ځایي کچه ونډه ترلاسه کړي او په ځینو برخو کې د مذهبي مشرانو ملاتړ ترلاسه کړي چې په ځایي شوراګانو کې مشري وکړي. د سولې د انسجام ټولنیزه شورا یې یوه بېلګه ده. دا شورا ښځو ته د دایمي ونډه‌ورکولو په اړه د دوديز سیستم تدریجي تکامل څرګندوي او د نورو ځایي شوراګانو اپوټه دریځ لري چې ښځو ته یوازې لنډمهالی، مشروط او یا افتخاري غړیتوب ورکوي. لکه څرنګه چې د سولې د انسجام ټولنیزه شورا یې ښودنه کوي، ښځې د شخړو په هواري او د سولې په ځایي بهیرونو کې فعاله ونډه لري چې د ټولنیزې سولې او سمون لپاره یوه کیلي ګڼل کېږي. دا بېلګې ددې ښودنه کوي چې غیردولتي سیستمونه، چې عدالتي سیستمونه هم په کې شامل دي او د اسلامي پوهانو ملاتړ هم لري؛ ورو ورو د منل‌کېدو په حال کې دي او ښځو ته اجازه ورکوي چې له دوی سره یوځای شي. که څه هم په دغو شوراګانو کې ښځو لپاره د مساوي او ګټور ګډون ترلاسه کولو لپاره د پام وړ لاره شتون لري، خو د دوی څرګندوالی باید د ملي پخلاینې په هڅو کې پرېکړه‌کوونکو لپاره یوه بېلګه وي، ترڅو ښځې په خبرو اترو کې په ګټور ډول ګډون ولري چې ټولو افغانانو ته یې ګټه ورسېږي.

# ۲. وړاندیزونه

موږ د ملي پخلاینې په هڅو کې اصلي ښکېلو ډلو ته یو لړ وړاندیزونه کړي دي. دا وړاندیزونه که څه هم هراړخیز نه دي، خو کېدای شي د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ګټورې ونډې ډاډمنولو لپاره پیلیزه نقطه وبلل شي ترڅو د خبرو اترو په بهیر کې د افغانانو حقوق په اسانۍ لیلام نه کړل شي.

**افغان دولت**

- د ښځو سیاسي مشارکت لپاره باید د ملي لومړیتوب پروګرام ته پام وشي، چې روښانه منابع او مالي سرچینې ولري څو هغو ننګونو ته د پای ټکی کېږدي، چې ښځې د هېواد په ټولو ولایتونو کې ورسره مخ دي؛ په ځایي او ملي کچه د ښځو سیاسي مشارکت پیاوړی کړي او د ټولو ملي پروګرامونو په طرحه او تطبیق کې د ښځو معنا لرونکی ګډون له ځان سره ولري.
- حکومت باید د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو له فعال ګډون ملاتړ وکړي، د سولې په مذاکراتي ټیم کې د ښځو ګډون له **۳۳** سلنه کم نه وي؛ دغه راز هغه مېرمنې په یاد ټیم کې وګماري، چې یوازې د ښځو حقونو په څېر د یو اړخ لپاره نه بلکې د ټولو افغانانو د حقونو لپاره ژمنتیا ولري. د ښځو حقوق هغه موضوع ده، چې په دې برخه کې باید د ښځو او سړیو دواړو له لوري غږ پورته شي، نه دا چې یوازې د ښځو له لوري دفاع ته پرېښودل شي.
- حکومت باید د ملي روغې جوړې په عالي شورا کې د مشرتابه تر کچې د ښځو مشارکت ته زمینه مساعده کړي، چېرته چې دوی وکولای شي د پرېکړو کولو واک ولري. لږ تر لږه د یادې شورا دوه مرستیالانې باید ښځې وي.
- حکومت باید د سولې په پروسه کې روڼتیا ته پام وکړي او د یادې پروسې د بحث ټول اړین ټکي او اجزاء دغه راز پرمختګونه له خلکو سره شریک کړي، څو د خلکو باور پر ځان پیاوړی کړي څو وکولای شي د ملي پخلاینې پروسې په وړاندې عامه افکار په خپله ګټه راوڅرخوي.

**خپلواکې نوښتګرې ښځې**

- هغه خپلواکې نوښتګرې ښځې چې د سولې او روغې‌جوړې په چارو کې فعاله ونډه لري، باید په یوځایي ډول په یوه ملي سیاسي شبکه کې د بېلابېلو ولایتونو د ښځو د یوځای‌کولو لپاره کار وکړي. دوی، باید د یوې شبکې په جوړولو سره، په ولایتي او مرکزي کچه د ملي پخلاینې په هڅو کې د خپلې ونډې او ګټور ګډون لپاره مبارزه او لابي وکړي.
- خپلواکې نوښتګرې ښځې باید په کابل کې له مستقرې نړیوالې ټولنې او طالبانو سره د نږدې اړیکو لرونکو هېوادونو سره پراخې اړیکې ولري، ترڅو د خبرو اترو په ګډون د سولې په بهیر کې د ښځو ګټور ګډون لپاره مبارزه او لابي وکړي.
- د ښځو ملي سیاسي شبکه باید پروژه نه وي، بلکې باید یوه غښتلې او پیاوړې سیاسي شبکه وي، ترڅو د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو ونډه مضبوطه، رښه او ستراټیجیکه کړي.

**مدني ټولنې**

- مدني ټولنه باید خپلې هڅې متداومې وساتي ترڅو طالبانو او دولت ته د حقوقو پر سر معاملې او د اساسي قانون د مقرراتو سپکولو په ګډون د سولې په نوم د هر ډول قبیح عمل مسؤلیت ور له غاړې کړي.
- مدني ټولنه له دې پرته چې ښځې یوازې د ښځو حقوقو پورې منحصرې کړي، باید د ملي پخلاینې په هڅو کې د هغوی د ونډې او ګټور ګډون لپاره مبارزه وکړي.
- مدني ټولنه باید په شته او نویو میکانیزمونو باندې ټینګار وکړي. دوی باید د خبرو اترو تر چتر لاندې په بېلابېلو بڼو او وړتیاوو سره د منځګړو، مرکچیانو او اهل‌خبره په ډول د ملي مصالحې له عالي شورا (HCNR) سره کار وکړي. ځینې ټکي چې مدني ټولنه یې لا ارزښتمنولی شي په کې بې‌وسلې کول، له ټولنې سره د جګړه‌مارو یوځای کېدل، عدالت، سیاسي ادغام، اوربند،... شامل دي. د مدني ټولنې ونډه ددې احتمال ډېروي چې د ملي پخلاینې هڅو ته قالب جوړ کړي او هغه ګواښونه معلوم کړي چې په هېواد کې د ښځو او نورو وګړو حقوق او د ښځو ونډه له خطر سره مخ کوي.

**نړیواله ټولنه**

- نړیواله ټولنه باید دا ومني چې د ملي پخلاینې په هڅو کې د ښځو استازولي کومه سرسري مسئله نه ده، باید مساوي او ګټور ګډون ولري ترڅو ښځې پرې د ستراتیجیک اهمیت اړوند هغه مسئلې، چې د ښځو چارو له محدودې اوړې؛ مدیریت کړي او دغه راز د پرېکړه‌کولو واک ولري.
- نړیواله ټولنه باید د سولې په بهیر کې د ښځو حقوقو او د ښځو د غږونو اورېدلو په تړاو خپل ملاتړ په څرګنده اعلان کړي. دوی باید روښانه کړي چې یوازې د هغې سولې ملاتړ کوي کومه کې چې د افغاني ټولنې ټولې خواوې شاملې وي او پیل یې له ښځو وي.
- نړیواله ټولنه باید د سولې پر پروسه د بې پرې نظارت په ګډون داسې ځانګړې تضمینونه رامنځ ته کړي، چې دا ډاډ رامنځ ته کړي، چې ښځې له یادې پروسې محرومې شوي نه دي او په دې پروسه کې معنا لرونکی رول لري.
- نړیواله ټولنه باید د ښځو ګډون او مساوي ونډې له‌پاره لابي او دفاع وکړي او داسې بېلابېلې لارې وکاروي ترڅو ډاډمنه کړي چې ښځې په خبرو کې ګډون لري او ونډه یې ګټوره یا له معنی ډکه ده.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو د ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي ور دي، او ډېرې ئې د هارد کاپي(چاپې بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی ( مولف ) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: د پولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړېښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولي | تحلیلی څېړنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږي: کله چې د افغانستان په سویل لویدیځه دښته کې اوبه وچیږی او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کېږی، څه باید وشی؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پانه |
| می ۲۰۲۰ | د هلمند خوړو زون: یوه خیالي بریا | شهلا متین | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| می ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| اپریل ۲۰۲۰ | کله چې اوبه ختمیږی: د سویل لویدیځ افغانستان د دښتو ظهور (او حتمی زوال) او پر کډوالۍ ، کوکنارو او ثبات یې اغیز | دیوید منسفیلد | | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تلفیقی څېړنه |
| اپریل ۲۰۲۰ | د کابل زون د اوبو په حوضی کې د سطحي او ځمکې لاندې اوبو تعامل | نجیب الله سدید | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | په افغانستان کې ټکنالوژۍ او بشري مرسته: په ناامنه شرایطو کېد معلوماتو راټولولو لپاره له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیسته | داکتر رودریګو مینه | | | ټولنیز ملاتړ | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۲۰ | آیا د افغانستان دولت د کوچیانو او ځایي اوسیدونکو ترمینځ په شخړه کې په بریالي ډول مداخله کولای شي؟ | داکتر انتونیو جیستوزی | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسی نوټ |
| جنوری ۲۰۲۰ | مالیه: د دولت جوړولو لپاره اړین شرط، په افغانستان کې د مالیې سیستم ته یوه کتنه | داکتر سراج الدین ایثار | | | حکومتولي | د پالیسی نوټ |
| سپتامبر ۲۰۱۹ | په افغانستان کی د کوچیانو د میشتیدنی بهیرونه او پر شخړی در هغوی اغیزی | داکتر انتونیو جیستوزی | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۸ غبرګولې | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه ادارې سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو او عملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسي نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو او عملي کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی ماليار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلي څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلي څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاري پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعي لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولي محمد کندیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعي سرچینې مدیریت | موضوعي لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامې؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو تریاکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعي سرچینې مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | جونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعي توګه بیساري: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د تریاکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | ډویډ منسفلید | √ | √ | د طبیعي سرچینې مدیریت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایي بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا ګانیش | | | جنسیت | موضوعي څېړنه |

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغې اداری له ویب پاڼی (www.areu.org.af) څخه تر لاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه اداری په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.



تیلفون: ۰۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸ (۰) ۹۳+

publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-56-3